# په ... خپل شکل څرګندیږم









## ادبي مرکې

ډاکټر محمد همایون هما

# د مرکه کوونکی په حقله

د پښتو ادب د صنفونو یو تکړه او بسیار نویس رائیټر، د مقدار او معیـ واړو حوالو، قابل قبول شخصیت، شاعری، نثر نگاری، تـ یق او تنقید ته.... نهٔ حادثاتی طور راغلے دے او نهٔ واقعاتی طور ناساپه وارد شوے دے. بلکې عملی طور، بنیادی طور او په شعوری طور ددې ټولو مرحلو نه راتېر شوے دے. د هغهٔ ژوند او فن ځان له یو داستان دے.... هغه بنیادی طور د اردو استاد دے خو زیات لیکل ئې په پښتو کښې کړی دی او کوی. هغه نورو ته اردو گرائمر ښائی، خو پخپله ئې په پښتو کښې نوم او نښان، "عظمت"، "شفقت" او "حرمت" گټلی دی. او "هسکه مېنه" ئې د علم او ادب مرکز جوړ کړے دے. د حافظ ادریس نه راواخله تر میاں تقویم الحق کاکا خېل پورې او په حاضر وخت کښې د قمر راهی او ایاز داؤدزی پورې د هما صاحب اوږد ادبی تعلق او سفر، ددې خبرې گواهی ورکړه چې مجلس اثر لری.

نورالبشر نوید

"ما ته غوږ شه" ورځپاڼه، وحدت پېښور.

(۱۹، ۲۰ جون، ۲۰۰۲ء)

بسم الله الرحمن الرحيم

# ..... په خپل شکل ځرګندیږم

## ادبی مرکې

PROPERTY OF ARIC

PROPERTY OF ACKU

ډاکټر محمد همایون هما

AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY
3 ACKU 00010172 4

ټول حقوق د لیکونکی دی




| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | .....په خپل شکل ځرګندیږم |
| لیکونکے: | ډاکټر محمد همایون هما |
| شمېر: | پنځه سوه |
| کال: | ۲۰۰۲ء |
| کمپوزر: | پیر حسن خان، مردان کمپوزنګ، بنك روډ مردان |
| سر پاڼه: | پیر وقار حسین، مردان |
| د چاپ ځائې: | دانش کتابتون ،قصه خوانی بازار پېښور |
| بیعه: | یوسل، شل روپې |
| خورؤنکے: | |

د رک

دانش کتابتون، قصه خوانی بازار پېښور

# نږون

د رومان د ښائستونو، لوړ فکره شاعر

**میجر محمد یونس خلیل** مرحوم و مغفور

په نوم.

هما

د هر چا ته په خپل شکل، څرګندیږم
آئینې غوندې، بې رویه، بې ریا یم

(رحمان بابا)

# پښتو یون

پښتویون د خپل یون له پیلولو سره سم ګڼ شمېر ګټور او ارزښتمن نښېرونه (اثار) خپاره کړي او و خپلو درنو هېوادوالو ته یې وړاندې کړي دي.

دا دی اوس دغه ټولنه د خپلو نورو پړیانو (کتابونو) ترڅنګ د ښاغلي ډاکټر همایون هما دا ګټور ادبي کتاب هم د چاپ تر ډګره رسوي او د خپلو خپرو شویو نښېرونو په لړ کښې دا بله زیاتونه هم کوي.

زموږ هیله او اومیند دی چې نور پښتانه هم سره یو شي او دغه ډول ادبي کارونو ته ملاوې وتړي. جوته او روښانه خبره ده چې په ننني پېر کښې زموږ ادب او خپل شوي کلتور ته د زیاتو خدمتونو اړتیا ده، چې باید ټول پښتانه لیکوال ورته پاملرنه وکړي.

پښتو یون یو وارې بیا ویاړې چې د ښاغلي ډاکټر همایون هما د کتاب په خپرولو سره یو ځل بیا په زبات رسوي چې دغه یون لا له مزله پاتې نه دی او که ستر څښتن کول:

## لا به ډېر ګلونه وا شي په دا باغ کښې

ستاسو پښتون ورور
لطیف جان بابی
فاراکوې، نیویارك، امریکا
۲۰۰۲ زیږیز کال

# په دې کتاب کښې


| لیک | مخ |
|---|---|
| د هما مرکې ...... محمد اقبال اقبال | ۱ |
| د غنی خان سره مرکه | ۳۳ |
| د صدیق الله رښتین ........... | ۵۳ |
| د اجمل خټك ........... | ۷۷ |
| د ایاز داؤدزی ........... | ۱۱۰ |

# "د هما مرکې"

## زما د قلم په ژبه، د هما خبرې

مرکه کوونکے : محمد اقبال اقبال

نېټه: ۲ مئی ۲۰۰۲ء

ځائې:هسکه مېنه، شېخ ملتون.

ډاکټر محمد همایون هما زما د ډېر ورو کوالی ملګرے دے او تقریبا ټول ژوند مو په ادبی هلو ځلو کښی یو ځائې تېر کړے دے. هغه زما او زهٔ د هغهٔ د پوهې، علم، دانش او ادبی قدوقامته خبر یو. زهٔ په عام ژوند کښې، هغهٔ ته هما وایم او دے خبرو کښی هم، هما ځکه لیکم چی زهٔ هغه په نورو نامو نهٔ پېژنم او پښتانهٔ هم د خپلو مشرانو په قدر پوهیږی او د احترام، عظمت، قدر او عزت د پاره ئی محترم لفظونه لری خو خوشامدګری یا درباری، د مخ مخی یا بی ځایه د سائینی په هنر نهٔ پوهېږی. هما چی د کومو معتبرو، محترمو او د قدر او عزت خاوندانو او د ادب په حواله د سترو لیکوالو د مرکو، کوم درونډ او په ادبی لحاظ پنګه ور او د پوهې او علم حاصلولو په بابله د ګټور کتاب د چاپ کولو زیار، کړاؤ او تاوان ته غاړه ایښی ده، د دې چې هر څومره تعریف، توصیف او قدر اوشی ..... کم به وی. زما چی څومره ذاتی خیال دے یا زما چې څومره مطالعه ده، د هما کتاب په دې حقله (د خپل نوعیت) ما ته انفرادی ښکاری، ځکه چې پښتو ادب کښې داسې د مرکو کتاب چاپ کول د هغهٔ ورومبے قدم دے.

انټرویو (Interview) کهٔ مونږ په لغوی معنو کښې واخلو نو

ددې مطلب دا جوړېږي چې د "دننه منظر" یا "د دننه ننداره" نو د چا سره مرکه کول، د هغهٔ د باطن او ظاهر نه خان او لوستونکی خبرول. د هغهٔ د شخصیت نه داسې پوښتنې کول چې هغه هر چا ته په شخصی، فنی او تیکنیکی لحاظ واضحه، څرګند او ښکاره شی. ددې د پاره د مرکه کؤونکی، مشاهده، تجربه، د مرکې په علم او هنر پوهه او د هاغه شخصیت د ژوند، فن، عقیدې، خوئی خصلت او نظرئې نه خان خبر ساتل د مرکې.غټه اډانه ده. دویم ضروری جز ئې د مرکه کؤونکی، شعوری لوړتیا، پوهه او علمی استعداد، کهٔ د هاغه شخصیت نه بالا نهٔ وی نو چې ورسره برابر ضرور وی. دریم جز ئې د مرکې هنر دے. کهٔ یو مرکه کؤونکے ډېره پوهه او علم لری خو کهٔ هغهٔ کښې د مرکې کولو هنر نهٔ وی نو هغه، د هاغه شخصیت کړهٔ وړهٔ، خوئی، عادتونو، د ژوند ژواك طور طریقې، د هغهٔ ادبی، فنی خدوخال په پوره ډول نهٔ شی څرګندولے او نهٔ د هاغه شخصیت نه، هاغه څهٔ راایستے شی کوم چې د مرکې د پاره د لوستونکو د دلچسپی، خوند او پټو رازونو نه، پرده اوچتوی. زهٔ د هما نه ښهٔ خبر یم چې هغهٔ کښې دا ټولې خوبیې موجودې دی. او دا خبره ئی د مرکو نه څرګنده هم ده.

د هما خواهش دے چې زهٔ دې د هغهٔ د مرکو په کتاب، سریزه اولیکم. حقه خبره دا ده چې د مرکې علمی پوهه او په هغې څهٔ لیکل، د مرکې اخستو نه ډېر ګران کار دے ځکه ما خان ته دا لار خوښه کړه چې ولې دې هما سره د مرکې په رنګی خبرې اونهٔ کړم چې د سریزې او د مرکو په کتاب، د مرکې په شکل کښې څهٔ اولیکم. هر بنیادم په خپل ټول ژوند کښې یا د ژوند په څهٔ برخه

کېښي، يو نه يو تن سره، خوږه مينه، ملګرتيا او د هغهٔ احترام او عزت کوی. ددې تعلق ساتلو، د هر چا بيل بيل خويونه، طبيعتونه څهٔ جذباتی او څهٔ سنجيده طرز عمل وی، دغې ته کهٔ مونږ د اخلاص، مروت، احترام، مينې ، د مشری کشری جذبه يا بل څهٔ وايو نو دا د مرکې يو اړخ دے، بل اړخ ئی سياسی، صحافتی يا د حکومت د يو طرفدار په حېث پوښتنې دی، دا اړخ د مرکې د اخلاص، مينې، مروت او سر لوړی په زمره کښې نهٔ راځی بلکې خپل جانبدار، يا د يو اخبار، يا د حکومت، يا سياسی مخالفت، د روزی ګټلو يو روايتی او د تجارتی عمل يوه برخه ده. زمونږ هما خپلو مرکو کښې، د خپلې ژبې، ادب، معروضی حالاتو او عصری تقاضو او د خپلو ادبی شخصياتو احترام، تقدس او قدر په نظر کښې ساتلے دے. او په زړهٔ کښې ئی په ډېره مينه ځائې کړے دے. خپله بې غرضه او بې لالچه فريضه ئی پوره کړې ده. او د هاغه بند کتاب پرانسته هم کوی چې ډېر لوستونکی ترې لا تر ننه خبر نهٔ دی. چرته ئی هم د احترام، قدر او د مينې دجذبې لمن پرېښی نهٔ ده او نهٔ ئی داسې پوښتنه کړې ده چې ښاغلے مرکه ورکوُنکے خفه کړے يا زهير کړے دے . زهٔ د خپلو دې خبرو نه پس د هما نه څو پوښتنې کوُوم چې ددې کتاب، اهميت او ضرورت، په ادب کښې څهٔ مقام او مرتبه لری او دا به په ادب کښې د ادب مئينانو له او نوی نسل له څومره سودمنه ثابته شی.

زما ګرانه ملګريه هما صاحبه! ستا مينه، قدر، احترام، عزت او ادب سره د مينې نه زهٔ خبر يم ځکه چې ما او تا د عمر څومره برخه يو ځائې تېره کړې ده، هغه زمونږ د عمرونو نه شل

یوئیشت کاله کشره ده. زما ړومبی پوښتنه دا ده چې.

*اقبال: د خپل ژوند په بابله خپلو ګرانو لوستونکو ته په تفصیل سره څهٔ اووایه چې پکښې ستا د ژوند، علم، ادب او د روزګار، تولې واقعې څرګندې شی.*

**هما**: اقبال صاحبه! کهٔ خفه کیږے نه نو ستا ددې ړومبی پوښتنې په جواب کښې به دا ووایم چې په دې کتاب ستا نه د لیك اخستو ما ضرور خواهش کړے ؤ، خو د کتاب په مندرجاتو خبرې اترې ستا د جدت طرازه طبیعت تجویز ؤ، وضاحت مې خکه اوکړو چې د خلقو زړهٔ له دا خبره رانهٔ شی چې ګنی د ادبی قهرمانانو سره په خوا کښی د اودرېدو ما خپله څهٔ کوشش کړے دے.

*اقبال: زهٔ دا خبره په ډاګه وایم چی تاسره د مرکې تجویز زما ؤ. نور وایه.*

**هما**: مهربانی. زهٔ نهٔ پوهیږم چی په دے موقع د خپل ژوند وهی راسپړدل به ترکومه حده مناست وی.

*اقبال: دا ضروری څکه ده چې ستا د ذهنی پس منظر خلقو ته پته اولګی. د هر فنکار په شا ډېر څهٔ خوندی پراتهٔ وی او عام اوخاص دواړه ترې ناخبره وی. ددې نه څان خبرول تاریخ سره وفا پالل دی. تهٔ چې دومره لویوخلقو سره خبرې کوې نو پخپله به څومره اوېوکښی ئی، زه تا پېژنم، ستا د ادبی قدوقامت نه هم خبر یم، ستا ادبی زیارونه هم زما د وړاندې دی... خو خبره په ریکارډ د راوستو ده.*

**هما**: دا ستا مهربانی ده. دا خبره ما په ننګ ناموس ګڼه کښې

چاپ شوی په خپل لاس لیك کښې هم کړې ده، دلته به ئې دوباره کړم، چې دخان په حقله دخبروپه بهانه نهٔ خو زهٔ د"پدرم سلطان بود" چغه وهل غواړم او نهٔ په ادبی ټړی کښې د خپلې کجکلاهی څهٔ دعویٰ لرم. البته دا احساس مې همیشه د "فخر کلے کور" ضرور پاتې شوے دے، چې د پښتنې قدرونو سپېڅلے نمونه، زما دمرحوم پلار سعادت خان ټول ژوند د رحمان بابا ددې شعر

د ریا خرقه ئې خداے مهٔ کړه په غاړه

رحمان کوړ دستار تړلے، قلندر دے

یو عملی تفسیر او روښانه تصویر ؤ، په کال ۱۹۱۸ء کښې ئې د دهلی د یوې پولی ټیکنیك ادارې نه په آټوموبائېل کښې د انجینئرنګ سند واخستو او بیا د خپل ملازمت په سلسله کښې، په ټول هندوستان کښې اوګرځېدهٔ، ټول عمر ئې په خپلو متو ګټلی وه. ښهٔ جائیداد ئې جوړ کړو. د ژوند ټول سهولتونه ئې نهٔ یوازې خان ته راغونډ کړی ؤو، بلکې د هغې نه ئې ښهٔ خوند هم اخستے ؤ، خو قلندر ؤ، دنیا ئې په اصلی معنو کښې سرائې ګڼلی وه او د دنیا ګټې ته به ئې د لاس ښیرې وئیل. چې وفات کېدهٔ، نو د خان نه وړاندې ئې، هر څهٔ باج کړی ؤو. نهٔ پرې هغهٔ ته څهٔ پښېمانی وه او نهٔ ئې زهٔ ګرم ګڼم، وئیل به ئې، دا هر څهٔ ما په خپل محنت ګټلی دی، او دخپل مال د حساب کتاب زحمت تاسو له نهٔ درکوُم.

***اقبال: دا هاغه خبرې دی، چې د ادب، ذوق، شعور ته وده اوفن ته ځلا بخښی او ددې نه هر څوك چرته خبر دی. ستاسو د پلار محترم څهٔ ادبی ذوق ؤ؟***

**هما**: دغې له راځم. په خپل سمی او ذهانت ئې د پښتو لیك لوست

زده کړې ؤ، او وزګار وخت کښې به ئې د پښتو او اردو دینی کتابونه دمطالعې لاندې ؤو. کله نا کله چې به ئې زړۀ له راغله نو په یو مجذوبانه کېفیت کښې به ئې خپل دروندااو خوږ اواز کښې د رحمان بابا او علی خان شعرونه وئیل

تۀ چې نۀ ګورې و ما ته، سم په څۀ
زیاتوې دغم زده ؤ، غم په څۀ

یا د علی خان دا شعر ئی په خوږ آواز کښې نن هم زما په ذهن کښې شهد څڅوی.

اے د زړۀ سلطانه، تۀ د زړۀ سلطان د چا ئی
ستا رنځوران ډېر دی، وایه تۀ درمان د چائی

دغه شان زۀ وړوکے ووم چی د خپل پلار د نفیس ادبی ذوق په واسطه، د شاعری سره اشنا شوم. په اؤم جماعت کښې مې سبق وې چې د خپل نوم سره مې د هما د تکی اضافه وکړه. وروستو بیا تاته ښۀ معلومه ده چی د خپل ګران استاد میان خېرالحق ګوهرکاکاخېل دتربیت او ډاکټر امین، محترم قمر راهی، ډاکټر حسن خان سوز ، شبیر علی باچا، اصغر لالا، عبدالجبارحامد، پیر ګوهر غونډې د درنو خلقو او د پیاوړو دانشورانو په محفلونو کښې، د ناستی پاستی او ستاسو غونډې د ګرانو او مینه ناکو ملګرو سره د ملګرتیا په برکت د ادب په خوږو پوئی شوم، د ستر عالم مرحوم میاں تقویم الحق کاکا خېل غېر رسمی شاګردی او زده کړه هم، زما د پاره د فخر خبره

*اقبال: دا خو د ادبي ذوق خبره شوه، اوس راته د خپل تعليمي سفر باره کښې ووايه؟*

**هما**: د لسم نه پس مې د څهٔ کورنی حالاتو په وجه په کالج کښې داخله وانهٔ خسته. زما مرحوم پلار ما ته وراثت کښې د رحمان بابا د ديوان او د سيد علی هجويری رح ، کشف المحجوب نه سيوا ئی نور هيڅ نهٔ ؤو پرېښودی، ما هم ددغې بې بدله او درنې، روحانی پنګې په ډاډ، د غم روزګار په ګاډی کښې په ناسته ناسته، د زده کړې سفر جاری وساتلو، ورومبےد بجلی په محکمه کښې ملازم شوم بيا د قمر راهی صاحب په وېنا پريمئير شوګر ملز مردان ته لاړم، په دغه ورځو شپو کښې به چې د مردان کالج په خوا تېرېدم او ملګری به مې کتابونه په ترخ، په تورو شېروانو کښې اوليدل نو خدائے شته، ارمان به مې اوکړو خو چې پنځهٔ شپږ کاله پس هم په دغې کالج کښې ليکچرر شوم او زما د هغې وخت کالج ته روان ملګری په خواؤشا دفترونو کښې ډائيری ډسپېچ ته ناست اوليدل نو د قسمت لوبو ته حېران پاتې شوم.

*اقبال: زهٔ دې د مرکو ددې کتاب سريزې ليکلو له ولې خوښ کړم؟*

**هما**: د خوښې هيڅ دليل اوجواز نهٔ وی خو دا به ووايم چې تهٔ ما هم ښهٔ پېژنے، د چا سره چې مې مرکې کړې دی د هغوئ د ادبي زيارونو نه هم ښهٔ خبر ئی او ددې هر څهٔ د پاسه، پخپله هم د پښتو په ادب او تاريخ يو ژور نظر لرے. ما وئيل چې، تهٔ به زما ددې کتاب ښهٔ جائېزه واخستے شے. او ستا رائې به درنه او

وقیع هم وی.

*اقبال: د رښتین صاحب،اجمل خټك صاحب، غنی خان او ایازداؤدزی نامی د ادب په اسمان ځلنده ستوری دی. او د دوئ، د ادب او ژبې په بابله د کار او زیار نه او دخدمت نه څوك انکار نشی کؤولے. ستا نور د شعروادب ملګری، مشران، نامتو او نوموړی ادیبان ډیر شته، خو تا دې کتاب له دا ځلور محترم مشران ولې غوره کړل.*

**هما:** ستا خبره بالکل صحیح ده، نور هم پیاوړی مشران او لیکونکی شته دهغوئ درانهٔ ادبی خدمات دی.ما دسیدرسو ،ل رسا، سمندر خان سمندر او د تقویم الحق صاحب سره هم مرکې کړی دی. غواړم چی د نورو درنو مشرانو سره هم مرکی اوکړم. خو تا ددغې ځلورو مشرانو د غوره کولو خبره اوکړه نو د هغې وجه دا ده چی دا ځلور واړه د شلمی پېړی د ادبی رجحاناتو په خپل خپل انداز او اسلوب کښې نمائندګی کوی.

*اقبال: لکه څنګه؟*

**هما:** هغه داسې، چې غنی خان زمونږ د سیمې د یوې داسې کورنی سره تعلق لری د کومې د مشر باچا خان سیاسی هلې خلې چې ددې خطې د تاریخ یوه اهمه برخه ده. زهٔ به دا ووایم چې د خدائی خدمتګار تحریك چې باچا خان ئی بانی مبانی ؤ، په خپله لمنه کښې ئې د پښتنو د سیاسی فکر او ادب ټول رنګونه راغونډ کړی دی، دغې تحریك په شلمه پېړی کښې د پښتو په قامی سیاست، په ادبی فکر او د نظرئې په جوړولو کښې، لوئی کار کړے

دے . او په ټول پښتو ادب ئې ډېر ژور اثرات دی. دا جدا خبره ده چې د ادبی تحریکونو په لړ کښې نهٔ پوهیږم چی ولې، ددغې تحریك ذکر نهٔ دے راغلے . نو خبره ما دا کوله چې د غنی خان په شخصیت کښې دغه اثرات څرګند دی. دویمه خبره دا چې هغه د پښتنو د ذهنی بېداری په تحریك کښې عملاً شریك ؤ. هغه د دغې تاریخی دور د ډېرې نزدې نه مشاهده کړې ده نو ما وئیل چې د هغهٔ سره په خبرو به، پوره د شلمی پېړی، د یو تهذیبی ، سیاسی او ادبی دور تصویر زمونږ مخې ته راشی، دا خو په دغه وجه.... لوئے پوهاند رښتین صاحب د افغانستان د ادبی کاروان د سر په غړو کښې ؤ، هلته د پښتو ژبې او ادب د پاره چې هر څومره کار شوے دے ، هغوئ پکښې لویه برخه درلوده. نو دا رنګ د هغهٔ سره د خبرو نه زما مقصد، په افغانستان کښې د شوی ادبی کار په حقله، معلومات ترلاسه کول ؤو. اوس به راشو داجمل خټك صاحب سره د مرکې په شا، تحریك ته..... نو هغه دا ؤ چی د اجمل خټك په ذات کښې، په قامی سیاست او د ادب ، دواړه رنګونه رابوخائے شوی دی. هغه زمونږ د ادبی تاریخ یو ډېر اهم سړے بلکی لوئے سړے دے . زهٔ اجمل خټك، د فخر افغان، عبدالغفار خان (چی په پښتنو کښی د باچا خان په نوم یادیږی ) د سیاسی فکر وارث ګنم. نو د هغهٔ د ژوند حالات او ادبی کارونه مونږ ته د پښتو د ډېرو نازکو وختونو تاریخ رابښائی. هغه په دې وخت کښې، د پښتو د نیمی پېړی نه د زیات وخت، یو ژوندے تاریخ دے . نو دے تاریخی شخصیتونو سره خبرې ډېرې ضروری وې ځکه چې دا شخصیتونه د خپل وخت ګویانه تاریخ وې. او د دوی هره خبره د

تاريخ برخه شي.

اياز داؤدزے مې څکه خوښ کړو چې د هغهٔ د خبرو نه مونږ د يوې داسې ډلې د فکر او نظرئې نه خبر شو، چې په ادب کښې نهٔ خو څهٔ په نظرياتي ډله بازۍ يقين لري ، نهٔ ئې په ذهن ذهن کښې، د څهٔ سياسي تړون تصور وی، صرف د ژبې او ادب خدمت ئې په نظر کښې وی. نو په خپل خپل رنګ کښې د انفرادي رنګ او فکر ددغې شخصيتونو سره په ادبي موضوعاتو، خبرې ما د پاره، زما د ژوند يوه يادګاري او خوشګواره تجربه وه..... تا به هم اندازه لګولے وی چې دې پيـاوړو مشـرانـو پـه ادبي موضوعاتوخبرې، کهٔ يو پله د ادبي تاريخ د نامعلومه اړخونو نه، پردې پورته کوی ورسره د هغوئ ذاتي تجربې، مشاهدې او ادبي نظرئې زمونږ د پښتو ادبي تاريخ د بيلو بيلو، فکري او نظرياتي بابونو تکميل د پاره هم ضروري وے او دی.

*اقبال: په پوښتنو کښې د مرکه کوونکې يوه دا خوبي د ستائينې وړ وی چې هغه خپلو پوښتنو کښې د خپل مرکه کوونکي شخصيت نه،هاغه څهٔ را اوباسي چې ډېر کسان ترېنه نهٔ وی خبر. د اجمل خټک مرکه کښې چې تا څهٔ پوښتنې کړې دی، ددې نه تهٔ مطمئن ئې کهٔ څهٔ نيمګړتيا محسوسوے؟*

**هما**: اجمل خټک د يو ګڼ اړخيزه شخصيت مالك دے. په يو وخت، محقق، مورخ، نقاد، شاعر، براډکاسټر.... او د ژوند غالبه برخه ئې په سياسي هلو ځلو کښې تېره شوې ده او تيرېږی. په يو

نشست کښې د هغوئ د شخصیت د ټولو اړخونو څرګندؤنه، ممکن نهٔ وه. دویمه خبره دا چې ما لکه څنګه د هغوئ سره په خبرو کښې وئیلی دی، ما صرف د هغوئ سره په ادبی موضوعاتو خبرې کړی دی. د هغوئ د سیاسی ژوند په حقله مې ترې هیڅ یوه پوښتنه نهٔ ده کړې. نو ظاهره ده چې د هغوئ د شخصیت دغه اړخ ما نه پاتې شوے دے. چې ما ارادتاً پرېښودے دے.

*اقبال: د ربنتین صاحب په مرکه کښې د "پټې خزانې" په بابله تا ډېر څهٔ معلومولے شو ایا تا وریسې خبره اوږده نهٔ کړه، کهٔ نور وضاحت دې مناسب نهٔ ګڼلو او کهٔ ربنتین صاحب ترې ډډه کړله؟*

**هما**: په دغې موضوع د خبرو نه زما مقصد د هغوئ سره بحث یا مناظره نهٔ وه. نهٔ ما د "پټې خزانې" د مخالفینو وکالت کؤو. ما دغه تپوس د ځان پوهولو په غرض کړے دے. ما کهٔ د پټې خزانې په استناد اعتراض کؤلے نو د ربنتین صاحب سره زما د هرې خبرې ښهٔ تللے او مدلل جواب ؤ. ځکه چې د "پټې خزانې" په حقله د هغهٔ دا یقین ؤ چې دا اوریجنل کتاب دے، د هغې د اصلیت په ضمن کښې، هغهٔ په هاغی وخت مناسب جواب هم راکړو او زما هم دغه هومره مقصد ؤ.

*اقبال: ایاز داؤدزے صاحب چې په ما ګران دے او زهٔ ئې په نن دور کښې د ادب په حواله، یو سند ګنړم. کهٔ چرې تا کؤلے نو د پښتو د طالبعلمانو، د نوی کول د شاعرانو، او بیا د پوهې او استفادې د پاره ادبی او علمی، پوښتنې کؤلے*

*شوے. ځکه چې د هغوی په مرکه کښې اديب شاعر، کومه تنده محسوسوی، هغه به تر ډېره حده ماته شوې وي.*

**هما:** اقبال صاحبه کهٔ تاسو فکر اوکړئ نو ددې ځلورو واړو شخصیاتو سره په خبرو کښې، ما دوه اړخه په نظر کښې ساتلے دی. وړومبے ، د شخصیت د ژوند حالات هم د هغوئ په ژبه، چې راتلونکی زمانه کښې محققینو ته، د هغوئ په حقله مستند حالات ترلاسه شی. دوئیم..... ددغی شخصیت ادبی هلې ځلې او نظریات، چی داسې د هغهٔ ادبی شخصیت او د هغهٔ فکر مخې ته راشی. نو په دغه حواله خو ما ایاز داؤدزی سره په خبرو کښې، د هغهٔ د ادبی شخصیت د لټون کوشش کړے دے . د روانو ادبی مسئلو په حقله مې د هغهٔ رائې پوښتلی ده. کېدېشی چی ما نه پکښې څهٔ خبرې پاتی شوی وی. ټولې ممکن نهٔ وې، خو ما خپل کوشش کړے دے .

*اقبال: رښتین صاحب د لیك دود په بابله څهٔ داسې وضاحت اوکړو چی د ټول پښتون قام، چی هر چرته دے، په دغه دود یو کېدل او دغه لیك دود منل، ډېره ګرانه ده. ستا څهٔ رائې ده؟*

**هما:** دا شخړه خبر لا هاغسی هم په پوره توګه نهٔ ده حل شوې، هغهٔ په خپلو خبرو کښې په افغانستان کښې رائج، د لیك دود په حقله خپل نقطهٔ نظر وړاندے کړے دے . کهٔ تا ته یاد وِی نو د باړه ګلی په سیمینار کښې هم، افغانی لیکونکو په خنو خبرو زمونږ فېصلو سره اتفاق نهٔ ؤو کړے . رښتین صاحب در اصل، هم

ددې اختلافي نکتو ذکر کړے دے. په افغانستان کښې هغوئ په دغې متفق دی، زما رائې په دې ضمن کښې دا ده چې په نوې ليك دود کښې د "ی" ګانو په دې مسئله نظر ثانی ضروری ده. هسې هم پدې کښې هر څوك، خپله خپله ډنګوی. پښتو اکېډمی، په دې معامله کښې ځان اتهارټی ګڼی. دغه فېصلې، ددغې ادارې په نګرانی کښې شوې دی. خو په اکېډمی کښې دننه ناست څنې تحقيق کاران د ايجاد بنده په رنګ، په خپلو کتابونو کښې خپله اختراعی املا چلوی او خپلې فېصلې په خپل ځان هم نهٔ لاګو کوی.

*اقبال: تا چې کوم ملګری خپلو مرکو کښې د ځان سره اخستی دی د هغوئ کردار، په دې مرکو کښې ډېر تت دے، هغوئ څهٔ زړهٔ پورے او سود منې پوښتنې نهٔ دی کړی. دا تا د ځان سره بېلګه کړی ؤو. کهٔ ستا ترې څهٔ اميد ؤ چې مرکه به درنه، خوږه او وزن داره شی.*

**هما**: وايم درته.... ربښتين صاحب په بغداده کښې زما کور ته، زما پهٔ بلنه راغلے ؤ. په دغه موقع زما زوئی عظمت هما او نورالبشر نويد هم راسره ملګری ؤو. نويد په اصل کښې دغه مرکه په ليکوال ګڼه کښې چاپ کؤل غوښتل، بيا چاپ هم شوه. د عظمت کردار پکښې دا ؤ چې هغهٔ د ټېپ رېکارډر نه دغه مرکه ټکی په ټکی رانقل کړه، زما په نيز. دا ډير ګران کار ؤ. ربښتين صاحب ضعيف ؤ. آواز ئی کمزورې رېکارډ شوے ؤ. نو دا ګران کار خو راله عظمت اوکړو ادبی سوالونه زما په ذمه ؤو. او سياست زما موضوع نهٔ ده نو سياسی پوښتنې ترې بشر نويد

وکړي. دغه د هغهٔ ذمه واري وه او هغهٔ ترسره کړه.

*اقبال:د اجمل صاحب په مرکه کښې خو هم تاسره ملګري ؤو.*

**هما:** ؤو، میاں وکیل شاه ؤ. قیوم منظر، د مثل خان راهي کشر ورور دے، د پښتو لیکچرر دے، دا کشران ما سره ؤو. ما تا ته هم ددغې موقعې د پاره د ملګرتیا خواست کړے ؤ. خو قیوم منظر چې زما په وینا د اجمل صاحب نه وخت واخستو او په فون ئې راته اطلاع راکړه نو وخت ډېر لږ ؤ. ما سره ستا د ناروغتیا احساس ؤ نو تا له مې په مختصر نوټس زحمت در نهٔ کړو. پاتې شوه زما د ملګرو د سوالونو خبره، نو چې کله هغوی مناسب ګڼلي ده تپوس ئې کړے دے. زما د اړخه په هغوی څهٔ بندېز نهٔ ؤ، پوښتنې به ئې ډېرې نهٔ وې کړې خو د هغوئ ملګرتیا او موجودګي زما د پاره د تسلی خبره وه. د هغوئ په تپوس، زما مرکه خوږه شوې هم ده او درنه شوې هم ده.

*اقبال:تا ته ښهٔ معلومه ده چې نن سبا کتاب چاپ کؤول یوه داسې جواري ده چې هر کور ئې د ببلات دے. خرچه به وکړې، ځان له به زړهٔ ستړے کړے، په پنډونو روپی به ولګئ او بیا به ئې په وېشلو هم تاوان وکړې او په بدله کښې به ئې بې شمېره تندې تریو شی. ډېر به پرې بې ځایه تنقیدونه لا سېوا کوی. ستا څهٔ خیال دے؟*

**هما:** خبره دا ده، د تنقیدونو په باره کښې وایم، په ادبی معاملو کښې اختلاف رائې په ادب د پوهه خلقو حق دے. په دې ادب وده کوی. په اختلاف رائې د چا هېڅ اعتراض نهٔ وی. زهٔ خو پرې نهٔ

خفه کېږم. عقل کل هيڅوك نهٔ وی او نهٔ په ادبی معاملو کښې هېڅ نقطهٔ نظر حرف اخر کېدے شی خو احتياط پکښې دا پکار دے چې په اختلاف رائې کښې د شائستګۍ لمن د لاسو نه او نهٔ خوئيږی. د چا په باره کښې چې خبرې کيږی د هغهٔ ادبی حېثيت، مقام او مرتبه په نظر کښې اوساتلے شی. د چا په حقله د رائې د اظهار نه وړاندې د هغهٔ د شخصيت او د کار سره واقفيت ضروری دے. زموږ مشرانو په داسې وخت کښې پښتو ژوندی ساتلی ده چې ليك ګوست ئې کفر ګڼلے شو. په خپله مری چاړهٔ راښکل ؤو. اوس کهٔ څوك راپاسی او وائی چې دهٔ بې وزنه شاعری کړې ده، کلام ئی د کمزورې تخليقی لمحو پېداوار دے. په شعر کښې ئی قصيده وئيلی ده يا دوئی د يو بل صفتونه کوی، توت ته بکيانه وائی. بل خوا غېر معروفه او مبتدی ليکونکی اسمان ته خېژوی. ددې افراط و تفريط به څهٔ وائے. تهٔ کهٔ هر چا ته هر څومره غټ پټکی په سر ږدے. ستا خوښه ده. خو د مشرانو بد خو مهٔ وايه، په ښو الفاظو کښې د هغوئ ذکر کهٔ ستا علم او پوهی ته نقصان رسوی نو غندنه خو ئې مهٔ کوه کنه. دا ياوه ګوئی ده، تنقيد نهٔ دے. په اختلاف رائې او تنقيد کښې نېك نيتی بنيادی شرط دے.

**اقبال:** د نېك نيتی اندازه به څنګه لږی؟

**هما:** د اختلاف رائې اظهار چې کومو ټکو کښې شوې وی د هغې نه..... مثالونه درته ما درکړهٔ، د قلندر مومند د افسانو په مجموعه "ګجرې" د دوست محمد کامل ديباچه اوګوره، د کامل

په کتاب "رحمان بابا"، د امير حمزه خان شينواري مقدمه اوګوره، د قند په اولنی دور کښې د اياز داؤدزی ليك "قلندر او ګجرې" اوګوره، د کامل صاحب په تصنيف "رحمان بابا" رائې ولوله. دغه د تنقيدی رويو بې مثله مثالونه دی. د نن د زلمی علم او پوهه به زياته وی خوچې تۀ نن د کومو مشرانو په کار تنقيد کوے دا د هغوئ د خدماتو برکت او نتيجه ده چې تۀ نن پښتو پښتو کوے. نو زۀ د خپلو ادبی مشراتو په شخصيت او ادبی کارونو داسې قسمه تنقيد هېڅکله نۀ شم قبلولے او نۀ زما په ليکونو د تبصرو کۀ هغه په حق کښې هم وی، حاجت نيشته.

***اقبال: ددې رويو به مخ نيوے څنګه کيږی؟***

**هما:** د مصلحت نه يا د جواب د ويرې نه په هغې خاموشی نۀ ده پکار. داسې دا خلق نور زړۀ بيا مومی، نور ګوابښ کوی نو You have to pay in the same Coins ما خو ددې رويو مخالفت په خان فرض کړے دے. دا په ادبی دنيا کښې د ګمراهيو خلاف جهاد دے. په جواب کښې ياوه ګوئی نۀ ده پکار، خو د رېکارډ درستی ضروری ده. د پښتو د اولسی دانش تقاضا دا ده چې چرته ډب وی هلته ادب وی يا کړه خلۀ په سوك سميږی، اختلاف رائې منم، د تېروتنې تصحيح منم، خو پتون وهل نۀ منم. اياز لالا وائی، خبر دے کۀ څوك هر څۀ وائی وائی دے، زۀ ورته وايم ولې به وائی، تۀ خو صوفی ئې، هميشه د هر څيز روښانه اړخ اخلے او د بل د غلطو هم جواز لټوے خو ما نه دا نۀ کيږی. ادب چې په خبرو کښې شائستګی پېدا نۀ کړی، د بل احترام اونۀ ښائی، د مشرانو د ادبی خدماتو مننه او ستائينه اونۀ شی نو دا بيا ادب نۀ دے، بې

ادبي ده. کۀ څوك زما د ادبي مشرانو په کارونو د تنقيد په بهانه سپکاوے کوي، د يوې منصوبه بندۍ لاندې د هغوئ کردار کشي ته بدې راکاږي، نو زۀ خو به ئې د پښتونولۍ په جذبه د يو زيګ پښتون په شان مخ نيوے ضرور کوم، په ليك کښې هم، په ژبه هم. پاتې شوه زمونږ په ادبي ليکونو د چا د تندو تروؤلو خبره.....، نو په دې هيڅ فرق نۀ پرېوځي. څوك چې په ښۀ نيت او د يونېك مقصد لاندې په مثبت بنيادونو کار کوي نو هغوئ ددې خبرو پروا نۀ لري.

*اقبال: تا خو هم تنقيدي ليکونه کړي دي؟*

**هما:** کړي مي دي، راهي صاحب زما مشر دے، ادبي محسن دے، په هغۀ مې "تنقيد" کړے دے. اياز لالا سره وخت وخت په وخت، په ځنې ادبي معاملوکښې اختلاف رائې لرم. د قلندر مومند په غزل مې خبرې کړي دي، خو په مجهول نومونو مې نۀ دي کړي، څرګند مې کړي دي. په دغې تنقيد کښې مې د خان پوهنې يوه زاويه او تاثر شامل کړے دے. دغې مشرانو ته هم زما د نيت اندازه وه نو ځکه ئې چرې زما په خبرو بد نۀ دي ګڼلي.

*اقبال: ستا چاپ کتابونه او ناچاپه ليکونه ؟*

**هما:** د تېرو دېرشو کالو نه کتابونه چاپ کړي وم. "طورے" زما وړومبے کتاب دے. د معاشرتي خرابو، طنزيه او مزاحيه انداز کښې د نشاندهۍ کوشش پکښې شوے دے. ما يو مزاحيه کردار تخليق کړے ؤ، "طورے" په بانګ حرم اخبار کښې به دغه ليکونه، چې زۀ په سکول کښې ؤم، چاپ کېدل، بيا مې ورته کتابي شکل ورکړو. "شوګيرې" زما شعري مجموعه ده. د

نوموړی عالم او ستر پوهاند حافظ محمد ادریس د شخصیت او د علمی کارنامو په باره کښې د مردان کالج د "شفق" خصوصی ګڼې نمبر دے. "ښاغلے" زما د استاد، زمونږ د ټولو استاد مرحوم میاں خیر الحق ګوهر کاکا خېل د ادبی کارونو یادؤنه ده. "روښانه ستورے" زما یو طویل ازاد نظم دے. "د تحقیق فن" د خپل نوعیت په پښتو کښې وړومبے کتاب دے. "ښکلی ښکلی خلق" د پښتو د ادبی نړۍ د پنځلسو نوموړو شخصیاتو په حقله کتاب دے. "په سرحدی صوبه کښې د صحافتی او ادبی مجلو روایت" د ۱۸۵۴ء نه ۱۹۷۵ء پورې ددې خطې د مجلو یو تاریخ دے. "د حمزه شینواری خطونه د هما په نوم" د خطونو مجموعه ده "په خپل شکل څرګندېږم" ستا د وړاندې کتاب دے. "د ګمانونو سیوری" زما دویمه شعری مجموعه، "څوك ئې تپوس کوی" مزاحیه لیکونه، "د پښتو ادب په ترقی کښې،د قند مجلې برخه" زما د ډاکټرېټ مقاله، "جولیس سیزر" د ولیم شیکسپئر د ډرامې ترجمه، "کنډه په کنډه" تنقیدی مضامین، زما ناچاپه کتابونه دی. "د دارا تصویر" د اسکر وائیلډ د ناول " The Picture of Dorian gray په ترجمه کار کؤم. د مرحوم میاں تقویم الحق د مقدمو تدوین او د اولف کېرو The Pathan د مقدمې ترجمه مې په منصوبو کښې شامل دی.

*اقبال: د ریډیو او د ټیلی وژن د ډرامو ذکر دې ونۀ کړو؟*

**هما:** په پنډونو دی. ما څلوېښت کاله وړاندې چې زۀ لا په سکول کښې ؤوم، په کال ۱۹٦۲ء کښې ریډیو د پاره وړومبی ډرامه ولیکله. شپږ دېرش کاله وړاندې په کال ۱۹٦۸ء کښې مې د

ټیلي وژن د پاره ډرامه ولیکله. ریډیائي ډرامه خو خېر د ډرامائي ادب برخه ګڼم خو د ټیلي وژن د پاره کار، هغه د اجمل خټک صاحب خبره "د ګېډې براس دے" هغې له زۀ څۀ اهمیت نۀ ورکوم. هغه هسې هم د یوې نامشکورې ادارې د پاره شوې کار دے. چرته چې زما او د ناپوهه، جعلي او ناخوانده لیکوالو کار ته یو شان کتلے شي.

***اقبال: وضاحت ئې لوکوټې اوکړه چې پوئې شو پرې؟***

**هما:** نا مشکوره په دې معنو کښې، چې هاغلته د ډاکټر محمداعظم اعظم، ډاکټر افضل رضا، سعد الله جان برق غونډې (زۀ ځان نۀ یادوم) د سترو او نومورو قلم کارانو سره په یو صف کښې جعلي او ناخوانده خلق هم ناست دي. پخوا داسې نۀ وه، دا دتېرو لسو کالو خبره ده چې د ټیلي وژن د ځنې پروډیوسرانو، د خپلو مخصوصو مفاداتو د پاره، د جعلي او ناخوانده خلقو سرپرستي شورو کړې ده او جعلي لیکونکي ئې پېدا کړي دي. دغې خلقو سره،چې زما د یو ډرامه نګار په حېث ذکر کیږي، زۀ دا نۀ غواړم.

***اقبال: ستا شاهکار مزاحیه پروګرامونه (ډرامې) "میم زرما" "جهوٹ کی عادت نهیں مجهے" "اورے کنه" "ما مۀ شمېره" "رنګ په رنګ" ټېلي وژن له یو انفرادي شناخت جوړ کړے دے او چرې به د خلقو هېر نۀ شي.***

**هما:** ستا غونډې یاد لیکونکي ئې چې یاد ساتي. تۀ ئې Appreciate کوے، دا زما د پاره د فخر خبره ده. زما د پاره

اعزاز دے.

*اقبال: ښه دا خو اوشوه.... پښتو ژبه د رښتين صاحب خبره چې ورکيږي، تاله کيږي، په ضد ئې کۀ يو خوا پښتون او پښتون سياست ولاړ دے نو بل خوا ئې سرکار د روزګار او علم نه اوباسي ستا څۀ خيال دے؟*

**هما:** ورور مې.... په دې کښې د سرکار پاليسي تاته هم معلومې دی او زۀ ترې هم ښۀ خبر يم. په دې پاليسو کښې د پښتو ژبې د ترقي د منصوبو هيڅ ذکر نيشته او نۀ څۀ اراده لري. هسې هغه د اشك شويي د پاره اداره نيمه کار کوی خو د هغې مشران هر وخت د مالي تنګسيا ژړا کوی. دوی د دوه کتابونو د اخستو توان هم نۀ لري. پښتو ته لا په صدو سفر، په سر پروت دے. مونږ خپل کار اوکۀ، راتلونکي پوئي شه او د هغوئ کار.

*اقبال: د اياز داؤدزي صاحب دا جواب چې "باچايانو په فارسي کښې حکومت کړے دے. ليډران مو ؤوت په پښتو کښې غواړي خو حکومت په انګريزي او اردو کښې کوی" نو هما.... زۀ هم د ثواب د پاره دا پوښتنه ستا نه کؤوم چې پښتو ژبه د تعليم نۀ شوه٬ دفتري نۀ شوه، پښتون ځان پښتون ګڼي خو پښتو نۀ ورځي، په پردي ژبه کښې د علم حصول ګرانه څۀ، چې تر ډيره حده ناممکنه او غير فطري ده. بغير د مورني ژبې د زده کړې زمونږ نوې نسل او راتلونکے نسل په تکنيکي، عملي او سائنسي علمونو کښې ترقي کؤولے شي؟*

**هما:** د انګريزي او اردو په زده کړه کښې او د هغې اهميت په

برقراره ساتلو کښې د يوې مراعات يافته طبقې د مفاداتو خبره ده. اختيار په لاس کښې د ساتلو خبره ده. هغه تاته په مورنۍ ژبه کښې د تعليم اختيار ولې درکړی بيا خو به ستا زوې د اختيار خاوند شی او د هغوئ باداری به ختمه شی. دا د مطالبو خبره نهٔ ده...... د قراردادونو خبره نهٔ ده...... په رېډيواو ټيلی وژن کښې د پښتو د وخت د اضافې د پاره د چغو سورو خبره نهٔ ده... دا د اختيار ترلاسه کولو خبره ده. او د اختيار بنياد، هغه د ريښتين صاحب خبره په اقتصادياتو ده. دا معاشی مسئله ده. په خپلو پښو اودرېږه نو تاته به ئې ضرورت او حاجت پېښ شی چې حاجت ئې درته پېښ شی نو بيا هر څهٔ کيږی. په ساده ټکو کښې به ووايم تا د نن نه لس کاله وړاندې دا تصور کؤولے شو چې پښتو به د کمپيوټر ژبه شی. دا دې ضرورت ئی پېښ شو نو د پښتو کتابونه کمپوز کيږی. د ضرورت لاندې د پښتو پروګرامونه د دنيا د هر لوئے ملك د رېډيو ستېشنو نه نشر کيږی نو زده کړه د ضرورت لاندې کيږی، د پښتو په زده کړه کښې څوك څهٔ فائده نهٔ وينی نو نهٔ ئی زده کوی. ما ته ياد دی په يوه زمانه کښې چې به د بلې صوبې نه سرکاری ملازم دلته رابدل شو نو هغهٔ ته به ئې د کال Increment هله ورکؤو چې پښتو امتحان به ئی پاس کړو يعنی پښتو به ئې زده کړه، دغې سرکاری ملازمانو به د ضرورت د پاره پښتو زده کؤوله. زمونږ يو پرنسپل ؤ... تا به هم پېژندو، خدائے دے وبخښی اوس وفات شوے دے. اطهر حسن زبيری صاحب د انګرېزی استاد ؤ، د علی ګړه نه ئې ايم.اے کړې وه. په ډېره شسته اومهينه اردو کښې به ئې خبرې کؤولې. يو ځل ئې په يو

میتهنګ کښي ما ته ووې "ته خو همایونه! پوره په بار کښې کوړ لږګیے ئي" زه د هغه دے بامحاوره جملې ته حېران پاتے شوم. وې خاندل وئیل ئي حېرانېږه مه، ما د میټرك سټېنډرډ پښتو پاس کړې ده. نو ما دا وئیل چې هر څه کېدے شي، تکنیکي، عملي او سائنسي ټول علمونه به پکښې زده کېدے شي. نو څنګه او ولې! جواب ئي دا دے ، چې ته ئي زما د بچو ضرورت اوګرځوه نو ته بیا ګوره چې زده کوي ئي او که نه.

په افغانستان کښي د طب، انجنئرنګ او نور ټول سائنسي علمونه په پښتو کښي نه ؤو؟ ضرورت ئي ؤ او زده کړه ئي عام وه. ددې ځائ نه به هلکان تله او هلته نه به ئي په طب او انجینئرنګ کښي ډګرۍ راوړے . دا مسئله به زه په دې ټکو کښې راغونډه کړم چې وړومبی مرحله مورنۍ ژبه کښي زده کړه، او دویمه مرحله دا چې ژبه، مارکیټ د قوتونو سره مربوط کول، یعنی د ګټې وټې د وسیلو سره د هغې تړون. نن که د ادبی حلقو نه بهر خلق په پښتو کښي کار، ادب، شاعري د بې کارۍ شغل ګڼي نو د هغې غټه وجه دغه ده. دلساني حقونو په پېژندګلو به دا هر څه کیږي. د انګریزي خوانو او د اردودانو تکبر او فرعونیت به هله ختمیږي چې پښتو د سرکار او د دربار ژبه شي. خو اقبال صاحب ! دا ډېره لویه مسئله ده. دا صرف په "پښتو وایه ... پښتو ولوله او پښتو لیکه" باندې نه حل کیږي. په سیاسی سطح او د اقتدار په مانو کښي به په دې، په سنجیدګی کار کؤول غواړي.

*اقبال: د پښتو رسالې، اخبارونه، ریډیو، ټي وي او نورې د ابلاغ ذریعې، د ژبې په حواله خپل فرض پوره کوي؟*

**هما**: د پښتو رسالې اخبارونه په ذاتي مد کښې خوروليې شي، دغه خلق د خپلو محدودو وسائيلو باوجود، لګيا دي لاس پښې وهي، ريډيو او ټي.وي سرکاري ادارې دي او د سرکاري پاليسي لاندې، خپل پروګرامونه ترتيب کوي، نو ددغې ادارو نه په دې معامله کښې د څهٔ انقلابي اقداماتو، توقع هسې عبث ده. څو پورې چې د پښتو زده کړه، د اولس ضرورت ؤنهٔ ګرځي، صرف په شاعري او افسانه پښتو ترقي نشي کؤلې.

***اقبال**: پښتون په "پښتو" سر ورکوي خو پښتو نهٔ ورځي ددې د پاره عام اولس له، اديب شاعر له، سياسي پښتنو ډلو له او سرکار له، کومې لارې چارې خپلول پکار دي؟*

**هما**: لکه چې وړومبي مې عرض کړے دے. په هر دور کښې ژبې د سرکاري سرپرستي نه بغير هيڅکله ترقي نهٔ ده کړې. سياسي ډلې په دې لړ کښې خپل سياست چلوي. د خدائي خدمتګار د تحريك نه پس، زمونږ هيڅ يو قامي ګوند په دې ضمن کښې چرې څهٔ کوټلي کار نهٔ دے کړے. سپوا په ستيج د نعره بازي نه، خو په دې وخت کښې د سياسي ډلو نه د پښتو د خدمت طمع لرل هسې خام خيالي ده، دغه خلق د خپلو سياسي ضرورتونو د پاره، هغه د اياز لالا خبره "ؤوټ د پښتو يا د پښتون په نوم غواړي"

***اقبال**: ددې څلورو نومونو، مرکو کښې تاته د چا په مرکه کښې اسانتيا، سکون او خوشحالي او د چا په مرکه کښې مشکلات، ذهني دباؤ او پريشاني پيښه شوې ده؟*

**هما**: اقبال خانه! دغه ټول زما مشران دي. دغې ټولو سره زما يو

PROPERTY OF ACKU 10172

جذباتي تړون او د زړۀ مينه ده. د هغوئ احترام په خپل ځائي، خو ما په دوئ کښې يو سره هم په خبرو کښې، هيڅ څۀ ذهني دباؤ نۀ دے محسوس کړے. بلکې يوه روحاني خوشحالي راته حاصله شوې ده. ټولو ماسره په ډېره خوشګوار او مينه ناك ماحول کښې خبرې کړې دي. د زړۀ وهي ئې راته پرانستي دي. هسې هم خبرې کؤول تاته پته ده چې زما دنده ده، زما کار دے، زۀ پرې روزي ګټم او چا سره په خبرو کښې ما ته چرې څۀ تکليف نۀ دے پېښ شوے. زۀ چې لا په سکول کښې ووم نو تا ته ياد نۀ دي؟ چې ما ستاسو د څومره لويو لويو مشاعرو او ادبي غونډو مېزباني کړې ده. سټېج، مائيك او خبرې دا زما شغل دے.

*اقبال: د غني خان په مرکه کښې تا صرف دوه پوښتنې کړې دي، نوره ټوله مرکه د هغۀ په جواب کښې ده. تۀ ئې پوښتنې ته نۀ پرېښودے، کۀ تا مناسب نۀ ګڼل چې پوښتنه ترې اوکړې؟*

**هما**: دا ښه شوه چې تا ددې خبرې وضاحت اوغوښتو. د غني خان سره مرکه زما دژوند يوه يادګاري مرکه وه. وړاندې هم دوه درې ځله، د هغۀ ليدو له تلے ؤوم خو داسې خبرې مې ورسره نۀ وې شوے .غني خان ډېرېذله سنج،شګفته مزاج،ابغ نبغ او مينه ناك انسان ؤ. دا مرکه ما د ټيلي وژن د څهرې د پروګرام د پاره کړې وه. د پروګرام پروډيوسر صلاح الدين ورله وړاندې لاړو چې وخت ترې واخلي، غني خان ترې تپوس وکړو چې هلکه، ماسره به خبرې څوك کوي. هغۀ ورته ووې چې زمونږ کمپئر همايون هما، په

کالج کښې استاد دے. صلاح الدین ما ته وروستو ووې چې د هما په تکی راسره غنی خان ښهٔ ګپ اولګؤو. د هغې په تانیثی شهرت ئې راسره تړوقی وکړې. بیا چې د انټرویو په ورځ مونږ لاړو نو. صلاح الدین ورته ووې چې دا هغه هما دے. غنی خان خو ډېر ذهین سړے ؤ، پوئی شو چې دهٔ به ورته د هما په تکی زما تبصره رسؤولے وی. وې نه،نه.... هما، صلاح الدین چې درته څهٔ وئیلی دی، دروغ ئې وئیلی دی، زما دامطلب نهٔ ؤ، په اصل کښې زما مطلب... ما ورته تسلی ورکړه چې جی، تاسو چې څهٔ وئیلی دی، ډېر ښهٔ مو وئیلی دی. د هغې نه پس غنی خان خوشحاله شو او په خندا کښې ئې ووې چې زهٔ خو ویرېدم چې صلاح الدین به ورانے کړی وی او تهٔ به خفه شوے وے.

د هغې نه پس غنی خان شګفته موډ کښې ووې، چې مائیك دې رادېخوا کوه چې خبرې شورو کړو. خو ګوره هما! زما د خبرو په مینځ کښې به نهٔ رادانګے، ما به بس، خپلې مخې ته پرېږدے او زه پکښې کټ کوټ هم نهٔ منم. څهٔ چې ووایم هغه به نشر کوئ. دا د غنی خان د مرکې پیشګی شرطونه ؤو، نو ځکه ما د هغهٔ په خبرو کښې مداخلت نهٔ دے کړے. هغه لګیا ؤ په خپل اثری او ساده لهجه کښې ئې، د کار خبرې کولې. او ما ورته غوږ ایښے ؤ. البته د مرکې نه وړاندې ما ورته وئیلی ؤ چې تاسوبه وړومبے د خپل ژوند حالات بیانوئ او بیا به ورپسې تاسو په خپلی شاعرۍ او د نقاشۍ په فن خبرې کوئ نو دغه شان ما د غنی خان سره مرکه ؤکړه.

*اقبال: هما صاحب! دې صاحب پورې د محترم قمر راهی*

صاحب د خلې يو شعر (چې دبل چا دے) رایاد شو.

ما ته اقا، ما ته بادار، ما ته صاحب مهٔ وایئ
ډېر ویرېدلے، د نامی د صاحبانو یمه

زهٔ یوه داسې پوښتنه کوُوم چې ستا ادبی ژوند سره تړون لری. مونږ دواړه د خپلو ځنو کورنی حالاتو له کبله د لسم نه پس نور تعلیم پرائیویټ اوکړو ورسره مو د سلو شپږو شلو روپو میاشت نوکری کولې. د کورونو تول بامبېر مو په سر ؤ. ته بیٔهٔ وې ایم . اے دے اوکړه، ایم فل دے اوکړو، په قانون کښې دې ډګری واخسته او وړاندې تر پی. ایچ. ډی لاړے. او زهٔ خپلې ناروغتیا د دارو ګانو، هسپتالونو او ډاکټرانو په هنر کښې ګېر شوم. زما پوښتنه دا ده چې کهٔ تا غوښتل نو په یوه اسانه موضوع دې ډاکټریټ کولے شو. تا د قند په ریسرچ او بیا په دې عمر کښې، ولې دومره زیار، شواخون، کړاؤ او د سر خوږی لار خوښه کړه؟

**هما:** تا ته یاد دی مونږ دواړو د بی . اے امتحان په یو ځائې ورکړې ؤ. هغه وائی کنه

ما و مجنون هم سبق بودیم در دیوان عشق
اوبه صحرا رفت و ما در کوچه ها رسوا شدیم

زهٔ خو دا نهٔ شم وئیلے چې په مونږ کښې مجنون څوك دے خو د خدائے ډېر لوئے احسان دے چې رسوائی زمونږ د دواړو په قسمت کښې نهٔ وه. تا د ژوند عملی تجربې حاصلې کړې چې هیڅ کله هم د ډګرو پامته دارې نهٔ دی. ما چې کومې ډګری حاصلې کړی دی

په دې کښې زما هيڅ لوئی نيشته. وختونو سمون خوړو او زهٔ په دغې لاره روان ؤوم، خو په قند د ډاکټريټ خبره دا ده چې کله په کالج کښې داخلې سمون اوتهٔ خوړونو زما عظيم استاد مياں خير الحق ګوهر کاکاخېل ما ته ووې چې زړهٔ ښکته پورته نهٔ کړے، کهٔ د طب ډاکټر نهٔ شوې خو زهٔ غواړم چې ته په ادب کښې ډاکټری اوکړې، زما په خيال هم هغه ساعت فرښتو د هغهٔ په وينا امين ووې او ما دغه مرحله ترسره کړه. دا مرحله په کومه طريقه ترسره شوه دا هم ډېره د خوند خبره ده. کله چې زهٔ د پی. ايچ. ډی د پاره په يونيوسټی کښې ؤوم. دغه وخت کښې زما لور ايم . بی . اے کؤله، هغه هم هغلته وه. زما زوې عظمت په ايم. ای. ايس کښې انجينئر ؤ. خو د خوند د پاره ئې په بی. ايډ. کښې داخله اخستی وه. کشر زوې مې په ميډيکل کالج کښې ؤ. يوه ورځ زهٔ او افضل رضا، خدائے دې اوبخښی ، مونږ په پی. ايچ . ډی کښې ملګری ؤو. د پښتو دشعبې نه د يو سمسټر د ټسټ نه راپاسېدو. زما لور هم د قائداعظم کالج د يوې پرچې نه راغله، د عظمت هم امتحان ؤ اوکشر زوې مې د ميډيکل کالج د يو زبانی امتحان نه رافارغ شو، چې ټول ګاډی کښې کېښناستو نو افضل رضا مسکے مسکے کېدهٔ او په شا شا ئې کتل. ما ورته وې، خير خو دے. وې يار جی ! هغهٔ به ماته "يارجی" وې، ټول ټبر خو راغے خو هغه اصلی ټبر دې لا نهٔ دې راغلے، ما وې څهٔ مطلب؟ ګوره کنه، کهٔ هغې چرته په هوم اکنامکس کښې داخله اخستی وی؟ نو خبره مې دا کؤوله چې ما په داسې حال کښې دا وروستی ډګری اخستی ده. پاتې شوه د ګرانې او اسانې موضوع خبره نو قند زما معشوقه ده.

زهٔ چې د قند او د قند د لیکونکو تصور وکړم نو په زړهٔ او ذهن کښې مې سپرلی زرغون شی، یو رومان انګېز ماحول او پرستانی جهان ته ورسم. ښکاره ده چې په هغې د کار په وخت ما یوه روحانی او وجدانی خوشحالی حاصله کړې ده زه دې ته شواخون کړاؤ یا سرخوږی نهٔ وایم.

***اقبال:** مونږ د خپلو ادبی مشرانو د خپله وسه سبوا قدر، عزت او احترام کړے دے، او څکه ئې اوس مونږ په زړونو کښې ځائې یو. دا په څنو اوسنو لیکوالو څهٔ شوی دی چې د هر مشر ګرېوان ته لاس اچوی او ځانونه څهٔ ګنړی. چې ګنی کهٔ یو نو مونږ یو. ولې دا د ادب علم، پوهه، مطالعه، مشاهده، زیار او کړاؤ د ختمو ګوګوشتو دے چې په سره ډوډی خرڅیږی؟*

**هما:** دا ددې دور المیه ده، په دې کښې هېڅ شك نیشته چې علم زیات شوے دے، پوهه سبوا شوې ده، نوې نسل زیات ذهین دے. خو د علم او پوهې سره ضروری څیز تربیت هم وی. زهٔ چې ایاز لالا سره په دې موضوع کله خبره کؤوم نوهغهٔ ما ته وائی چې د نوی نسل سره علم شته، خو د تربیت د نیشت والی په وجه بې لارې شوے دے. د لوړو انسانی قدرونو نه پکښې غالب اکثریت بې خبره پاتې دے. زهٔ، تاته معلومه ده د تېرو دېرشو کلونو نه د لیك لوست د پېشې سره منسلك یم. په دې موده کښې ما د زلمو د نفسیاتو د ډېر نزدې نه مطالعه وکړه. د دوئ په خوئی بوئی کښې ډېر زیات فرق راغلے دے. ددې یوه وجه خو دا ده چې ټول ژوند

ډېر مصنوعی شوے دے. هر انسان ددغې مصنوعیت د تقاضو د پوره کؤلو د پاره په معاشی پرېشانئ کښې مبتلا دے. نتیجه ئې دا ده چې هغهٔ ټول خاندانی هئیت ګډ وډ شوے دے. پلار د معاشی بحران په وجه، د خپل اولاد تربیت ته وزګار نهٔ دے او اولاد د خپلو مشرانو نه په ډېره اوږده ذهنی فاصله باندې ژوند تېروی. په داسې صورتحال کښې د انسانی قدرونو، اهمیت به ضرور وروکیږی. بله اهمه خبره دا ده اقبال صاحب چې زموږ د نسل خلقو ته ددې خبرې احساس زیات ځکه دے چې موږ د یو بحرانی دور پېداوار یو. تهٔ به وائے چې هغه څنګه؟ نو هغه داسې چې موږ هغه د وضعداری، د لوړو انسانی قدرونو سپېځلې نمونې، هغه دروند خویه مشران هم لیدلی دی او دا نوې په هر لحاظ ډډ نسل مو هم اولیدهٔ. نو ددغې بدلون، موږ ذهنی طور سره ډېر ګډ وډ کړی یو.

***اقبال: نننی ادب کهٔ د Abstract په نوم دے، کهٔ د علامت په نوم دے، کهٔ د جدیدیت په نوم دے، کهٔ د مغرب د تقلید په نوم دے، دا قسم ادب زموږ ژبې او ادب له وده ورکوی کهٔ د کمزنګه ئې راغورځوی؟***

**هما**: تا چې د فن د کومو اظهاراتو ذکر وکړو دا په خپل ځائې صحیح دی. ددې نه د یو قام د ذهنی سفر او پړاؤنو اندازه لګی، او په استعمال ئې د تخلیقی اصنافو د اظهاراتو له مخه لمن خوریږی. خو چې په فطری ډول او په خپل وخت ددغې استعمال اوشی. خو زما دا خیال دے چې زموږ په ادب کښې ددې استعمال

لوکوټې د وخت نه مخکښې معلومېږي.

*اقبال: څهٔ وجه ئې شته؟*

**هما**: وجه ئې دا ده چې زمونږ په معاشره کښې د خواندګۍ شرح اتهٔ نهه فی صده ده. زهٔ د پښتنې معاشرې خبره کوُوم، مونږ لا قبيلوی ژوند تېرؤو. ادب مو لا په تشريحی مرحله کښې دے. په مورنۍ ژبه کښې دتعليم د حق نه محروم يو. مونږ په ساده خبره په ګرانه پوهيږو، تهٔ لګيا ئې ما ته په اشارو، کنايو او علامتونو کښې خبرې کوې نو په دې به زهٔ څهٔ پوهه شم. ما ته خو د ژوند حقيقتونه په ساده او اسانه ژبه کښې وړاندې کوه. دا چې کوم خلق په خپلو افسانو کښې دغه چلونه کوی، دا يوه مصنوعی هڅه ده. دا تقليدی انداز دے. فطری ضرورت نهٔ دے. د فيشن په توګه د هغې استعمال زهٔ يو ذهنی ورزش ګنم. "هغهٔ د خان نه لاس بيل کړو او په خپل جېب کښې ئې کېښودهٔ".... "يا په ډېران د سترګو تورکی پراتهٔ ؤو، يو پمن سپې لګيا ؤ، په دغې خزلو کښې ئی خپله دريمه سترګه لټوله". په دې بقراطيت کهٔ تهٔ پوهه شوے ئې نو ما پرې هم پوئی کړه چې د شکرانې يو دوه نفلونه ادا کړم. دې ته اوس څوك علامتی افسانه وائی، څوك ورته جديديت وائی خو زهٔ ورته لايعنيت او محمل ګوئی وايم. دا په اصل کښې د عدم ابلاغ د تحريك برخه ده. کوم ادب چې د ابلاغ نه عاری وی نو په داسې ادب به څوك څهٔ اوکړی او داسې ادب به په ذهنی بېدارۍ کښې څهٔ کردار ادا کړی.

*اقبال: زما پوښتنې اوږدې په دې دی چې زما او ستا تعلق ډېر اوږد دے، په لنډو پوښتنو مې سود نهٔ کيږی. دا راته ووايه چې مونږ دې ژبې او ادب له څهٔ اوکړل او کوُو دا به ځائې اوئيسی؟ څوك به ترې څهٔ ذهنی وده، شعوری اوفکری*

*علم او ژبې سره د مینې د جذبې فائده پورته کړې او که نه خپر تاله او خپر ماله؟*

**هما**: د هر عمل یو رد عمل ضرور وي. مونږ چې د ادب په ډګر روان یو څهٔ کار کوؤ زمونږ د تګ د وړاندې تلې ادبي کاروان د پلونو په نخښو دي. په دغه لاره د هغوئ بل کړي لیتکي دي. چې مونږ ته ذهني رڼا راکوي. مونږ څهٔ ډېرې تورې نهٔ دي وهلې، په خپل وس پړ یو، خو اثر به ئې ضرور وي. ددې فېصله به راتلونکې زمانه کوي. اوس زهٔ یو دوه خبرې په ریکارډ راوستل غواړم.

*اقبال: وایه کومې خبرې؟*

هما : وړومبی خو دا چې ددې مرکو د ټېپ ریکارډر او د ویډیو کېسټ نه مسوده کاري یوه ډېر ګران او زړهٔ ستړې کار ؤ. زهٔ د خپل زوئ عظمت هما احسانمند یم چې هغهٔ دا مرحله د زړهٔ په مینه او توجه ترسره کړه. دوئیمه خبره دا چې، ددې کتاب اشاعت په امریکه کښې ناست زما د یو نا لیدلې مینه وال لطیف جان بابې په وجه ممکن شوے دے. زهٔ ورته د زړهٔ په مینه بابی جان وایم' دافغانستان اړی ګړی د خپلې خاورې نه ډېر لرې د مهاجرت په ژوند مجبور کړے دے. هغه یو تکړه لیکوال، ښهٔ موسیقار او د پرفارمنګ آرټ (Performing Art) یو یاد هنر مند دے. بابی جان د پښتو ژبې او ادب د ودې ګران کار ته غاړه وتړے دے. زهٔ د هغهٔ د ادبي زیارونو قدر او مننه کوُم.

*اقبال: دا دواړه خبرې ډېرې ضروري وې، ښه شوه چې تا څرګندې کړې. په اخر کښې زهٔ ستا ډېره ډېره مننه کوُوم چې د یوداسې څلورو نوموړو لیکوالو د مرکو د کتاب د پاره زما انتخاب وکړو. تا خو ما ته په دې کتاب د سریزې لیکلو وئیلي ؤو. خو ما د سریزې په ځائې ستا نه هم ستا د فن او*



محمد اقبال اقبال د هما سره په مرکو خبرې کوی

## د مرکه کوونکی سره د پوهانو یادګاری عکسونه





3193







د مرکو مسوده کار، د عظمت هما، د غنی خان سره یو یادګاری عکس

*شخصیت په بابله یوه مرکه جوړه کړه او ستا کار، زیار او خواری مې ګرانو لوستونکو ته وړاندې کړه. زهٔ ستا یو ځل بیا ډېره مننه کوم او دا دعا غواړم چې الله پاك دې ستا په شان د ژبې او ادب د خدمت جذبه لرونکی پرېوانه کړی. امین.*

**هما:** ستا هم ډېره ډېره مننه. مونږه ډېره موده پس دومره اوږده ناسته اوکړهٔ، ډېر خوند ئې اوکړو، مهربانی.

---

# غني خان سره مرکه

نېټه: ۱۴ اکتوبر ۱۹۸۸ء

ځائې: د غني خان کور، محمد ناړی، هشتنغر.

***يادؤنه:***

*عبدالغني خان چې د پښتو په ادبي نړۍ کښې د غني خان په نوم پېژندے شي، د هشتنغر په يو ياد کلي اتمانزو کښې په ديارلسم دسمبر ۱۹۱۴ء د ستر قامي مبارز خان عبدالغفار خان المعروف به باچا خان کره اوزېږېدۀ. د خان کړی اسلوب دا لوړ فکره شاعر چې د ژوند او ادب په حقله ئې خپله يوه نظريه او رويه (Approach) لرله. د شلمې صدۍ د پښتو په ادبياتو ژورې نښې ثبت کړې دی. هغه د خپل وخت يو ښۀ شاعر، ښکلے نثرنګار، د خپل انداز مصوّر، نقاش اوسنګتراش ؤ. په خلمی توب کښې ئې په قامي سياست کښې هم برخه درلوده.*

*بشري قدرونه، طنز، د انسانيت مينه او جماليات د غني خان د فکر بنيادي رنګونه دي. د پنجرې چغار، د غني پلوشې، پانوس، د غني کليات، د هغۀ شعري مجموعې دي. "خان صاحب" ئې په اردو نثر کښې کتاب دے." ګډې وډې" د پښتو طنزيه ليکونه دي. او*

*(The Pathan, A sketch)*

*په انګرېزۍ کښې يو تحقيقي اثر دے.*

*د پښتو د شعرو ادب دا ستره ستهه په شپاړلسم مارچ ۱۹۹۶ء د خپلې خوښې او رنګ د يو باوقاره او دروند ژوند نه پس په حق اورسېدۀ.*

*(هما)*

***السلام علیکم: تاسو نه ستاسو د ژوند په حقله تپوس کول هسې یو رسمي شان خبره ده، بهر حال مونږ ستاسو د ژوند حالات هم ستاسو په خلهٔ اوریدل غواړو.***

**غني خان:** زهٔ د پنځو، شپږو کالو ؤوم، چې مورمې مړه شوه، ولې خو ډېر وړوکے پاتې شو او یوه خورمې وه، هغه هم غریبه په ننکو مړه شوه، د هغې نه پس مونږ نیا لویولو، او نیکهٔ مو په ۱۹۲۱ء کښې په طاعون مړ شو. بس بیا مونږ داسې په یو بورډنګ هاؤس (کښې ؤو). اسلامیه سکول باچا خان جوړ کړے ؤ. هغه وې چې کهٔ خپل زامن ورته نهٔ راولم نو دا خلق به وائی چې د غریبانانو زامن په یو سکول کښې دی او خپل زامن ئې په ښهٔ سکولونو کښې اچولی دی نو مونږ ئې هم ورته بوتلو.

***هما: پېښور کښې؟***

**غني:** اتمانزو کښې، نور څهٔ ؤو، یو خان ورته یو کور بخلے ؤ. هلته په ټکورو به ناست ؤو. قرآن او حدیث او دا بلوغ المرام مو وې، بخاری او مسلم او مشکواة، صرف اونحوه، دا ټول اسلامی علمونه به مو وې. د باچا خان دا خیال ؤ چې زوئ ملا کومه، هغهٔ وې چې یو ملا پکار دے. دلته د ملیانو ډېر اثر دے. د هغهٔ هر یو شے سیاست اړخ ته ؤ کنه. چې INDEPENDENT وی او په خپته مور وی نو هغه حقه خبره هم کولے شی. نو د هغې د پاره ئې زهٔ په دغی کښی وروټومبلم. نو هغوئ سره زهٔ تهه لس کاله ؤوم. لسم مې هم هغلته پاس کړو نو بیا ئې دلته په کالجونو کښې نهٔ اخستو. دا Un-Recognised سکولونه ؤو. نو زمونږ وړوکوالے خو ډېر په تکلیف تېر شوے دے. هغه قیصه کول خو

هسې........ موږ نه زموږ د نوکرانو زامن هم په ښهٔ حالت کښې ؤو. موږ ډېر بد حالت کښې ؤو. هر وخت به وږی تږی او يخنی به مو کېده. درې روپۍ مياشت د بورډنگ خرڅ ؤ. په درې روپۍ کښې هغوئ موږ له څهٔ راکول او څهٔ ئې راکولے شو، کهٔ ډېره ارزانی شوه نو بيا هم څهٔ ئې راکولے شو. نو بيا مو کاکا د انګلينډ نه راغے "ډاکټر صاحب" جنګ خلاص شو. هغه راغے، نو هغهٔ بيا د بابا سره مې جنګ منګ وکړو چې تا د هلکانو زندګی تباه کړه. زموږ د فيملی نور هلکان چې ؤو، سره د ولّی او د علّی نو دوی خو ئې راواخستهٔ، د ډېره دون سکول ته ئې بوتلهٔ. نور هم درې څلور ، پنځهٔ د دوئ د عمر زموږ په خاندان کښې. نو زهٔ چونکه بيا نهم لسم کښی ؤوم نو هغهٔ وې چې ددهٔ د بوتلو څهٔ ضرورت دے. بيا د جامعه مليه (دهلی) نه مې لسم پاس کړو. بيا نو هم هغوئ واخستم، بل کالج نهٔ اخستم نو دهلی ته لاړم. هغلته هم دغه حال ؤ، هغه غريبانان ؤو، د سکول سره به پېسې نهٔ وې، ډاکټر ذاکر حسين زموږ پرنسپل ؤ. داسې زړې مړې بنګلی به ئې واخستې، په قرولی باغ کښې، په هغې کښې به ناست ؤو، اوس خو ډېر عالی شان عمارت دے د هغې. جواهر لعل ورله په لکهونو کروړونو روپۍ ورکړے. ډېره زبردسته يونيورسټی ئې جوړه کړې ده. هغه وخت کښې هيڅ نهٔ ؤو. نو زهٔ هم يو کال هلته ؤوم. بيا عربی خو ما دلته وئيلی وه. داسې به مې وئيله لکه پښتو چې وايو يا انګريزی چې وايو. نو هلته چې لاړم نو د عربی کتاب استاذ چې راکړو نو هغه ورته سباله ما ټول واؤرؤو. نو هغهٔ ما ته ووې چې "آؤ بيٹا تم سکها دو ان کو" اسلم جيراج پوری نوم ئې ؤ،

Historian ؤ مشهور. نو هغهٔ به خپل تاریخ لیکلو او ما به هلکانو ته عربی ښودله. خپل کلاس ته. بیا د امتحان په ورځ باچا خان تار اووههٔ چی راشه کلی ته، ارجنټ دے. وار مې خطا شو، په بده ورځ باندې. دغه شان امتحان مې هم پرېښودهٔ. امتحان ته یوه ورځ نیمه پاتی وه، نو چې راغلم نو وې چی بچه سقاؤ بغاوت کړے دے. ماله امان الله خان سوال جواب رالېږلے دے چی ماسره ډاکټران نیشته او Streatcher Bearers او فرسټ ایډ. بالکل هډو میډیکل ډیپارټمنټ په فوج کښې نیشته. نو زمونږ شپږ ډاکټران روان شوی دی، تیار شوی دی، ډاکټر خان صاحب ئې مشر ؤ. ددې Delegation، دوه دېرش تنه هلکان ئې ورته د کالجونو نه راوښکل. ټول فرسټ ایر سیکنډ ایر والا ؤو. نو څهٔ خو د افغانستان د سردارانو زامن ؤو، څهٔ دلته ددې خائې د خلقو ؤو. نو زهٔ پکښې هم باچا خان افر کړے ؤوم. لس زره روپی او دا یو زوئ. ما ورته وې چی دا زهٔ څهٔ ګډورے یم، ما نه دې تپوس مپوس ونهٔ کړو. خو بس واخله هن، نو جی مونږ هغه ټریننګ مریننګ وکړو، فرسټ ایډ مو زده کړو او وردی ئی راله جوړې کړې، او پټی ټول او سټریچر بېرر کښې به زخمی داسې اوچتوئ او داسی به ئې وړئ. هر څهٔ مو وکړهٔ. بیا پېرنګیانو پاسپورټونه نهٔ راکول (د هغې پورې ئی دا بند کړی ؤو) چې امان الله خان کوئیټې ته لاړهٔ، بیا کوئیټې ته هم بابا وریسې لاړهٔ، چې تهٔ مونږ سره هشنغر کښې دېره شه. ددې خائې نه به مونږ هم سرې ولېږو دې قبائیلو ته، او مهمندو کښې حاجی صاحب د ترنګزو هم دے، مشر هم دے، او خپل مو هم دے، هغه به د مهمندو لښکر

وکړی. تا به بیا په تخت کښېنوؤ. نو هغهٔ ورته ووې چې زهٔ د خپل تخت د پاره د یو پښتون یو څاڅکے وینه توېول دا کفر گڼم، او بس زهٔ به اټلی ته لاړ شم، بیا زمونږ هغه مشن پاتې شو. ما ته ئې وې چې جامعې ته لاړ شه. نو بس ما ورسره جگړه شورو کړه ، ما وې چې نهٔ ځم هیچرته نهٔ ځم، جامعې اظهر ته لاړ شه، ما وېٔ نهٔ ځم . نهٔ ملا کېږم، نو بیا کاکا هم ورته ووې چې پرېږده هسې ژوند خو دې ورته خراب کړو. پرېږده چې اوس په دې اخره خو څهٔ زده کړی، نو لندن ته ئې ولېږلم، نو هغلته یو استاد سره ؤوم. داسې کال یو نیم ورسره ؤوم. هغهٔ راته څهٔ ښوول موول نه خو، نه خپل ئې راته ښوؤل New Testament او Old Testment ، هغه خو ټول ماله راتلهٔ خو ما به عربی کښې ورته یعقوب وې، هغهٔ به جېکب وې، ما به یوسف وې، هغهٔ به جوزف وې، نو بیا ما د هغهٔ نه پاسپورټ واخستو او د هېډماسټر صاحب د اتمانزو، د هیډ ماسټر صاحب د لاس لیکلے سرټیفکېټ، چې دهٔ لسم پاس کړے دے او فلانی فلانی ژبه ورته ورځی، او دا دی او هغهٔ دی. په هغې زهٔ د امریکی یوې یونیورسټی Accept کړم. هلته کښې مې د کیمیکل انجنئرنګ په کلاس کښې د ترو جوړولو چل زده کړو، د بابا مې دا خیال ؤ چې دا ټول زمونږ د وطن دا څیزونه چې دی، دا پېرنګیان Raw Meterial وړی او هغلته کښې ئې Finish کړی، او مونږ له ئې راکړی. نو دې هر یو کسب له به زمونږ د خاندان یا خپلو پښتنو کښې یو هلك ولېږو. د ډاکټر صاحب یو زوئ ئې Traning له ولېږهٔ، مدراس ته، هغه خو راوتښتېدهٔ او ما ته ئې وې تهٔ خو راشه چل زده کوه. نهٔ څوك خبر ؤو چې په کارخانه څومره

روپی لګی، ددې څۀ چل دے ، غوڅې خو هيڅ نه، دړوند ښځه وه د خدای په حواله وه، نو هغه زۀ لاړم امريکې ته، کالج کښې ؤوم، په هغې کښې ما يو څو کاله تېر کړۀ. اخری د Practical حصه ئې چې پاتې شوه نو بيا دلته کښې زمونږ جائيداد مائيداد ضبط شو، روپی موپی هم چې چاسره وې هغوئ پرې کېښناستل. هغوئ خو وې لاړو ختم شو دوئ، زمونږ د ټول خاندان هلکان ګېر شو. خور مې يو سکول کښې ګېره شوه، انګلينډ کښې، د ډاکټر صاحب يوه لور په ډربی شائير سکول کښې ګېره شوه، مشر زوئ ئې په اکسفورډ کښې ګېر شو، زۀ امريکه کښې ګېر شوم. دغه شان ټول مونږ در په در شو، نو خبر د ډاکټر صاحب هغه زوئ چې ؤ، زما نه دوه کاله مشر هم ؤ، هغه بيا ايم ايچ هم کړے ؤ. بيا بېرسټر شوې هم ؤ. نو هغۀ څۀ کوشش موشش وکړو، مور ئې پېرنګۍ وه، نو پيرنګيان ښۀ ؤو هغۀ سره، يعنی ښۀ سلوك ئې ؤ ورسره، هغه راورسېدۀ، نو اتۀ مياشتې دلته کښې ماله د کور نۀ خط نۀ حساب هيڅ ئې نۀ ؤو رالېږلی. ډېر تکليف کښې مو هغه عمر تېر کړو، خو زما پرنسپل ؤ. زۀ هغۀ د کالج په هغې فوج کښې نوکر کړم، يونيورسټی کښې ټ کور ورته وائی کۀ څۀ وائی ورته، نو په هغې Barricks کښې به اوسېدمه. هلکانو سره په کېفيټريا کښې به مې ډوډی خوړه، او جېب خرچ له به ئې راله روپی موپی راکولے، د کالج نه به ئې راکولے. بيا چې زۀ راغلم دلته نو هغه مې واپس کړې ورته ، نو بيا هغه د ترۀ زوئ چې مې راغے جان، نو هغۀ روپی لږې شان راولېږلے ماله، زۀ پرې لندن ته رسېدے شوم بس. او ماته ئې وې چې مۀ راځه دا کورس خلاص کړه بيا راشه خو ما

ورته وې چې دا اوس نهٔ کیږی. ما باندې ډېر تکلیفونه تېر شوی ؤو، لوږې تندې. نو ما وې سر دې وخوری کورس، ځم کلی ته، هغلته به ووپې موپې راغونډې کړم، د یو کال اجاره به راغونډه کړم، دنیکهٔ بابا د مزکې مې. نو بیا به راشم، نو کورس به هم خلاص کړمه، کورس څهٔ ؤ خو هغه Practical حصه ئې پاتې وه. تهیوریټیکل خو مې ټول خلاص کړے ؤ. نو چې زهٔ دلته راغلمه بیا د باچا خان لیدو له لاړم. دلته خلقو شکایتونه ورته کول. وئیل ئې چې د پېرنګیانو جامې اغوندی. چا به ورته وې ټوپی نهٔ په سروی . خدائی خدمتګار راپسې راغلل چې هلکه تهٔ دا هېټ ولی په سروې. ما ورته وې بابا زما خپل سر دے. چی هر څهٔ پرې په سروم، تاسو پرې ولې خفه کیږئ، زما اسونه ډېر خوښ ؤو. په هغې به زهٔ دې پښتونه تلم راتلم. نو وې به ئې چې درونډ کښېنه په دې حجره کښې سم د خانانو په شان، اس باندې ټک ټك اخوا کړ کړ دې خوا .یره زهٔ هم ډېر تنګ شوم. هغوئ هم رانه تنګ شو، باچا خان ته ئې خطونه ولیکل چی دے زمونږ د ملك په رسم و رواج نهٔ پوهیږی او دادی او هغه دی. هغه چې زهٔ لاړمه. هغهٔ ماله ټکټ مکټ واخستهٔ او زهٔ ئې جواهر لعل له ورولېږلم چی دا زوئ زما ټول امریکنے شوے دے نو زهٔ ئی ووکے لېږلے ؤوم. زمونږ څهٔ لائف نهٔ ؤ، چی واړهٔ ؤو نو مور مو مړه شوه او مور مو زمونږه څهٔ عجیبه حالت کښې مړه شوې وه. زهٔ ناجوړه شوې ؤوم. باچا خان هغه په خپله سوانح عمری کښې هم لیکلی دی. هغې، یو ملا ورته وې چی تهٔ ددهٔ د کټه تاؤ شه، خان افر(Offer) کړه. ددهٔ په ځائ تهٔ به مړه شی او دې به بچ شی. بس هغې هم هغه وکړهٔ. په سباله هغه

ناجوړه شوه او زۀ بچ شومه، جوړ شومه. په دريمه ورځ زۀ د کټه پاڅېدم او هغه لاړه ګور له، ما دا نۀ منله. ښځو به دا خبرې کولې نو د باچا خان په بايو ګرافی کښې مې وليدله نو ما ؤ منله.

نو هغه بيا زۀ لاړم، جواهر لعل سره ؤوم. يو کال هلته ؤوم، اله اباد کښې، بيا د بهار Earth Quake راغلے ؤ، په ۱۹۳۵ء کښې، هغلته هيڅ انتظام نۀ ؤ. پچهتر هزار خلق خو ګورنمنټ منلی ؤو. چې مړۀ شوی دی، خو ډېر خلق مړۀ ؤو او هيڅ د Relief انتظام نۀ ؤ. هسپتال نۀ ؤ Strechers نۀ ؤو. خو هغه د پيرنګيانو وخت ؤ. هندوستانيان دغسې پراتۀ ؤو. زخميان مړۀ کېدۀ نو هغه جواهر لعل نهرو ډېر په قهر شو، هسې هم غصه ناك ؤ. هلته ئې ډېر سخت تقريرونه وکړۀ.نو چې بس راغے نو وې چې زۀ خو جېل ته روان يمه، د هغۀ لور وه اندرا، د څوارلسو پنځلسو کالو به وه، او زۀ به داسې د يويشتو دوئيشتو ؤومه. نو موږ ته ئې ووې چې ما تاسو له په ټېګور يونيورسټی کښې انتظام کړے دے. تاسو دواړه به هلته ځئ. نو بس موږ دواړه هلته لاړو بيا. هغه په کالج کښې د جينکو داخله شوه. او زۀ لاړم جرنلزم زما مضمون ؤ. ما وې زۀ دا زده کؤمه. ماله به مضمون هغه استاذ راکړو. ما به يوه ګېنټه کښې خلاص کړو او ور به مې کړو ورته. بيا به ټوله ورځ خوشے ګرځېدم چې خدايه څۀ وکړمه. هغه ټيوټر زمونږه چې ؤ (Personal Tutor) زما او د اندرا، نو هغه د ارټس کالج پرنسپل ؤ. آرټس کالج کښې د ټېګور يو ميوزك کالج ؤ. يو د Painting کالج ؤ. يو کالج اف ډانسنګ ؤ. او يو د Sculpture ؤ. نو هغه به ډېر په خراب حالت کښې ؤو، کچه کوټې وې، په

هغې کښې به اوسېدو. د پاسه پرې سپر ؤ، ماران به پکښې ګرځېدل، نو بیا زهٔ تنګ شومه. خوشې به هسې ګرځېدمه، پرنسپل له ورغلم، هغهٔ ته مې وې چې څهٔ اوکړم، نو هغهٔ وې چې څهٔ کوې هغه کوه، نو دوه درې ورځې ورغلم نو ما وې یره دا خو په لېونو اوړېدلې یمه. ماوې ښه ده نو د آرټس کالج کښې د هغوئ یو استاد ؤ. د Sculpture استاد ؤ. بس د هغهٔ سره زما دوستی شان شوه. نو هغهٔ سره زهٔ یو ورځ سټوډیو ته لاړم نو هلته سټوډنټان ناست ؤو. د ختو نه ئې څیزونه میزونه جوړول، ډېره ښهٔ خته ئې ورته جوه کړې وه، مزېداره. نوما هم راواخسته لږه شان په مېز مې کېښوده. چینډخ مې ترې جوړ کړو، کهٔ چرمبنکی، خو څهٔ مې ترې جوړ کړهٔ. نو داسې مې دوه درې څیزونه جوړ کړهٔ. نو هغوئ هغه پرنسپل ته ووې چې تهٔ راشه، دې هلك کښې خو څهٔ چل دے. نو هغه چې راغے نو ورته ئی وے چې دې خو Gifted دے او دا دی او هغه دی. خو ده تهٔ حال مهٔ وایه. بیا مونږ چې پکنك یا څهٔ باندې تلو نو وچ رنګونه به ئې راواخستهٔ د خان سره، استاذانو هم، هلکانو هم، ځکه چې د پینټنګ مینټنګ سامان خو مو نهٔ شو اوړے. په هغې به مو سکچنګ کؤو. دا کریان. دلته چې زما دغه شوے دے زهٔ خو اوس Mix کؤم. کریان، او کله نا کله آئیل کلر، کریان او پوسټرز زهٔ ګډ وډ استعمالوم نو د هغې پته نهٔ لګی. آرټسټانو ته چې ګورم نو ورته په هغې کښې بعضې Efects داسې وی چې هغه په پوسټرز کلر کښې نهٔ شی راتلے، ځکه چې ما هغه کریان استعمال کړی وی. خو دا یوه دهوکه شان ده. چې زهٔ ئې کؤم، نو د هغې نه پس بیا زهٔ راغلم د شانتی نکتین نه. بیا څهٔ

موده پس، يو كال پس مې بابا راغے ، د جهل نه راخلاص شو، نو هغې پورې زۀ ده هغوئ د يونين صدر ؤومه. نوجينكو هلكانو ورته په سرِكونو ګلونه جوړ كړۀ. ميوزك كالج راؤوتۀ، هغوئ ورته سازونه غږول او ګډېدل ورته، جينكى هلكان ټول ، نو ډېر خوشحاله شو بابا. نو واردهے ته چې راغے نو ګاندهى جى ته ئې ووې چى دا خائ زما د زوئ د پاره ټيك نۀ دے . هغه ټول بنګاليان ؤو، تور تور، دا غَنى پكښې سپين سپين د ګلاب هسې ښكارى. يه ټهيك جګه نهيں هے . ميرے غنى كيلئے وه ټهيك نهيں هے . خېر بيا هغه پرنسپل ورپسې راغے واردهے ته، او ګاندهى جى ته ئې ووې چې دا مونږ ته پرېږده، داسې هلك مونږ له په پنځوس كاله كښې نۀ دے راغلے ، ټېګور هم ورته خط وركړے ؤ، چى پرېږده دے ، دے به ارټسټ شى او ستا نوم به وشى. خو بابا مې ورته ووې چې دۀ كۀ سور رنګ په كاغذ اولګو كۀ شين ئې ولګو نو ددې هندوستان په دې نقشه كښى به څۀ فرق راشى. نو ګاندهى جى ورته ووې چې، ټهيك تو هے خان صاحب، نو دواړه بوډاكانو وے چې مۀ څه هلته، نو زۀ نه تلم. نو بيا بابا مې راته وې چې تۀ د ترو كارخانې ته لاړ شه او هلته هغه Practical حصه خلاصه كړه نو زۀ دهغې نه د ترو كارخانې ته لاړم نوكر شوم پكښې.

***هما: هغه كوم ځائ ؤ جى، هغه كارخانه؟***

**غني خان:** هغه كورا ګوګر ناتهـ، يو پى كښې وه. سيتا پور ته نزدې وه. د جواهر لعل ښځه چې د كوم ځائ وه. زۀ هلته نهه لس كاله ؤومه. نوهغلته As a Supervisor شورو شوم. بس هغې څوكې ته ئى لاړم. چيف كيمسټ شوم، او داسې انجنيئر دواړه

شومه. زهٔ Chemical Engineer یمه دواړه یمه. بیا هغلته کښې ؤومه. نو دوئ بیا دلته په تخت بهائی کښې مل جوړه ؤ، نو هسې زما هغلته دا Curiosity وه، چې یره دا پښتانهٔ به Industrial Labour شی او کهٔ نهٔ شی او څنګه به دوئ کوی او څنګه به دوئ اومنی ډسیپلن، دوئ خو داسې خودداره شان خلق دی. په مل کښې به دوئ کار څنګه کوی، نو ددغې Curiosity له وجهی نه هلته زما ډېر ښهٔ پوسټ ؤ. تنخواه مې هم ښهٔ ډېره وه. ددې ځایٔ په نسبت څلور چنده پنځهٔ چنده وه هلته. زهٔ راغلم دا مل مې هم جوړ کړو. دلته یو زهٔ ؤم او یو چیك ؤ. بالا حصار نه مې رااوښکه. دا پېرنګیانو نیولے ؤ. د جنګ ورځې وې، چې مونږ دا مل شورو کړو نو هغه خو جرمن Citizen ؤ. نو بس ما او هغه دواړه شورو شو هلته، نو جوړ مو کړو. کله نا کله به کښېناستو او خندل به مو د ځان پورې، څکه چې زمونږ ډائرکټران چی ؤو هغوئ په نټ او بولټ کښې فرق نهٔ شو کولے. هغوئ خو په دې هم نهٔ پوهېدل چې په تخت بهائی کښې خو Siding هم نیشته چې هغې باندې زیاتی د رېل هغه ډبی اودرېږی، خو یو لېن تلے دے. اوس دا مشینونه به کوزؤو کوم ځایٔ. نو هغه خو خبر په مردان کښې مو یو Siding سهی کړو نو هغه مو هغې ستېشن ماسټر ته ووې. ښه نو بیا Cranes نهٔ ؤو. نو بیا ما هغې له Crane جوړ کړو. دا هغلته اوسه پورې ولاړ دے. د پاټلی د پاسه مو اولګو، یو درې ګارډرز مو داسی اودرول، او پړی مو پکښې واچول، بیا د هغې یوه حصه څلور څلور شپږ شپږ ټنه وه. دلته د دوه نیمو ټنو نه غټه لاری نهٔ وه. هغه به مونږ په څهٔ چلونو ملونو بوتله. هغلته کښې، خو چې

مل مو جوړ کړو او روان مو کړو. اوس يوه خبره زهٔ چې هغه ډېر ضروري ده کول غواړم او هغه دا چې نوې قيوم وزير شو زمونږ منسټري لکه چې تاسو ته معلومه ده .Majority کښې وه. Absolute Majority کښې، هغه ډس مس شوه. زهٔ لاهور کښې ؤم. لياقت علی خان سره زمونږ ډېر ښهٔ تعلقات ؤو. زهٔ هغهٔ پسې ورغلم ما ته ئې ووې چې ثاسو پاکستان ورانوئ مونږ څهٔ چل وکړو، ضرور به داسې خلقو له امداد ورکؤو. ما ورته ووې چې دا تا ته چا وې چې مونږ پاکستان ورانوؤ، ما ته ئې ووې چې ستا پلار وئيلی دی چې زهٔ پاکستان ټوکړې کوم، او پښتونستان ترې جدا کؤم، ما وې هغه چرې دا نهٔ دی وئيلی، وې، تهٔ به دا ليکلی راوړے، ما وې هو سبا له به ئې درله راوړم.

اچها لے آئيں. نو زهٔ چې ترې راتلم ما وې کهٔ قيوم خبر شو، چې زهٔ داسې خط راوړم نو هغه خو ما نيسی، راپرېږدی مې نه، نو بيا به مې ترې تهٔ خلاصوے. وې نهيں نهيں ميں نهيں چهڑا سکتا. آپ خود اپنے آپ کو چهڑائيں گے. ما وې نهيں آپ کو چهڑانا هوگا. نو چې زهٔ راغلم دلته مې منډې ترړې شورو کړې. د مردان نه مې قاضی صاحب، امير محمد لالا راوستهٔ، ډاکټر امير چند، ټول راجمع شو، دلته يو بل کلے دے، زما د نيکهٔ، هغې کښې کېښناستو. مامې باباته وې چې داغلط فهمی هغهٔ ته شوې ده او ددې وجې نه قيوم خان غلطه فائده اخلی نو مونږ له دا پکار دی چې دا مونږ رفع کړو، هغه ما ته وې چې ما خو سل خله تقريرونه وکړل، ما ورته وې چې ستا تقريرونه د اټك نه اخوا نهٔ ځی، ټولې ايجنسی دهغهٔ کنټرول کښې دی. نو هغهٔ وې ښه ده، تهٔ

خط ډرافټ کړه. نو ما خط ډرافټ کړو. ما ورته وې چې ډېره اوږده قیصه نۀ وی. بیا پکښې دا وکیلان چونکې مونکې راوباسی. چونکه، چنانچه، اخوا دېخوا، ما صرف داسې ولیکل.

My Dear Nawabzada Sahib! My Idea of Pukhtunistan is an autonomous Pathan Province with-in the boundries of Pakistan.

هغه خط ما یوړۀ، قاضی صاحب هم راسره ؤ. مونږ دواړو یوړۀ، هغه اوږده قیصی ده. مونږ دې ځائ نه لاهوره پورې لس ځله گرفتار شو. قیوم خان چې خبرېدۀ، نو مونږ بیا اټک ته رسېدلے ؤو. هغۀ راپسې سکندر مرزا رالېږلے ؤ. لیاقت علی خان په گورنمنټ هاؤس کښې راته ناست ؤ. کنگهم راپسې ماښام څوك رااولېږل نو هلته ئې بیا ډی آئی جی ته وې چې سبا درته کۀ وزیر اعظم وې چې دے قېد کړه نو هم به ئې نۀ نیسې. نو ما ته ئې سردار رشید کېښنؤ. هغه دے ژوندے دے رشید، دے ډی آئی جی ؤ. او د دۀ نمبر ئې راکړو، کۀ چرته دے پولیس نیسی، نو دۀ ته رنگ (Ring) کوه. نو چې راتلو نو اټك کښې ئې اونیولو. دۀ ته مو رنگ اوکړو دۀ تانېدار ته ووې چی تۀ ئې هم پرېږده او دې پورې غاړه پورې باسه. په هغه ورځو کښې به په هاغه غاړه د پنجاب پولیس ؤ. هغوی ته ئې هم ووې. پولیس والو ډېرې معافی معافی اوغوښتی او وے چې جی مونږ ته ارډر دے، تۀ به کېمل پور ته، ډپټی کمشنر له ځے. هغلته لاړم، هغۀ راته وې چې خطونه مطونه اوښایه، ما ورته وې چې دا خو تا ته نۀ شم ښودلے دا خو سیکرټ خطونه دی. وې، ښه ده قیوم خان ته ټیلیفون کؤم، ما وې هغه ترې خبر نۀ دے. یا ئې گورنر ته اوکړه یا لیاقت علی خان ته اوکړه.

هغهٔ لیاقت علی خان ته اوکړو او هغهٔ ورته ووې چې راپرېږئی ده. نو جی، اے موټر ئې لاهوره پورې لس ځله اونیولو او لس ځله هغه سړے به راغې چې مافی غواړو خان، غلط فهمی شوې ده. او دادی هاغه دی. دهٔ ټولو ته تارونه وهلی ؤو چې دوئ کشمیر ته روان دی او اسلحه وړی، ددوئ موټر کښې بمونه دی. او نوره وسله ده پکښې. موږه د شپې لس بجې لاهور ته ورسېدو، او سحر دے ځائ نه (په خندا) ملا بانګ وخت روان شوی ؤو. چې را نیؤ به ئې او پرېښودو به ئې، نیؤ به ئې او پرېښودو به ئې. بیا په سبا لاړو لیاقت علی خان ته، هغه خط مو د باچا خان ورکړو، اوله ورځ باندې قاضی صاحب ورنهٔ کړو. دهٔ ورسره نورې خبرې مبرې کولې. بیا په دویمه ورځ يې ورکړو، هغهٔ چې اوکتهٔ، هغهٔ وې بس قاضی صاحب خبرو ته حاجت نیشته، زموږه فیصله وشوه. او ځئ اوس تاسو لاړ شئ. دغه زما په زړهٔ کښې شك ؤ، هغه خلاص شو. هغوئ چې لاړل بیا ئې ماته آواز اوکړو چې دېخوا راشه، هارټ اټیك ورته شوے ؤ. هغه ښځې ئی راته وې چې لس ملته به تېروئ زیاتې به نهٔ تېروئ. بیا ما ته راترغاړه وتهٔ او راته ئې وې چې غنی د خدائ خاطر اوکه، چې دلته راشه، دلته قحط الرجال دے، موږه سره خلق نیشته، ما ورته وې چې زهٔ هندوستان ته ځم، زما بال بچ دے. دے سیکانو ګیر کړی دی په شمله کښې. ډېر په تکلیف کښې تښتېدلی دی او هغه خوښه وه چې سترګی ئې شنې منې وې او سرونه ئې هم داسی ځړ پړ. او هغه خوابښې مې ورته د پېرنګیانو جامې واغوستې او وېښکل په دې طریقه، نو زهٔ دهغوئ لیدو له لاړم، زړهٔ کښې ښهٔ خوشحاله ؤوم، صلح صلاحیت شوے دے اوس

خو چې لاړشم ښهٔ عېش ماش به وی، ارام به وی، صلح به وی. هغه چې راغلم جی، نو بیا هله ګوله شوې وه. باچا خان ته هغه خبرې، لیاقت علی خان چې ماته کومې کړې وې هغهٔ ته رااونهٔ رسېدے . غلط فهمی پکښې پېدا شوې.

***هما: ستاسو د شخصیت ګڼ اړخونه دی ستاسو شاعری کړې ده، نقاشی کړې ده، تاسو مجسمه سازی کړې ده، خو وړومبے سوال ستاسو د شاعری په حقله، تاسو شاعری د کله نه شروع کړه؟***

غني: دا خو جی زهٔ وړوکے ؤومه. د دیارلسو څوارلسو کالو به ؤومه، چې جینګلز مینګلز به مې لیکل، خو دغه څهٔ خاص شاعری نهٔ وه، اصل کښې چې شانتی نکتین ته لاړم نوموږ ټول چې د یورپ نه په هغو ورځو کښې راغلونو موږ به سخت Inferiority Complex کښې ؤو. موږ به ډېر سخت محسوسه ؤ. چې موږ ډېر ځناور او غېر مهذب قوم یو. د هغوئ هغه ښارونه به مو لیدل، هغه یونیورستې سرکونه د هغوئ هر څهٔ. موږ ټولو کښې به ډېره احساس کمتری وه. زهٔ چې شانتی نکتین ته لاړم. نو زما بالکل سترګې رڼا شوې لکه څنګه Brain Washing چې څوك وکړی او ما دا محسوس کړه، چې زهٔ خو هم د یو زور اور قوم، د یو زوراور کلچر نمائنده یمه او د هندوستان په کلچر او د ایشیا په کلچر باندې په اول ځل زما په زړهٔ کښې یو فخر راغے او هغې زما نه هغه ټول مرض چې ؤ دInferiority complex هغه ئې رانه وښکلو. نو هغه ورځو کښې ما شاعری seriously په شانتی نکتین کښې په ۱۹۳۳ء کښې شروع کړه.

***هما: د شاعرۍ دوه برخې وي يو ته هئيت وائی form او يو خيال دے ، ستاسو شاعرۍ چې مونږ لولو، نو د غالب دا مصرعه ذهن ته راشی چې***

***" آتے ہیں غیب سے یہ مضامیں خیال میں"***

***تاسو ته زۀ دا تپوس کول غواړم چې شاعرۍ کښې هيئت يا فارم ته زيات اهميئت ورکوئ او کۀ خيال ته؟***

**غني:** جناب عالی! په دې باندے خو زۀ نۀ پوهيږم په هيئت ميئت باندے ، خو زما خيال دا دے چې د شاعرۍ دوه حصی وی. د هر يو آرټ دوه حصې وی، يواځې شاعری نۀ ده. يوه حصه هغه ده چې کومه په عقل کښې راځی هغه Logical ده، او هغۀ تۀ ښولې شے بل تۀ، او هغه ئې زده کولے شی. هغه لکه بحرونه، فاعلا تن، ماعلا تن. بحرونه او تاسو ورته څۀ وايئ. سيندونه او نهرونه. اصل کښې دوړی ده، هغه د دوړی تال دے . ټکه ټکه، ټکه ټکه ټك، او بيا هغۀ Observations دی. کتل دی، سهی کول دی د ځيزونو. نو دغه سړے په محنت باندې په مشقت باندې کولی هم شی او زده کولی هم شی. نو دا خو يوه حصه ده، خو دغه دومره Important حصه نۀ ده، د شاعرۍ . ددې اصلی حصه هغه ده چې په دې کښې تاثير اچوی. کوم چې په هغې کښې دا طاقت اچوی چې زما د زړۀ Emotions ستا زړۀ ته درکوزکړی. زما د زړۀ آب و هوا ستا په زړۀ کښې جوړه کړی. هغه شے ، چې بالکل د انسان د وس نه بهر دے . هغه بالکل د غيبو نه راځی او قدرتی شے دے ، او په هغې د چا طاقت نيشته چی ئې راولی په زور باندې، چی نۀ وی نو نۀ راځی. دلته کښې يو مياشت به ناست ئې او يوه کرښه به

اونهٔ لیکے او چې راځی نو بیا د سینډ هسې بهیږی. ما خو پخپله دغه بغیر د Inspiration نه چې ورته وائی انګریزی کښې، ما خو هیڅ نهٔ دی لیکلی او نهٔ لیکلے شم، نهٔ تصویر جوړولے شم، نهٔ مجسمه جوړؤلے شم او نهٔ شاعری کوؤلے شم.

***هما: د آرټ مختلف سکول آف تهاټس دی. تاسو د کوم یو مکتبهٔ فکر سره تعلق لرئ؟***

**غني:** زهٔ Impressionistic امپریشنسټك یم.

***هما: لږ شان وضاحت.***

**غني:** یو خو د یونان سټائل دے، کله چې په کېمره تهٔ تصویر اخلے نودا خو چی بالکل څهٔ وینی نو هغه ښائی. د خان نه پکښې څهٔ نهٔ شی کوؤلے ، بس چې څهٔ وینې هغه ښائی. نو دغه شان Realism چې څهٔ وینی هغه جوړوی، نور پکښې څهٔ کوشش نهٔ کوی. اوس نوے Trend، ماډرن ټرینډ دا دے چې هغه چونکه کیمره راؤته نو بیا د آرټسټانو Importance ختم شو. پخوا به چې دوئ لارډ ، لارډ صاحب به ورته سپے راوستهٔ، لارډ صاحب به ورته آس راوستهٔ، لارډ صاحب به ورته لور راوسته، زوئ راوستهٔ او هغه تصویر به ئې ورله جوړ کړو. سل دوه سوه پاونډه به ئې ورکړهٔ. اوس خو هغه سړے راشی، ټس نارې کړی، پنځهٔ منټه کښې ورته تصویر جوړ کړی. د هغهٔ د هغې نه ښهٔ ډېر زیات Resemlence وی پکښې. نو دا خو ډېره هوښیاره Community ده د آرټسټ. دوئ وے چې راشه داسې قیصه شورو کړو. د آرټسټ په داسې ځائې باندې Imphasis واچؤو چې هغه

کېمره نۀ شی نیوې او هغه دننه شے وی چې سړی کښې دننه وی. د هما صاحب تصویر جوړ کړم، خو چی د هما صاحب پوزه، سترګې او شونډې تشې نۀ وی چې په هغې کښې د هما صاحب دننه چې هما دے، د هغې هم څۀ حصه پکښې راووځی بهر ته. نو دغۀ Impressionism چې دے نو دغه دوی ددې نه پس رو رو Realism پرېښـودۀ، ددې اولنـے قـدم دا ؤ چـی دوی Impressionism ته وروداننګل. Impressionism دا دے لکه چې تۀ څۀ شے ؤوینے او سترګې پټې کړے او راشے او بیا هغه جوړه وے، چې تۀ په یو سیکنډ کښې، یو منټ کښې، څۀ شے ؤوینے او هغه Impression ستا په فکر کښې وی او تۀ هغه بیا جوړ کړے. Impressionism کښې، دې تا ته پوره خبره نۀ کوی دا ټول آرټ چې دے، لکه د ماشوم چې Communication څۀ وی. دا خبره ما یو خل په کالج کښې هم هلکانو ته کړې وه. لکه ماشوم چې Communication کوی، نو دے آ آ. بابا. بابا داسې هغه دغه کوی. نو دغه شان دا آرټ هم دغه شان دے. Primitive آرټ د ماشوم د خبرو په شان دے، خو اوس Modren Abstract آرټ چی دے، Latest، هغه هم دغه شان دے. خو په هغې کښې، فرق دا دے، چې ماشوم خو ئې درته وئیلې نشی، پکاسو ئې درته وائی نه. هغه درته لګ شان هسې Hints درکړی، لږ شان اشاره اوکړی. هم دغۀ څیز Impressionism هم کوی، خو په دے کښې لږ زیات Realism دے او کمې اشارې دی پکښې. او بل په دې کښې دا فرق دے، او په دې نورو آرټونو کښې، چې په دې

کښې آرټسټ د خپل Audience دماغ او نظر استعمالوی د خپل Impression د پاره، زهٔ تاله ټوله سترګه نهٔ جوړوم. زهٔ تاله دلته یو (د سترګو لاندې خائې ته په اشاره) Shade درکړم. دلته پوټے رنګ (ټولی څېرې ته په اشاره) اولګوو. او بیا تا ورته پرېږدم، تهٔ چې ورته ګورے نو بیا Imagination اوستا نظر، به ترې خپله سترګه جوړه کړی. کهٔ نزدې ورغلے نو هلته سترګه نیشته، د لرې نه چې ورته ګورےنو سترګه ده. خو تا جوړه کړې ده،ماجوړه کړې ده خوتاهم جوړه کړې ده.نو دې کښې دغه چل دے .چې په دې کښې دAudienceParticipation په ماډرن آرټ کښی ډېرزیات دے .

*هما: تاسو به نثر هم لیکلو، د ګډې وډې په نوم. تاسو جی! نثر لیکل ولے پرېښودهٔ. هغې کښی یو خوند ؤ یوه مزه وه یو طنز ؤ پکښې، مزاح وه پکښې، خلقو به ډېر خوښئوو.*

غني: هغه خو بس پښتون اخبار بند شو نو موږ هم بند شو ورسره.

*هما: ښه جی.*

غني: هغه به ما لیکهٔ هفته وار، ما داسې هغه Serious نهٔ ګڼه خلق به ئې هسې Serious اخلی.

*هما: نه جی هغه ډېر خوندور ؤ، ډېره مزه وه پکښې.*

غني: مالیکلی دی، نور هم دوه درې کتابونه مې لیکلی دی. اوس مې دا خیال دے چې د خپل ژوند او د خپلې معاشرې دا بعضې ضروری خبرې چې کومې ماته یادې دی، ځکه چې

زهٔ اوس د شپې اویا کالو شوم، هغه خلقو ته نهٔ دی معلومې. سړے چې بوډا شی نو هغهٔ نه هم د تاریخ (په خندا ) کتاب جوړ شی بیا. نو خیال مې دے چې هغه څهٔ ولیکم.

***هما: ډېره ډېره مننه.***

غني خان، لېونے فلسفی، یو عاشق دے، سروکار ئې دے له عشقه. یو ارمان ئې دے. ارمان ئې دا چې

"ټوله دنیا مینه مینه مینه شی"

اجازت غواړو د خدائ په امان.

# د نوموړی پوهاند
# صديق الله ربنتين سره مرکه

**نېټه: ۱۸ دسمبر ۱۹۹۲ء**
**ځای: د هما کور، بغداده مردان**
**یادونه:**

*پوهاند صديق الله ربنتين (۱۹۹۸-۱۹۲۲) د پښتو ادب يو ژوندے تاريخ ؤ. د هغهٔ نوموړے پلار مولوی تاج محمد مهتمم صاحب (۱۸۷۰ء- ۱۹۲۵ء) د انګرېزی اعلیٰ تعليم يافته او د دينی علومو منتهی ؤ. هغهٔ د حاجی صاحب ترنګزو (۱۸۴۷ء-۱۹۳۷ء) سره اوږه په اوږه د آزادی د ستر مقصد د پاره د پېرنګی خلاف د پښتو او پښتون سرلوړی ته خپل ژوند وسپارهٔ. د پښتو ټولنې کابل پخوانے مدير، ستر پوهاند ربنتين د خپلو پياوړو ملګرو حبيبی، بېنوا، الفت، او د خادم په ملګرتيا او همکاری، پښتو په افغانستان کښې د يو درونډ مقام جوګه او د دنيا د ژبو سيال کړه.*

*پوهاند ربنتين د پښتو په قواعدو د اساسی کار په وړومبنو معمارانو کښې دے. د تحقيق د لارې روښانه مشال او د ادب يو منلے شوے استاد، نقاد او مورخ دے. هغه د اويا کتابونو مصنف دے. او په بې شمېره ادبی موضوعاتو ئې کم او زيات يو زرمقالې ليکلی دی. دا ستر پوهاند او روښان فکره ليکوال چې سينه ئې د ګڼو تجربو خزينه او قلم ئې د پښتو د ناموس ضمانت ؤ. د جسمانی ناروغتيا او د يو اويا کالو د ضعيفی په عمر کښې چې کله د هغهٔ په خاوره د وينې ارزانی روانه وه او افغانستان د عالمی سياست دروايانو په سترګو کښې اخستے ؤ، د خپل وطن نه په کډه مجبور شو. پنځهٔ شپږ کاله ئې په مردان کښې د مهاجرت د ژوند سختې تېرے کړے او بيا حيات آباد (پېښور) ته لاړو. د پښتو دا ستر ادبی قهرمان په ۲۶ نومبر ۱۹۹۸ء په پېښور کښې په حق اورسېدهٔ او د ننګرهار په بهسودو کښې خاورو ته وسپارلے شو.*

(هما)

***هما: رښتين صاحب! چې پښتو او پښتون سره مينه لرى هغوئ سره ستاسو پېژندګلو ښيخى يوه رسمى خبره ده. په افغانستان کښې د پښتوادب د اسمان پنځۀ ستورى يادېږى.پوهاند عبد الحى حبيبى، قيام الدين خادم، ګل باچا الفت، عبدالرؤف بېنوا، پنځم ستورے تاسو يئى. د ستورو په دې جونېك کښې تاسو په خپله رڼا او ادبى هلو ځلو پښتو ته يو مقام ورکړو. مونږ غواړو چې ستاسو د خپل ژوندد حالاتو او د خپلې کورنى په حقله مونږ سره څۀ خبرې وکړئ.***

رښتين: زما د پلار نوم تاج محمد دے. چې په مهتمم صاحب مشهور ؤ. دے د مير احمد خان زوئ، د محمد اکبر نمسے او د شاه جهان خان کړوسے دے. زمونږ مشران وائى چې مونږ په قام سلېمان خېل يو. زما نيکۀ مير احمد خان د شېر على خان يا د امير دوست محمد خان، چې ښيخى په اعتبار سره نۀ شم وئيلے، خو ګېدے شى چې د شېر على خان زمانه وه. نو په دغو ورخو کښې پېښور ته د افغانستان، لوګر نه په کډه راغے او هلته د وزير باغ په شاؤ خوا کښې ئى استوګنه غوره کړه. بيا زما نيکۀ مير احمد خان د روزى ګټلو او ګزارې په نيت په ګائيډ پلټن کښې نوکر شو او د مردان په بغداده کښې ئې داوسېدو ځائې اوموندو.دغلته کښې ئې ځائې ځائيګى پېدا کړو او په دائيمى توګه پکښې مېشته شو. زما پلار تاج محمد خان د کال ۱۸۷۰ء په شاؤ خوا کښې زېږېدلے دے. په لاهور کښې ئې تر بى.اے انګرېزى تعليم حاصل کړے ؤ. او بيا ئې د اسلامى علومو دوره

پوره کړه.

***هما: ستاسو پېدائيش د کوم ځائي دے؟***

**رښتين:** زهٔ د مهمندو په غازی آباد کښې په دولس سوه اتهٔ نوی شمسی کال کښې پېدا شوے يم. زماپلار مهتمم صاحب تاج محمد، د ترنګزو د حاجی صاحب سره ملګرے شوے ؤ. مونږ هلته په کډه تلے ؤو. څهٔ موده (زما پلار) د پېښور د حمايت الاسلام په هائی سکول کښې د استاذئ وظيفه غوره کړه. هلته ئې د سياسی تحريك د عالمانو سره اشنائی پېدا کړه. زما پلار د مردان په علاقه کښې د ګدر په مقام د يو اسلامی مرکز لومړے مشر او مهتمم غوره کړے شو. په کال ۱۹۱۴ء کښې چه د نړئ لومړے لوئ جنګ اُښت او انګريزانو اسلامی مملکت په خاوره يرغل شروع کړو نو د هند د آزادئ غوښتونکو، د شيخ الهندمولانا محمودالحسن په فتویٰ د هجرت بندوبست شروع کړو. او دغه شان زما پلار هم آزادې علاقې ته واؤړيدو. زما پلار مهتمم صاحب د انګرېزانو خلاف د غزا او جهاد په لاره کښې، په ټولو سرحدونو کښې يعنی د بونېر نه والے د مومندو تر سور کمره پورې، خپله تبليغی سلسله په پوره قوت او همت ټينګه ساتلی وه. هغهٔ د بونېر په وړومبئ غزا کښې پخپله عملی برخه اخستی وه.

***هما: ستاسو نور ورونړه شته؟***

**رښتين:** مونږ درې ورونړه يو. يو حبيب الله نوميږی او بل عبدالله. حبيب الله نن ورځې پېښور کښې استوګنه کوی او عبدالله په جرمنی کښې دے.

***هما: بيا تاسو افغانستان ته کله لاړئ؟***

رښتين: ما وړومبے درس هم په غازی آباد مهمندو کښې واخست. د طورو مولوی محمد ايوب صاحب نه، بيا جلال اباد ته لاړم. او نجم المدارس کښې شامل شوم. دا د مولانا نجم الدين چې د اډې صاحب په نوم يادېږی، د هغهٔ مدرسه وه. دغلته مې څهٔ درې څلور کاله سبق ووې. دغه د کال ۱۳۱۱ شمسی زمانه وه. بيا ۱۳۱۵ شمسی کال کښې کابل ته لاړم او هلته مې په دارالعلوم عربی کښې داخله واخسته.

***هما: تاسو پښتو ټولنې ته کله راغلئ؟***

رښتين: د ۱۳۱۸ شمسی په اختر کښې پښتو ټولنې ته راغلم.

***هما: د پښتو ټولنې کابل تاريخ کهٔ مو بيان کړو نو ښهٔ به وی؟***

رښتين: افغانستان کښې د پښتو تاريخ داسې دے. چې پښتو انجمن په ۱۳۱۱ شمسې کښې په قندهار کښې د وزير محمد گل مهمند په امر جوړ شو. دا پښتو انجمن د قندهار نه کابل ته راغے. د کابل پښتو انجمن سره په کال ۱۳۱٦ شمسی کښې يو ځائې شو او پښو ټولنه جوړه شوه. ددې وړومبے مدير عمومی چې مونږ به ورته وې. هغه عبدالحی حبيبی ؤ. دا حبيبی معارفی کړے ؤ. محمد گل مهمند نه تپوس وشو. چې څوك د پښتو ټولنی مدير کړو. هغهٔ ورته ووې چې عبدالحی حبيبی. دې په هغه زمانه کښې په قندهار کښې د طلوع افغان مدير ؤ. بيا په کال ۱۳۲۰ شمسی کښې عبدالرحمن پژواك مدير شو. دهغهٔ نه وروستو بيا په عبدالرؤف بېنوا راغے. زهٔ په هغه وخت کښې مدير د شعبه قواعد وؤم. زهٔ د بېنوا سره د پښتو ټولنې معاون شوم. په هاغه زمانه کښې زما نه مخکښې خادم صاحب ؤ. گل باچا الفت ؤ. دوی زما

نه مخکښې راغلی دی. زه او ښېنوا يو ځائې راغلي ؤو. دومره وه چې دا نور خلق ښکته پورته شو او زه تر اخره پورې په پښتو ټولنه کښې ؤوم. ما ۳۵ کاله د پښتو ټولنې خدمت کړے دے مسلسل، زه بل خوا نه يم تلے.

*هما: دا پښتو ټولنه هلته په سرکاری سرپرستی کښې وه؟*

رښتين: هو، دا وړومبے د مطبوعاتو د وزارت سره تړلې وه او بيا د وزارت معارف سره.

*هما: د کابل حکومت د پښتو په خوروَنه کښې او د هغې په معارفی کولو کښې څۀ کار کړے دے؟ په تفصيل سره پرې خبرې وکړئ.*

رښتين: د کابل حکومت پښتو ټولنه جوړه کړه او هغوی ته ئې د پښتو خدمت وسپارۀ، نور کار بيا ټولنې کولو. حکومت د هغوئ په کار کښې مانع نۀ ؤ.

*نويد: دغه د چا دور ؤ؟*

رښتين: دغه د محمد ظاهرشاه دور ؤ.

*هما: کۀ چرې پښتو ټولنې ته د حکومت سرپرستی حاصله نۀ وې نو دومره کار د پښتو د خدمت خو ممکن نۀ ؤ.*

رښتين: خېر، حکومت خو ټولنه جوړه کړه. نور کار خو بيا د هغې د کارندو ؤو. تنخواه خو حکومت ورکوله. دغه يو مامور ؤ. بل ځائې کښې به ئې هم ورکوله. خو دغه پنځۀ ستوری کوم چې تاسو ياد کړۀ. د هغوی خپله هم د پښتو د خدمت يو شوق ؤ، او دوی ډېره په مينه خپله وظيفه تر سره کوله. او دا پنځۀ کسان چې ؤو، دا

حکومت نهٔ ؤو تربيه کړی. دوی خپله تربيه شوی ؤو. حکومت خو پرې يوه پېسه نهٔ وه لګولې. نهٔ ئې په حبيبی لګولی وه. نهٔ په بېنوا او نهٔ په الفت نهٔ په خادم. زهٔ لا په دارلعلوم عربی کښی ؤوم، دوی خو نهٔ ؤو.

***هما: د پښتو ټولنې څومره کار کړے دے؟***

**رښتين:** پښتو ټولنې ډېر زيات کار کړے دے. پنځلس کاله مخکښی ئې تقريباً درې سوه کتابونه چاپ کړی ؤو. ورومبے اهم کار خو ئې دا ؤ، چې په ټولو دفترونو کښې ئې د پښتو کورسونه جوړ کړی دی. مونږ د پښتو د پاره سل معلمانٌ درلودل. ورومبے د پښتو کليد په نامه باندې دولس درسی کتابونه ليکلی شوی ؤو. ددې په ليك کښې امين الله زمرياڼی، قيام الدين خادم، ګل باچاالفت او بېنوا برخه اخستی وه. د شپږم سمستر چې کوم ګرامر ؤ، هغه ما ليکلے ؤ. د شپږم کليد په دويمه دوره کښې ما دا کتابونه صحيح کړهٔ. او د دولسو په ځائ مې شپږ کړهٔ. د يو سمستر د پاره يو کتاب.

***هما: دا کتابونه وروستو د طب او د انجنئيرنګ د تعليم د پاره څنګه پکاربدے شو؟***

**رښتين:** وروستو بيا وزارت معارف کښې د پښتو رياست جوړ شو. د هغویٔ د سيوری لاندې درسی کتابونه وليکلے شو. د سکولونو د پاره، د ښوونځو د پاره. د ادبياتو تاريخ او بعضې نور کتابونه وليکلے شو.

***هما: دا خو هغه کار ؤ. چې د درس و تدريس سره ئې تعلق***

***لرلو. پښتو ټولنې ادبي کار څۀ کړے دے؟***

**رښتين:** پښتو ټولنې ديوانونه چاپ کړي دي. د ادبياتو تاريخ ئې چاپ کړےدے . اولنے د ادبياتو تاريخ ما ليکلے دے. چې په ۱۳۲۳شمسي کښې چاپ شوے دے.

***هما: تاسو خپل څومره کتابونه ليکلي دي؟***

**رښتين:** ما اويا کتابونه ليکلي دي. يو زر مقالې مې ليکلي دي. د مخونو شمېر ئې له لسو زرو څخه هم زياتيږي.

***هما: په دې اويا کتابونو کښې څومره چاپ او څو کتابونه ناچاپه دي؟***

**رښتين:** شل پنځويشت به نا چاپه وي. نور ټول چاپ شوي دي. د پښتو ټولنې چې کوم غټ کار کړے دے ، هغه د شبلي نعماني او د سيد سلېمان ندوي د سيرة النبی پښتو ترجمه ده. په شپږو جلدونو کښې چاپ شوې ده.

***هما: دا کله چاپه شوې ؤو؟***

**رښتين:** دا په ۱۳۲۳ شمسي کښې . بل غټ کار د دائيرة المعارف چاپول دي. دا په اووۀ جلدونو کښې چاپ شوے دے. وروستي دوه جلدونه ئې په ۱۳۵۴شمسي او ۱۳۵۵شمسي کښې چاپ شوي دي.

***هما: د شبلي نعماني سيرة النبی خو زمونږ د پښتو اکېډمي هم چاپ کړے ؤ؟***

**رښتين:** دوی خو ډېر وروستو چاپ کړے دے. مونږ ډېر پخوا چاپ کړے دے.

*هما: هسې مونږ چې ګورو نو ستاسو د کار اود پښتو اکېډمي په کار کښې څۀ يو شان والے نۀ دے پېدا شوے؟ کوم کار چې دوی کړے دے. هغه تاسو هم کړے دے.*

رښتين: پښتو اکېډمي خو ډېره وروستو جوړه شوې ده. دا ټول کارونه مونږ مخکښې کړی دی. پښتنې سندرې په نوم د پښتو لنډی مونږ په ۱۳۳۴ شمسی کښې چاپ کړی دی. په دې کښې خالصی اتۀ زره د پښتو لنډی دی. ددې دويم جلد د پښتو چاربېتی دی. پښتو اکېډمي دروهی سندرې ټپی په نوم دا کار ډېر وروستو کړے دے. خو په هغی کښې ئی زمونږ د کار هډو څۀ ذکر نۀ دے کړے. بل کتاب ملّی ٔهنداره، محمد ګل نوری ليکلے ؤ. چې پخوانی نقلونه قيصی پکښې دی. پښتو قاموسونه مونږ پخوا ليکلی دی. اول جلد، دويم جلد پښتو ګرامر ما ليکلے دے. اول جلد او دويم جلد ژب ښودنه ده. د مصدرونو لار ښودنه ده. دا ټول کتابونه ما ليکلی دی. په پښتو کښې د ګرامر ټول کار زمادے. بل چا نۀ دے کړے. زمانه مخکښې محمد اعظم ايازی د پښتو ګرامر ليکلے ؤ. خو هغه په فارسی کښې ؤ. د اول جلد او دويم جلد د ګرامر ژبه هم فارسی ده.

*هما: پښتو کښې يو کتاب دے پټه خزانه؟*

رښتين: پټه خزانه د هغې قلمی نسخه عبدالحی حبيبی پېدا کړې وه او په ۱۳۷۳ شمسی کښې ئی چاپ کړه.

*هما: په دے حقله ما دا خبره کوله چې نن سبا د هغې په استناد بحثونه روان دی نو هغې د نوؤ ليکوالو په ذهن کښې*

*شکوك شبهات پيدا کړی دی.*

**رښتين:** دا شکوك و شبهات دلته پيدا شوی دی. مونږ خو په دې لړ کښې هيڅ شبه نۀ لرو. ځکه چې پخوانی کتابونه هم دغسې يو يا دوه نسخې پيدا کيږی. ډيرې نۀ پيدا کيږی. زمونږ په نظر کښې پټه خزانه د شاه حسين هوتك په زمانه کښې محمدهوتك ليکلی ده. ۱۱۴۲ قمری کښې. دا بيخی صحيح ده. د هغی په برکت باندې د پښتو ادب تاريخ دويمی پيړی هجری ته رسيدلے دے . ددې کتاب په حواله امير کروړ وړومبے شعر د پښتو ليکلے دے. چې هغه يوه وياړنه ده. په پټه خزانه کښې چې کومې قصيدې راغلی دی. لکه دا سعد سوری اوښکارندوئے وغيره، داسې قصيدې اوس څوك نۀ شی ليکلے.

***هما:*** *زمونږ يو محقق دے. قلندر مومند صاحب، هغوئ په دې کتاب څۀ علمی بحثونه کړی دی اوددې کتاب ځنو ټکو لکه هيواد، استوګنه او ګروهيدول په حقله وائی چی په پټه خزانه کښې دا ټکی په کومه معنیٰ کښې استعمال شوی دی. دغه معنې بيخی اوسنی او جديد دی او زمونږ پخوانو شاعرانو دغه ټکی په دغه معنو کښې نۀ دی استعمال کړی. دويمه خبره هغوئ د کتاب دنوم او دترتيب په حواله کوی او وائی چې په دې کښې د شلمی صدی نفسيات کار کوی. قلندر صاحب خو دې کتاب ته بلکل جعلی وئيلی دی خو د ادب د طالب علمانو د رهنمائيی د پاره ستاسو رائې اوريدل غواړو؟*

رښتين: داسې اعتراضونه خو چې څوك غواړي په هر کتاب کېدے شي. اعتراض خو بيل شے دے . موږ د قلندر مومند سره متفق نهٔ يو. پټه خزانه پخوانے کتاب دے او په دې کښې هيڅ اشتباه نيشته او محمد هوتك په دې کښې پوره پوره حوالې ورکړې دي. لکه د شيخ کټهار لرغوني پښتانهٔ، تاريخ سوري او داسې نور ټول کتابونه چې دا کتاب ئې ترې ليکلے دے، ښودلي دي.

*هما: خو جي ، دا لرغوني پښتانهٔ او تاريخ سوري خو هم نيشته او نهٔ پيدا کيږي؟*

رښتين: "پټه خزانه" کښې ددې حوالې شته.

*هما: د کتاب د استناد د پاره يو داخلي شهادت وي. او بل خارجي شهادت وي. داخلي شهادتونه خو په خپل ځائې خو د پټې خزانې د استناد لکه چې هغوئ وائي، څهٔ خارجي شهادت مخې ته نهٔ دې راغلے. يعني د نوروکتابونو په حواله ددې ذکر نيشته؟*

رښتين: په هغه وخت کښې د مغلو حکومت ؤ. مغل د پښتنو ازلي دښمنان ؤو. هغوئ د پښتنو د تاريخ په حقله چې څهٔ اثار بيا موندي دي. هغه ئې سوزولي دي.

*هما: ستاسو دا دليل په دې سلسله کښې واقعي درونډ دے چې په هغه زمانه کښې فارسي درباري ژبه وه. نود پښتو اهميت نهٔ ؤ. اويوه مقابله د دواړو ژبو روانه وه. نو د هغه وخت مغلي بادشاهانو ښهٔ په اراده او ښهٔ په منصوبه بندي د پښتو او پښتنو د تاريخ او د ادب ټولې حوالې ګډې وډې کړې*

دی.

ربنتين: د مغلو دوره درې سوه کاله وه. پښتانهٔ دغې دورې ته په خپلو ادبیاتو کښې مغلواله وائی. او مغلواله وائی ظلم ته، لکه چې حمید بابا وائی.

یو به نهٔ سم مغلواله د رقیب ستا
په رښتیا کهٔ زېرؤلے پښتنې یم

مغلواله ظلم ته وائی او دا ظلم دوئ په پښتنو کړے ؤ.

***هما: ربنتين صاحبه! کهٔ پټه خزانه جعلی ثابت شی. نو په پښتو ادب به څهٔ اثرات مرتب شی؟***

ربنتين: پښتو ته به پرې زیان ورسی. خکه چې دپټې خزانې په حواله د پښتو ادبیاتو تاریخ دویمی پېړی هجری ته رسېدلے دے. او خبره داسې ده.چې ما دوه مکتوبونه همېش گل همېش، (همېش خلیل) حبیب الله رفیع ته ورکړی دی. او پکښې مې وئیلی دی. چې قلندر صاحب! حبیبی خو نهٔ دعویٰ کړی ده د شاعری او نهٔ شاعر ؤ. نو دا پنځوس شعرونه دهٔ د ځانه څنګه جوړ کړی دی. او په هغې کښې ډېر لغات داسی دی. چې هغه اوس نیشته لکه نرمل، ترمل، او برمل، او دا ټول لغات د اسعد سوری په شعر کښې راغلی دی. او اوس نېشته نو ولې دهٔ دا د خان نه جوړ کړی دی؟

***هما: حبیبی صیب شاعر نهٔ ؤ جی؟***

ربنتين: نه، هغهٔ دعویٰ نهٔ وه کړې. شعر نیم ئې وئیلے دے، خو شاعر نهٔ ؤ.

***هما: قلندر مومندچې کوم کتاب لیکلےدے .پټه خزانه فی***

***الميزان هغه تاسو لوستے دے؟***

**رښتين:** ماله ئی راکولو، قلندر دغه کتاب، خو ما وې، ماله ئې مهٔ راکوه. زهٔ ددې د کتو توان نهٔ لرم.

***هما: هغه چې ستاسو د کتاب کتو توان نهٔ لری او تاسو د هغوئ د کتاب د کتو توان نهٔ لرئ. نو دا خو څهٔ ښهٔ روّيه نهٔ ده. بيا به دا خبره منطقی نتيجې ته څنګه رسی.***

**رښتين:** ما ورته ووې چې دا بې ځايه کار دے. تا چې دا خپل عمر ددې په تحقيق کښې تېر ولو. نو بل څهٔ غوره کار به دې کړے وُ. اووهٔ څلوېښت کاله کيږی چې دا کتاب چاپ شوے دے. تر اوسه پورې پرې چا اعتراض نهٔ دے کړے. نو تهٔ پرې اوس ولې کوے. حبيبی چی کله ژوندے وُ. نو هغه وخت دې پرې ولې نهٔ کولو؟ کړے به دې وُ.

***هما: تاسو يقيناً په دې کتاب خپل ښهٔ پاخهٔ او کوټلے دلائل ورکړهٔ. او خپل نقطهٔ نظر مو ښهٔ په وضاحت سره بيان کړو. زما په خيال دا بحث کافی وُ. اوس به نورې خبرې کوؤ. تاسو په کابل کښې د پښتو د پاره ډېر زيات کار وکړو. او هغه مو يو مقام ته ورسوله. دا زما په خيال په کابل کښې ستاسو د کړی کار نتيجه ده چې پښتو نن دومره اهم مقام حاصل کړے دے. اوس دلته په دې پښتونخوا کښې د پښتو د عام کولو د پاره چې ستاسو په ذهن کښې څهٔ تجويزونه وی، نو هغه وړاندې کړئ.***

**رښتين:** مانه به باچا خان، خدائ دې وبخښی، تپوس وکړو. چې د

پښتو د ترقی د پاره څۀ کول پکار دی. نو ما به هغۀ ته دا خبره کوله چې د يو قام د ترقی څلور اهم توکی دی. علم، اقتصاد، کلتور او سياست. تاسو په يوه پايه ګاډے چلوئ. يعنی تش سياست ته مو لاس اچولے دے . په دې پښتون قام ترقی نۀ شی کولے . دې د پاره وړومبے د هغوئ علمی ترقی ضروری ده. بيا د هغوئ معاش پله توجه پکار ده. بيا ژبه او کلتور وده مومی . د هغې نه پس به سياسی اوچتوالے حاصلوی. تاسو چې په اورګادی د خوشحال ايکسپرس نوم کېږدئ نو د هغې نه پښتون قام ته څۀ فائده رسی. يا کۀ چوکونو ته باچا خان چوک ووايئی نو په دې څۀ کيږی. وړمبے علم او اقتصاد پکار دے . ستاسو پښتو اکاډمی چې کتابونه چاپ کوی نو پکار ده چې پوهانو سره پرې مشوره وکړئ. دوئ بې فائدې کتابونه چاپ کوی. بل مونږ دا کار په کابل کښې هم کړے ؤ، چې لارې، کوڅې، دکانونه مو ټول پښتو کړی ؤو. دلته هم دا کار اوکړئ، ولې چې ددې ځائې نوم پښتونخوا دے . دوی د پښتو لغات چې چاپ کوی په هغې کښې غور نۀ کوی. عربی او فارسی هر څۀ پکښې راولی، دا صحيح نۀ دی.

*هما: نن سبا په پښتو کښې شاعری ډېره په غرب کښې روانه ده. ستاسو څۀ خيال دے چې د پښتو د ترقی د پاره شاعری اهمه ده، کۀ نثر؟*

رښتين: دا خبره ما څو ځله کړې ده چې ډېره شاعری پښتو بلکې يوې ژبې ته هم فائده نۀ رسوی. د شعر نه نثر زيات اهم دے . او ژبه چې ترقی کوی نو په نثر باندې کوی. ډېره شاعری چې ده، دا

ښهٔ نهٔ ده. يو نيم شاعر پکار دے، ليکن ښهٔ شاعر، لکه حمزه صاحب چې شو.

***هما: د پښتو د ليك لار د يو کولو د پاره څهٔ متفقه فېصلې شوې دی. په دې باره کښې ستاسو څهٔ خيال دے؟***

رښتين: د ليك لار خبره داسې ده چې اول مجلس پښتو ټولنې په کابل کښې په ۱۳۲۱ شمسي کښې کړے ؤ. د پېښور اديبان هم کابل ته راغلي ؤو. بيا بل مجلس شايد ۱۳۲۷ شمسي کښې اوشو، بيا بل مجلس پېښور کښې شوے ؤ. د رحمان بابا د قبر تعويذ مو راوړے ؤ. ۱۳۳٦ شمسي کښې، دا درې مجلسه مونږ کړي دی. او دا ټولې خبرې په هغې کښې فېصله شوي دی. چې څهٔ پاتې دی، هغه ډېرې لږې پاتې دی. يو کتاب دے، "ادبي جرگه" ورته وائي، دا پښتو ټولنې کابل چاپ کړے دے. دا ټولې خبرې او فېصلې په هغې کښې راغلي دی.

***هما: د پښتو اکيډمي د سيورې لاندې په باره گلي کښې د ليك لار کوم سيمينار چې شوے ؤ. او په هغې کښې کومې فېصلې شوے وے. هغه تاسو لوستے دی. په دې فېصلو او په هغو کښې چې کومې تاسو کړې وې. څهٔ فرق شته؟***

رښتين: شته پکښې، د ليك لار اوسنی بعضې فېصلې صحيح دی بعضې نهٔ دی.

***هما: تاسو څهٔ وائې. چې په هغې کښې څهٔ صحيح نهٔ دی؟***

رښتين: په دې فېصلو کښې د زورکي د پاره همزه ليکل صحيح نهٔ دی. لکه زړهٔ (دل) په دے کښې همزه نهٔ دے. دې د پاره مونږ

خفي ه ورته وائی هغه ليکو او زړه (پرانا) کښې عربی "ھ" ليکو.

***هما: خفي به څنګه ليکو؟***

رښتين: داسې به ئې ليکو (رښتين صاحب پخپله په کاغذ اوليکلو) "ه" او ظاهره "ھ" به داسې ليکو.

***هما: د خفي "ه" د پاره قلندر صاحب چرګی هـ يعنی دا "هـ" سپوا کړې ده. لکه اويهـ.***

رښتين: نه،نه، چرګی هـ نيشته. داسې نۀ ليکلے کيږی. مثال ئې دا دے. (رښتين صاحب پخپله اوليکل) لکه د زورکی د اواز د پاره خفي ه به داسې ليکلو. "غارمه، مارغه او ښکاره ھ" د پاره به داسې ليکو. لکه غرمه.

***هما: ښه جی، د ښکاره او د زورکی د اواز د پاره د خفي ه خبره خو واضحه شوه. اوس د امر د پاره د "ی" د پاسه همزه اچولی کيږی. لکه "اوکړئ".***

رښتين: داسې مونږه هم لګؤ. دا صحيح ده. د تانيث د پاره د کش ی هم صحيح ده لکه جينکی، چوکی وغيره.

***هما: اوس جی په دې نوې املا کښې پنځۀ "ی" ګانې شاملې دی. چې طالبعلمانو د پاره ئې ډېر لوې مصيبت جوړ کړے دے. ليك دود صرف د ليکوال مسئله نۀ ده. دې کښې ماشوم طالبعلم هم شامل دے. دا تدريسی معامله ده.***

نويد: استاذ هم پرې نۀ پوهيږی.

*هما: هو! استاذ هم پرې نۀ پوهيږی په دې معامله نور غور هم پکار دے. او چې دا تکی خصوصاً "ی" ګانې چې رالنډې*

*شی نو ښهٔ به وی.*

**رښتين:** پکار ده چې په دې معامله غور جاری اوساتلے شی.

***نويد:* په کابل کښې کوم يو دور کښې پښتو ته ډېره توجهٔ ورکړی ده؟**

**رښتين:** د ظاهر شاه په دور کښې ډېره توجهٔ ورکړے شوې وه. هغهٔ د پښتو په ترقی کښې مانع نهٔ ؤ. نور محمد ترکی پښتو ټولنه ورانه کړه. اکاډيمی علوم نوم ئې ورته کېښودهٔ. فارسی ئی پکښې داخله کړه. پښتو ټکی ئی ترې لرې کړهٔ. فارسی بان تکړه ؤو. پوهاندان پکښې ؤو. هغوئ پښتو ګډه وډه کړه. او پښتانهٔ ئې وروستو کړهٔ. پخوانی پوهه خلق چې ؤو. هغه مړهٔ شو. څوك پاتې نهٔ شو. هلکان ؤو، هغوی کار نهٔ کولو.

***نويد:* اوس په موجوده دور کښې په افغانستان کښې د پښتو څهٔ حېثيت دے؟**

**رښتين:** موجوده وخت کښې پښتو هيڅ حېثيت نهٔ لری. فارسی مخکښې ده. حکومت هم د تاجکو دے. ربانی هم تاجك دے. مسعود هم تاجك دے. پښتانهٔ نيشته.

***نويد:* دا خبره کيږی چې د مجددی په دور کښې د پښتو کتابونه سېزلی شوی دی.**

**رښتين:** زهٔ خپله معلومات نهٔ لرم خو احتمال لری چې داسې شوی وی. ازبکو به کړی وی. هزاره ګانو به کړی وی. نور محمد ترکی پښتون نسله خو پښتو سره ئې مينه نهٔ وه. په وزارت معارف کښې ما ته يو سړی ووې چې نور محمد د پښتو کورسونه اخوا کړل. تهٔ

په دے کښې څهٔ وائے . ما ورته په جواب کښې ووې چې کورس خو يو شے وی چې د لږې مودې د پاره وی. خلقو خو پښتو زده کړې ده. اوس پښتو کورسونو ته ضرورت نيشته.

***هما : کتابونه کهٔ اوس لرې هم کړی نو ضرورت نيشته، خلقو پښتو خپله کړې ده. پښتانهٔ شوی دی.***

**نويد :** خلق پښتانهٔ شوی خو دی خو هغه راتلونکی نسل به څهٔ کوی؟

**رښتين:** هو کنه پروګرام خوئ خراب کړو کنه.

***نويد : بهر حال نقصان خو دے د پښتنو دپاره.***

**رښتين:** په دې هر څوك پوهيږی. په زر کالو کښې د تاجکو حکومت نهٔ دے راغلے. اوس تاجك دی. په کابل ښار کښې د پښتنو اختيار نيشته.

***نويد : دلته ادب او سياست يو بل سره جوړ راروان دی. په افغانستان کښې د ادب او سياست څهٔ بېلتون ؤ؟ د يو بل څهٔ اثر خو ئې نهٔ قبلولو؟***

**رښتين:** هغلته ژبې ته د ژبې په حېثيت کتلے شو. څهٔ سياسی تړون ئې ورسره نهٔ کولو.

***نويد : د کابل رېډيو او ټيلی وژن چې د خپل انقلاب کومه پروپېګنډه کوله هغې کښې خو هم ادب شامل ؤ.***

**رښتين:** د خپل تبليغ د پاره خو ئې استعمالوله کنه.

***نويد : په کابل کښې چې کوم انقلاب راغے، د هغې څهٔ اثرات دی. ستاسو څهٔ خيال دے؟***

رښتين: نه، افغانستان خو ئی خراب کړو. ابادی ئی خرابی کړې. ورانـدې خـو د روس فـوج ؤ. هغـوئ هر څـهٔ خراب کـړهٔ. او اوس دا مجاهدين چې خان ته وائی. نو دؤی په خپل مينځ کښې اوس جنګيږی. دا باقی پاتې به اوس دؤی خراب کړی. دوئ د چوکۍ د پاره جنګيږی. د خدائے د پاره نهٔ جنګيږی.

*نويد: تاسو خو په دې تول دور کښې هلته پاتې شوې وئ.*

رښتـيـن: هلتـه ؤو. د نـجيب الله پـه دور کـښـې هلتـه ؤو. خو د حکومت سره مو همکاری نهٔ کوله. رسول امين راته ووې چې تا عدم تعاون کړو. رسول امين د ليکوالو د ټولنې مشر دے. ما ورته ووې چې هو ما تعاون نهٔ کوؤ. ماته خو ځکه سليمان لائق ووې چې راشه مونږ سره کار اوکړه. د باچا خان په مخکښې ئی راته وئيلے ؤو. دوه درې خله ئې راته ووې، چې مونږ سره په اکاډيمی علوم کښې کار اوکړه، نو ما ورته په جواب کښې ووې چې لائق صاحب خلق چې نوکری کوی نو درېو څيزونو د پاره ئې کوی، لا موټر د پاره ئې کوی، شهرت يا د پېسـو د پاره ئې کوی. زهٔ شهرت په افغانستان کښې دومره لرم چې نور نهٔ ځائيږی. په موټر سورلی مې ډېره کړی ده، نوره نهٔ کؤم. او پېسې ماسره دومره شته چې زما کار پرې کيږی. نورې نهٔ غواړم. بس، د هغې نه پس سلېمان لائق زما نه لاس واخستل. ما ورته ووې چی کهٔ علمی کار غواړے نو زهٔ به درته لار اوښايم. هغه شان اوکړه. کتـاب مـاتـه راؤلېږه کـورتـه، قاموس، ګرامر زهٔ به ئې صحيح کوم. خو دغه کار هغهٔ نهٔ کولو. دهٔ مانه په تنظيم کښې همکاری غوښته. هغه ما نهٔ کوله چې زهٔ ناجوړه شوم نو نجيب ماته په اول کال کښې پاسپورټ نهٔ راکولو

چې زهٔ هندوستان ته لاړ شم.

*هما: د انقلاب په دور کښې تاسو هلته دېره وئ، سره ددې چې تاسو همکاری ورسره نهٔ کوله او هلته وئ. او دلته رانغلئ او نور ملګری راغلهٔ دا ولې؟*

رښتین: زهٔ ناجوړه ؤوم کنه. ناجوړتیا دلیل ؤ. سپین بږیرے ؤوم بهر ته نهٔ وتلم.

*نوید: په دې دریم دور کښې چې څوك راغلهٔ دا څوك ؤو؟*

رښتین: دا خلقیان ؤو یا پرچمیان ؤو. دوئ ویرېدل چې دا ملایان به مونږ په عذابوی. نو دوئ ملیانو نه راؤتښتېدل.

*نوید: تاسو ته په یو دور کښې تکالیف نهٔ ؤو؟*

رښتین: ما څهٔ برخه هم نهٔ اخستله او مریض هم ؤوم.

*هما: او زما په خیال یو وجه دا هم ده چې تاسو ټول عمر علمی کار کړے دے. په سیاست کښې مو برخه نهٔ ده اخستې.*

رښتین: په یو دور کښې زهٔ سیاست کښې ؤوم. په "ویښ خلمیان" کښې ؤوم خو لږه موده وه.

*هما: دا کوم دور ؤ؟*

رښتین: دا د شاه محمود خان دور ؤ.

*هما: دا ویښ ځلمیان څوك ؤو. د حکومت په طرف ؤو کهٔ مخالف ؤو؟*

رښتین: دوی اصلاحات غوښتل. نهٔ د حکومت په طرف ؤو او نهٔ مخالف ؤو.

*هما: د حکومت د طرفه په دوی څهٔ پابندی نهٔ وې؟*

رښتـيـن: د شاه محمود په دور کښې نهٔ وې. وروستـو پرې بیا اولګېدې. ټول بیل بیل شو. غلام احمد صافی او ښېنوا استعفیٰ ورکړه. یو زهٔ او بل نېك محمد پکتیانی پکښې پاتی شو.

*توید: د باچا خان د کتاب متعلق تاسو څهٔ وایئ؟*

رښتين: ښهٔ کتاب دے . خپل تعريف کښې ئی ليکلے دے . ما کتلے دے . صحيح کړے مو دے . باچا خان ماته خط رالېږلے ؤ. زهٔ په جلال آباد کښې ؤوم. چی زهٔ ئې ستا د کتو نه بغېر نهٔ چاپ کؤم. بيا ما اوکتو. په اخره کښې هغهٔ زما نوم هم ليکلے دے او اصلاحات مې هم پکښې کړی دی. د " کانګرس بی وفائی " دا عنوان ما ورکړے دے .

*نوید: د ولی خان کتاب مو کتلے دے.*

رښتين: ما نهٔ دے کتلے . باچاخان د پښتون سندرې وئيلے او هغه په هغې باندې د پښتنو خوښ ؤ. حتیٰ چی د بچه سقه چې کابل کښې باچائی شوه او نادر خان پېښور ته راغے نو باچا خان اوميان جعفر شاه پاسېدل. او چنده ئې ورله اوکړه. او کمك ئی ورسره اوکړو او ددوی په کمك نادر خان په کابل کښې باچا شو. اوس هم په کابل کښې د بچه سقه غوندې حال دے . تاجك راغلے دے . ازبك راغلے دے . او د پېښور پښتانهٔ هيڅ غږ نهٔ کوی.

*هما: دا ستاسو په شاګردانو کښې چی کوم ليکوال دی. دهغوئ د کار متعلق ستاسو څهٔ خيال دے؟*

رښتين: دوئ شاعران معارفی کوی. دا پخوا شوی دی. اوسه پورې پنځهٔ توکه پښتانهٔ شاعران کابل کښې چاپ شوی دی. هم

هغه سلسله ده.

***نوید: تاسو سره چې د پښتو په ژبه د کومو خلقو اختلاف ؤ نو دا سیاسی ؤ کهٔ ادبی؟***

**ربشتین:** دا حبیبی چی ؤ. دے زمونږ د ننګرهار د ژبې مخالف ؤ. دے هلکانو به د هغهٔ قدر کولو. په دې قندهاریت او ننګرهاریت باندې، دے هلکانو به ماته وئیل. چې مونږ څهٔ وایو هغه صحیح دی. ما به ورته وې. چې داسې نهٔ ده. مونږ بین الاقوامی ژبه جوړه ؤو.چې کومه کلمه په قندهار کښې صحیح وی. هغه به د قندهار نه اخلو او چې کومه په ننګرهار کښې صحیح وی. هغه به ترینه اخلو. زما دوی سره دا اختلاف ؤ. حبیبی به وے چې قندهاری صحیح ده. دے هلکانو حبیب الله رفیع او زیار به د حبیبی صفت کولو. دهٔ ته به ئې لوئی استاذ وے. د داؤد خان په وخت کښې د حبیبی اختیار ډېر ؤ. او هغهٔ به د دې هلکانو کتابونه چاپ کول. نو دوئ به د هغهٔ متابعت ډېر کولو. زما به ئې نهٔ کولو. خو دا مخالفت سطحی ؤ. اساسی نهٔ ؤ. زیار صاحب به د خان نه لغات جوړول. ماخذ ته به ئی اخذ وې. ما به ورته وې چی دا اخذ غلط دے.

***هما: اخذ او د ماخذ لږ وضاحت وکړئ. د اولې غلط او صحیح دی؟***

**ربشتین:** اخذ ځکه صحیح نهٔ دے. چی ددې اخر ته دا "ذ" ظرفی تورے دے. چی د فعلی مادې اخر ته راځی."ماده فعلی" یعنی اخستل، اخلئ راځی. نو چې تهٔ اخلیز ووائے. نو دا صحیح ده.

دے ماخذ ته اخذ وائی کا غلط دے.

***نويد: د افغانستان په دې اوسنی دور کښې کڼ خلق راغلهٔ. هنر مندان، ليکوال، د افغانستان د موجوده حالاتو د صحيح کېدو او ددې خلقو د واپس تلو څهٔ امکان شته؟***

رښتين: امکانات شته خوپوهه غواړی، خلق غواړی، سر غواړی، سر نيشته.

***هما: حل ئې څهٔ دے؟***

رښتين: حل ئې دادے. چې ټول خلق د اکثريت تابع شی. پښتانهٔ اکثريت لری. اوس پښتو ته په ښهٔ سترگه نهٔ گوری. پخوا هم مونږ د پښتو د پاره جگړې کولې. پخوا يو سفير د ايران ماته ووې. چې تهٔ د فارسی په ځائې پښتو غواړے. ما ورته ووې چې دا فارسی نهٔ ده. فارسی په خپل ځائې ده او پښتو په خپل ځائې. پښتو سره چې کوم ظلم شوے دے، مونږ غواړو چې دا ظلم ونهٔ شی. هر پښتون شاعر په خپل ديوان کښې د فارسی شعر وئيلے دے. ليکن فارسی شاعر پښتو نهٔ ده وئيلی. اوس هم دغه حال دے. نو ما د ايران سفير قانع کړو په دې خبره، چې مونږ دواړه ژبې په خپل خپل ځائې غواړو. خو پښتو د اکثريت ژبه ده. ملا فيض هزاره په سراج التواريخ کښې ليکلی دی."به نسبت کثرت و ابنوهی مردم افغان کلمه ستان در اخران ملحق گرديد به تمام مناطق افغان نشين اطلاق گرديد."

ترجمه: په دې نسبت چې افغانستان کښې افغان ډېر ؤو نو کلمه ستان د افغانسان سره ملحق شوه. او ټولو مناطقو ته چې افغان پکښې اوسی اطلاق شوه.

*نوید: ستاسو زمونږ د صوبې د پاره د پښتونخوا د نوم په حقله څۀ رائې ده؟*

رښتین: ما د امیر محمد په خلۀ ولی خان ته سوال جواب لیږلے ؤ. چې پښتونخوا نوم کۀ څوك نۀ منی. نو دې سیمی ته دې په ګندهارا یاروهستان کښې یو نوم خوښ کړی. بلکې روهستان دې علاقی ته د پخوا نه وائی. نو دا نوم زیات مناسب دے . د شېدا شعرونه دی.

خان استاد د تمام روه دے
دے دانا په هرګروه دے

یا

په هندی ادا ئی وکړې په ما چاری
زۀ شېدا په روح ساده دروه افغان یم

اثر افغان هجری وائی.

قاصدان له روهه نۀ راځی مدت شو
سلام باد رارسوی منت ئې سم دے

*هما: ښه جی. رښتین صاحب! ستاسو ډېره ډېره مننه چې تاسو مونږ له دومره وخت راکړو او په هره موضوع مو راسره دومره په تفصیل او په روڼ تندی خبرې وکړې. اوس راته خپل څۀ کلام عنایت کړئ.*

رښتین: زۀ بنیادی طور سره نثر نګار یم، شاعری مې ډېره نۀ ده کړې خو دلته (خندا) یو دوه رباعی وړاندې کوم.

*هما: ارشاد.*

رښتین:

له مړینی ورستو یو خل به راشے
قبر زماله کۀ وفادار وې
هم به نثار کړې ګوهر د اوښکو
زما د خاورې کۀ رښتین یار وې

**رښتين:** دويمه رباعي ده.

هر سړی لره په کار لاس خوزؤل دی
دے متل د کونډې څوېه! څۀ خوبوېه
ګټه وټه هم د خپلو لاسو خوند کړه
وائی ښۀ ده خپله لور د پردی څوېه

***هما: تاسو سره مېلس، ستاسو علمی خبرو ډېر خوند وکړو. ډېره مننه.***

**رښتين:** مننه.

# د اجمل خټك سره مرکه

نېټه : ۲۴ جنوري ۲۰۰۲ء

ځائې : د اجمل خټك حجره. اکوړے.

يادؤنه:

*اجمل خان، د ادبي نړی اجمل خټك، چې اوس په ادبي محفلونو او سياسي غونډو کښې د بابا په دروند نوم بللے شی، د ستر قامي مبارز خوشحال خان خټك په درنه کورنۍ کښې په کال* ***۱۹۲۵ء*** *کښې اوزيږيدۀ. د اکوړی تاريخی کلے د هغۀ زيږون ځائې او حکمت خان ئې د قدرمند پلار نوم دے. د مډل سکول د استادی نه ئې د عملی ژوند ابتداء وکړه، په ريډيو کښې پاتې شو، د څۀ مودې د پاره ئې د صحافت دنده ؤکړه بيا د خدائی خدمتګار د قامی تحريك سره د پخوانی تړون د پس منظر لاندې ښۀ پوخ سياست ته راغے. په دغې ډګر د يو دروند مقام سختن دے. زۀ هغه د فخر افغان خان عبدالغفار خان المعروف به باچا خان د سياسی فکر وارث ګنړم. خو د اجمل خټك د پيژندګلو بنيادی حواله ئې هم ادب دے.*

*د خوشحال خان خټك نه پس په پښتو کښې د قامی شاعری د روايت بېرغ د اجمل خټك په لاس کښې دے. هغۀ د خپل روښانه فکر په ډاډ د ملی شعور د خورؤنی حق تر سره کوی. د هغۀ شاعری د پښتون قامولی په بنياد د رومان رنګه انقلابی فکر يو ښۀ مثال دے. په ادبی تخليقاتو (افسانه او ډرامه) کښې ئې د مترقی نظرئې نخښې ځرګندې دی. قامی سر لوړی، د خپلې*

خاورې سره مینه ئې د سیاسی مفکورې بنیاد دے.

د غیرت چغه، باتور ته عقیدت، د وخت چغه، ګلونه تکلونه، خوند رنګ او ګل پرهر د اجمل خټك شعری مجموعې دی. دا زهٔ پاګل ؤوم، د قېدوبند د تکلیفونو اثری یاداشت دے، "ژوند او فن" د خپل همعصر شاعرانو په کلام کښې د ژوند او فن د لټون یوه فکری او علمی هڅه ده. کچکول، د اخباری کالمونو مجموعه ده، "جلا وطن کی شاعری" په اردو کښې د جذبو د اظهار کوشش دے، لا به یو کیږو ګنې روکیږو، مونږ او منزل، عوامی جمهوری تحریك، سره جهنډه، فکر او عمل په نامه رسالو کښې ئې د خپل سیاسی فکر څرګندؤنه کړې ده. سرې غونچې ادبی مقاله، او د افغان ننګ، د ځنې ژوندی کردارونو په افسانوی رنګ کښې بیان دے. ددے نه علاوه د پښتو او اردو مجلو کښې د اجمل خټك بېشمېره علمی او تحقیقی لیکونه او افسانې خورې دی. "قیصه زما د ادبی ژوند" په نامه د هغهٔ یو ناچاپه اثر دے. چې پکښې هغهٔ د خپل ژوند یاداشتونه په ډېر اثری انداز کښې لیکلی دی.

د خپلو غورځنګی تخلیقی صلاحیتونو او د سیاسی فکر د روښانتیا په وجه اجمل خټك د پښتو په ادبی او د ملك په سیاسی تاریخ کښې د قدر وړ ځائې بیا موندې دے.

(هما)

هما: السلام علېکم نن د جنوری ۲۳ م تاریخ او د زیارت ورځ ده. او مونږ د دروند پښتون، د روان عصر نوموړی دانشور، ستر لیکوال، د یاد شاعراو دقامی سیاست یوځلنده شخصیت،

نباغلی اجمل ختك سره د هغوئ په حجره کښی ناست يو.

ختك صاحب! کۀ تاسو ته ياد وی نو څلور کاله وړاندې ما تاسوسره د ريډيو د پاره يوه مرکه کړې وه. ما ضروری اوګڼله چې يو ځل بيا تاسو سره ملاقات وکړم. قيوم منظر ته مې ووې چې ددې د پاره تاسو نه وخت واخلی. ښۀ وه تاسو مهربانی وکړه او زمونږ خواست مو قبول کړو. مونږ ټول (قيوم منظر، وکيل شاه فقير خپل) نن چې تاسو له راغلی يو، ادبی خلق يو نو ځکه زمونږ خبرې به هم ستاسو د ادبی ژوند په حقله وی. زۀ دا ګڼم چې ستاسو د شخصيت د پېژندګلو بنيادی حواله ادب ده. او دا زما ذاتی رائې ده چې کۀ تاسو د ادب په محاذ خپل ټول ژوند تېر کړے وے نو دا به د پښتو ادب، ژبې او ثقافت د پاره نوره ډېره ګټوره خبره وه. تاسو د خپلو سياسی غورزو پرزو په حواله هم د ملك په قامی سياست کښې يو لوړ مقام تر لاسه کړے دے .خو زمونږ د پاره ستاسو ادبی ژوند زيات ارزښت لری او هم دا به د پښتو په تاريخ کښې ستاسو د دوام بنياد او وجه ګرځی. ما تاسو سره د ريډيو په مرکه کښې هم خبره د ژوند د حالاتو د تپوس نه شروع کړې وه. او هغه ځکه چې د يو انسان د ژوند ابتدائی ورځې د هغۀ د نفسياتو په جوړښت کښې لوئے لاس لری، د هغۀ په فکر او نظرياتو اثر پرېباسی او د هغۀ شخصيت تشکيلوی. نو زۀ تاسو ته خواست کوؤم چې تاسومونږ ته ښۀ په ازاد مټ د خپل ژوند د ابتدائی ورځو په حقله معلومات راکړئ.

**اجمل ختك:** راته ګرانه، او ډېره خوږه! ستا د ژوند د اولنو ورځو نه، ماشوموالے ورته اووايم کۀ نوې زلميتوب ورته اووايم. داسې

تاسره چې زماکوم تعلق دے د مینې ، ادبی ، عزیز ولی او د خپلولی. نو په هغې تهٔ ماته ټول عمر ګران ئی. په دې لحاظ زهٔ وایم چې تهٔ زما د ادبی سرګرمو او سیاسی ژوند نه زیات واقف ئې. نو څنګه چې تهٔ ماته ډېر نزدے ئې نو داسې به زهٔ هم تاته ډېر نزدے یم، نو تا چې شروع وکړه او زهٔ چې په خپلو یادونو زور اچوؤم نو ډېر څهٔ رانه هېر شوی دی خو شروع به زهٔ ددې نه وکړم. زهٔ چې ماشوم ؤوم نو زمونږ په کور کښې یوه کوټه وه. په هغې کښې به پنځهٔ شپږ کټونه پراتهٔ ؤو، هم به پکښې انغرے ؤ، هم به پکښې بیزه تړلی وه، هم به پکښې میچن وه، څو پکښې کتابونه ؤو. کټوی مټوی به پرتے وے. ماته داسې یاد شی چی زهٔ به د مور په غېږ کښې پروت ؤوم او هغې به مېچن اوړوله. دا هم راته یاد شی، چې دا مېچن به ئې اکثر د بل د پاره په بیعه اوړؤله. بیا چې روان شوم پښې مې وکړې نو یوه ورځ زمونږ د کور خواته زما د خور کور دے، پخوا دغلته زمونږ عزیزان اوسېدهٔ نو ماشوم ؤوم، نیمې خړپوسې، نیم روان، په دېوال به مې لاس کېښودهٔ، دغی کور ته تلم نو په دې کښې ددې حجرې د مخې نه باچا خان راغلو سره د جلوسه نو زهٔ اوېرېدم او د دېوال سره اودرېدم، نو هغه چې زما خوا ته راورسېدهٔ نو هغهٔ راته په سر لاس کېښودهٔ او راته ئې ووئیل چې بچې! مونږ دا هر څهٔ ستاسو د پاره کؤو، هر څهٔ چې ؤو، پما ئې داسې څهٔ چل وکړو. زمونږ دا حجره د خټکو په دې علاقه کښې د نوښار، پیر پیائی او د پبو نه راپه دېخوا دا د خدائی خدمتګارو مرکز ؤ. د هغې وجه دا وه چې باچا خان پخپله د اتمانزو ؤ او ددې خائې دا خواری کښې به اتمانزو ته تلل راتلل. دغلته به د کابل او

بره علاقو ته په ګوډو کښې غوږی راتلل. ددغې ګوډو اخستو د پاره د اکوړی کسب ګر کټیګان به ئې ورته وے اتمانزو ته تلل. دغه ګوډی به اکوړی او ډبګری ته دوئ اوړل او هلته به ئې ترې پخې څرمنې جوړولے. دا ډبګری ورته ځکه وائی چې هغلته به دغه کار کېدو، دب ګری، یعنی د کچه څرمنې نه پخه څرمن جوړول. د باچا خان زمونږ د کلی کریم کاکا سره همخولتیا وه. ککې زئی خټک ؤ. هغه زمانه کښې به ئې ورته کټیګان وئیل. خټک ختیکان. نو باچا خان به د هغوئ حجرې ته راتلو نو دا شان زمونږ دا کلے د خدائی خدمتګارو مرکز شو.

***هما: ډېر ښۀ معلومات دی. د هغې وخت نور څۀ یادونه.***

**اجمل خټک:** وایم درته... په هغه زمانه کښې خټک څوګروپونه ؤو. مونږ خان خېل خټک یو. دې خان خېل (قیوم منظر ته اشاره ده) دے، مونږ د یو ټبر یو. او دؤی ته فقیر خېل وائی (میاں وکیل شاه ته اشاره ده) د فقیر بابا (میاں جمیل بیګ) اولاد دے. د خوشحال بابا اولاد ته خان خېل وئیلے شی. نو په اکوړی کښې یوه هغه کورنۍ وه چې د انګرېزانو د فرانس او د شاه شجاع سره ملګرې شوه. د هغۀ د پاره ئې د•کابل تخت اخستو. بله هغه ډله وه چې د کابل د هغې وخت د باچا ملګرتیا ئې کؤوله. زمونږ دا دویمه ډله وه، نو کله چې پېرنګیان راغلل نو دوی ئې خانان کړۀ او مونږ محروم شو. نو باچا خان په دې لحاظ به هم دلته راتلو ځکه چې د پېرنګیانو زمانه وه. بل خوا تلے نۀ شو. نو زمونږ کلے مرکز شو، نو زۀ چې ماشوم ؤوم نو دلته حجرې ته به راتلم. مشران به ناست ؤوه مجلسونه به کېدۀ او مونږ ماشومان به د هغوئ د

کتهونو شاته ولاړ ؤو.

***هما: اوس به راته په سکول کښې د خپلې داخلې قیصه وکړئ. د هغې وخت ماحول... څهٔ خبرې.***

**اجمل خټك:** راځم درته. زما پلار وئیل چې زهٔ خپل زوئ سرکاری مدرسې ته نهٔ بوځم نو زهٔ ئې په اول خل جماعت ته بوتلم. ما هغلته عبدالقیوم استاد سره سبق شورو کړو. په وړومبی ورخ چې لاړم نو دوه درې هلکان ناست ؤو. یو پکښې علی حېدر راته یاد دے. اوس هم شته، دله زاك دے، د دې کلی مشهور سړے دے. دوئی گلستان لوستو. ما چې وړومبے ټکی زده کړے دے. ماته یاد شی هغه ؤ طائفه. دا د گلستان یوه قیصه ده. نو ورو ورو ما هغهٔ سره (عبدالقیوم استاد یاده وی) سبق وئیلو. گلستان، بوستان، زلېخا دغه شان مختصر. فارسی کښې کریما او ورسره نور کتابونه، خلاصه، منیا، بیا چې لوئے شوم. نو هېډ ماسټر دلته کښې راغلو زما پلار ته ئې ووې چې دا زوئ دې راکړه چې داخل ئې کړم، زما پلار هغه وخت کښې ډېر بوډا ؤ. نو چې لاړم نو هغه ډائرکټ (Direct) په دویم جماعت کښې داخل کړم.

***هما: دا جې کوم سکول ؤ؟***

**اجمل خټك:** دا د اکوړی سکول ؤ، اوس پکښې د جینکو سکول دے.

***قیوم منظر: د چکړی سکول به ئې چې ورته وئیل؟***

**اجمل خټك:** هو. دا مډل سکول ؤ. د صوابی پورې هلکانو به تر اتمه دلته سبق وئیلو د هغې نه پس د سړك سره خوا کښې دا بل

جوړ شو. موتږ چې کله سبق وے . پنځم نه چې شپږم ته شو نو په پنځم کښې انګریزی راغله، دا وړومبے ورنیکلر (Vernacular) مډل ؤ. دا اتم به چې چا پاس کړو نو یو کال به ئې جونئیر سپېشل کلاس (Junior Special Class) وے . بل به ئې سینئر سپېشل کلاس (Senior Special Class) وے او انګریزی به ئې زده کړه، نو بیا به په نهم جماعت کښې داخلېدو. ما چې اتم پاس کړو نو بیا لاړم د پېښور په ګورنمنټ هائی سکول کښې د انګرېزۍ د پاره داخل شوم، هغلته جونئیر سپېشل کلاس ؤ. دلته بله واؤره . زما مشرانو وئیل چې زۀ څلورم پاس کړم اولیکل زده کړم نو زما د نورو رونو، تربورانو په شان، زۀ به هم د شیدو د خپل عزیز محمد علی خان ټېکه دار سره لاړ شم، نو زۀ به ورسره منشی شم. ما چې څلورم پاس کړو نو وظیفه مې وشوه. دوه روپۍ، نو مور مې وئیل چې ماته اوس د نورو پېسو ضرورت نیشته د روپۍ دیارلس سېره غنم راوړو. اتم چې مې پاس کړو نو په ټوله صوبه کښې اول راغلم نو بیا مې وظیفه وشوه، څلور روپۍ. نو بیا مې د کور خلقو دا فېصله وکړه چې په دې څلور روپو نور تعلیم کؤل پکار دی. په دې به ګزاره هم کؤو نو اوس لاړ شه په پېښور کښې داخله واخله نو د جونئیر سپېشل کلاس د پاره ګورنمنټ هائی سکول پېښور کښې چې د کچهرۍ نه بهر اوس هم شته هغلته داخله واخسته، دا د ۱۹۴۲ وخت ؤ نو په دغې ورځو کښې هغلته ایجیټیشن (Agitation) شروع شو. کوئیټ انډیا (Quite India) انګرېزانو د ملك نه اوځئ. نو زۀ خو دلته نه خدائی خدمتګار ؤوم. دلته نه سکاؤټ لاړؤوم. دلته نه فټ بالر لاړؤوم نو په هغې سکول کښې

زما يو پوزيشن شو. نو د هغې پوزيشن سره مې يو پوزيشن دا هم واخستو، په کوئيټ انډيا مومنټ (Quite India Movement) کښې د پېښور ښېر سکولونه به مونږ بندؤول. يونس خان چې اوس په دهلي کښې مړ شو، د يحيیٰ خان ورور ؤ. ډېر لوے سړے ؤ. دے زمونږ مشر ؤ او زهٔ ورسره کشر وؤم. نو په هغې سلسله کښې يو شپه په کنګهم پارك چې دا لا جوړېدهٔ، پټ ميټنګ ؤ، په هغې کښې راباندې ايډيشنل پوليس راغے، مونږ ئې اووهلو. زهٔ ئې اوپېژندم او د ګرفتارۍ آرډر اوشو. نو د بورډنګ هاؤس سپرنټنډنټ چې د سوات ؤ، زهٔ ئې رااوغوښتم . زهٔ د بورډنګ مانيټر هم ؤوم. هغه ماته ووې چې پتا پسې وارنټ دے. يو سکهـ هيډ ماسټر ؤ، هغه هم راپسې د شپې راغے نوزهٔ د بورډنګ هاؤس نه د بجلۍ په ستن راکوز شوم او راؤتختېدم. سکول رانه داسې پاتې شو.

***هما: تاسو نور تعليم پرائيوېټ حاصل کړو، تاسو په سکول کښې استادي هم کړې ده؟***

**اجمل خټك:** وايم درته. په دغې دوران کښې د کېمپ حکم راغے، ګورنمنټ راغے ، زهٔ په خوړه کښې مفرور ؤوم نو ماپسې سوال جواب اوشو چې راشه په فټبال کښې به هم حصه واخلے او کېمپ ته به هم لاړ شے نوچې کېمپ ته لاړم، دمتوړ ته (په ايبټ اباد کښې دے ) نو چې واپس راغلم نو شپه مې په بورډنګ کښې وه پټ ؤوم، مفرور ؤوم نو په سحر هم په دغې سکول کښې د استاذانو د پاره امتحان ؤ. زمونږ د کلي سردارحسين ان ټرينډ سټر (Untrained Teacher) ؤ. هغه ماته وئيل چې راشه

مخکښې کېښنه، ته ليکه، زهٔ به تانه نقل کؤوم نو زهٔ به پاس شم. په دې کښې ظفر احمد خان په هغې وخت کښې ډسټرکټ انسپکټر ؤ د طورو معيارو، هغه تېرېدو. زما خط ته ئې اوکتل، ماته ئې ووې چې تاخو په دے نوم نهٔ دې ليکلے، ما ورته ووې چې زما نوم اجمل خان دے، وئيل ئې په دې اوليکه. نو چې بيا کله ټسټ ختم شو نو ظفر احمد خان اعلان وکړو. چې اجمل خان دې راشى او ما ته ئې اړډر راکړو او زهٔ په زيارتِ کاکا صاحب کښې استاد شوم.

***وکيل شاه: شاعرى تاسو د سکول په دوران کښى شروع کړې وه؟***

**اجمل خټک:** زما اندازه داسې ده چې په دې کلى به سيند راختو. يو ځل چې سيند راغلے ؤ نو مونږ دې سړك ته ختلى ؤو. بل ځل چې راغے نو مونږ ايسوړوته لاړو، نو زنانه ؤ وئيل چې د نيکهٔ قبر ته ځو. يو به غائب بابا ته خيژو، او نيکهٔ قبر ته به ځو. هلته چې ما قبر اوليدو نو په وښو او خاورو کښى پټ ؤ نو ما داسې اوليکل چې خلق بنګلو کښې اوسى خانان دى. خدائے خبر چې دا شعرونه ؤو کهٔ نه، خو خلقو وئيل چې دهٔ شعرونه ليکلى دى. د هغې نه پس د خوشحال بابا مشاعره وه. په کال ۱۹۳۷ء يا ۱۹۳۸ء کښې نو شاعران دلته ډېره ؤو. خليق صاحب ؤ، ساقى صاحب ؤ، رسا صاحب ؤ. (د خپلى حجرې خبرې کوى) دلته يوه کوټه وه وړه غونډې. د هغې انتظام د زرين خان، د ګل کاکا سره ؤ. په مېلمستيا جګړه وه. ايسوړوالو وئيل چې دا زمونږ مقبره ده، مونږ به مېلمستيا کؤو. رمضان بټيارى په خره د مشاعرې د پاره څهٔ سامان بار کړو. زهٔ او زما ملګرى ميراکبر مونږ ماشومان ؤو،

ورسره روان شو. دا زما د سکول زمانه وه. حمزه صاحب (حمزه شنواری) ما په وړومبی خل دغلته لیدلے ؤ. نو دغلته به چې هر څوك پاسېدو نو بدخشان وینمه، حېران وینمه. ما سوچ وکړو چې دا خو اسانه خبره ده نو هلته ما هم په لاره باندې يو څو شعرونه اوئیل. ے

په ایرو کښی خلقه لعل د بدخشان وینمه
خکه ترې چاپېره د سرحد ټول شاعران وینمه

په دې کښې نرے باران شروع شو. حمزه صاحب تکه توره ګیره، ښهٔ ځوان، خلقو وئیل چې حمزه صاحب راغے، دا شاعری هغلته نه شروع شوه. دا بیا ما عبدالقیوم استاد ته اوښودله نو هغهٔ راته وئیل چې شابه دا لیکه.

***وکیل شاه:** یو شعر دے چې په یوه پانړه درج دے په ۱۹۴۲ء کښې تاسو لیکلے دے تاسو په هغی لیکلی دی چې دا وخت زهٔ د شلو کالو یم.*

**اجمل خټك:** دا ما پخپله لیکلے دے؟

***وکیل شاه:** هو جی! دا تاسو خپله لیکلے دے . په پنسل جی! چې زهٔ د شلو کالو یم دا ۱۹۴۲ء دے . دا د "پېښور تاریخ" دے. راجه ګوپال داس لیکلے دے، تاسو پرې په پنسل دغه لیکلی دی.*

**اجمل خټك:** په دې کښې شك دے . زما داسې اندازه ده چې زما نه مشره خور وه، اوس اوس مړه شوه. دهغې وېنااودمحمدعمر استاد وېنا دا وه. چې زما د پېدائش کال ۱۹۲۵ء دے .

***هما: اوس به جي، ستاسو د ریډیو په ژوند خبرې وکړو، ځکه چې دغه ستاسو د ژوند یادګاری وخت ؤ. په دغې ملازمت کښې تاسو ددغې ادارې د پاره ډېر لوئے کارونه کړی دی، نوې خلق مو متعارف کړی دی، نوې پروګرامونه مو شروع کړی دی، ډرامې او فیچرونه مو لیکلی دی، د موسیقی پروګرامونه مو ترتیب کړی دی. د نوی طرزونو بنیاد مو ایښے دے. په دې هر څۀ راته خبرې وکړئ.***

**اجمل خټک:** اول خودا واؤره.اسلم خان د ادم زو، زۀ ولیدم نو بو ئې تلم، په پولیس کښی ئې تانړدار برتی کړم. نو چې په کومه ورځ برتی شوم نو مازیګر څۀ ګورو چې هغه سړی، چې دلته ئې کار کؤو هغې بل سړی له ئې لته ورکړۀ او ورته ئې ووې چې تۀ کۀ کېدې ئې، هر څۀ چی ئې، دلته به د خر غوندې کار کوے. ما چې دا واؤرېدۀ نو رااوتښتېدم. هغه داسې، چې مونږ ته ئې ووې، ورشۍ کورونو ته کټ (Kit) راوړئ، یعنی لباس جامی وغېره، سبا به هنګو ته خو.نو چې زۀ راغلم بیا لانۀ ړم. نو په دې اثناء کښې چې رااوتم د پولیس لائن نه. نو سمندر صاحب مې اولیدو، ښۀ په چرت کښې روان ؤ. هغه به ډېر چاق ګرځېدۀ. زۀ ئې د ماشوموالی نه پېژندم. په مشاعرو کښې ئې لیدلے ؤوم. دغلته به چا وئیل چې دا د خلیق صاحب زوئ دے چا به وئیل د سمندر صاحب زوې دے نو سمندر صاحب راته وئیل. راځه، نو هغۀ رېډیو ته بوتلم هغلته قاضی سعید ؤ، شوکت الله اکبر ؤ.

***هما: دا کوم کال ؤ؟***

**اجمل خټک:** دا د ۱۹۴۸ء زمانه وه. دغه ټول هغلته ناست ؤو، په زوړ سټېشن کښې، قاضی سعید ما ته اووئیل چې ته څۀ کار کوے؟ ارباب هدايت الله هم په دغې وخت کښې راغے ، دوی ټولو خپلو کښې څۀ خبرې وکړې او زۀ ئی سکرپټ رائیټر واخستم. ما ته دا پته نۀ وه، خو سمندر صاحب دوی دا فېصله وکړه. زۀ بیا په اپرېل ۱۹۵۳ء کښې اونیولے شوم.

زۀ چې دغلته (رېډیو ته) لاړم نو ما ته ئې ووې، تۀ د سید خان روښان ډائیلاګ اولیکه، سمندر صاحب راته یو زوړ ډائیلاګ راکړو، بس په دغه نمونه مې اولیکلو. نو یو څوا ئې راته د سید خان روښان ډائیلاګ راکړو. په میاشت کښې دوه ډرامې، د خطونو جوابونه، د موسیقۍ د پاره سندرې، دا زما ډیوټی شوله. خو مستقل ډیوټی مې ډائیلاګ لیکل ؤو. او یوه ډرامه او فیچر به هم ؤ. هوس به راشو موسیقۍ ته.

***همـا: نه جی، د دوستانو خبرې اترې وې . د پېښور رېډیو ډېر مقبول پروګرام ؤ. په هغې کښې مستقل کردارونه ؤو. دا کردارونه چا تخلیق کړۀ او دا پروګرام څنګه شروع شوے ؤ.***

**اجمل خټک:** دا داسې وشوه کنه . قاضی او هدایت خان پروګرام به سمندر صاحب لیکلو. سید خان روښان به ما لیکلو. رحیم شاه نسیم او ګل محمد به کولو. سمندر خان او عبدالله جان مغموم به د قاضی او هدایت خان پروګرام کولو. ارباب هدایت الله خان انچارج ؤ. نو موږ کښیناستو زموږ د کلی یو سړے ؤ، پېنده خان، د عجب ګل پلار، ټوقمار سړے ؤ، د یو کردار نوم مو دا کېښودۀ. دا به عبدالله جان مغموم کولو. یو پکښې ګل احمد خان ؤ دا

شهزاد خان جوهر جوړ شو. او شاه پسند خان، رحیم شاه نسیم شو. دا د چارسدې ؤ، کله نا کله به پکښې توکل خان هم راغے، دا ګل محمد خان ؤ. بهترین کردار، کامیاب کردار توکل خان کړے دے، نو دې پروګرام د پاره، د ډول سرنا سره الملك الغازی امان الله خان. نو په دې وزن مونږ Signature Tune جوړ کړو، دا ټیون اوس هم هغه دے. زهٔ ئې چې واؤرم، نو ما ته راياد شی. دا زما او د ارباب هدايت الله خان کار ؤ زما او د هغهٔ يارانه وه.

***هما: اوس به د موسيقۍ په هغې طرزونو خبرې وکړو چې تاسو په ريډيو کښې وئے او بدلون مو پکښې راوستے ؤ. کار مو پرې کړے ؤ.***

**اجمل ختټک:** دا خو داسې وه کنه. چې زهٔ دلته په حجره کښې پروت ؤوم نو دلته ښکته اورا تېرېدهٔ. د چا وادهٔ ؤ، دا سندرې چې ما واؤرېدے، نو ما وئيل چې دا سندرې خو د هغې نه ډېرې خوږې دی. کومې چې په ريډيو کښې نشر کيږی. مغل خان دوی (د سندرغاړی نوم دے) دوی به په اردو طرز باندې غزل ليکلو نو د ګلستان استاذ زوئی عبدالله جان به هغه په خپل طرز باندې وے نو زهٔ قاضی صاحب (قاضی سعيد) له لاړم او ورته مې ووې چې سندرې خو دانهٔ دی، هغه دی. نو مونږ بيا وريسې شو.قاضی صاحب د ټولی صوبې دوره وکړه، سبز علی استاد ورسره ملګرے ؤ. نو دوی سندرې راجمع کړے، يو غټ کتاب ئې ترې جوړ کړو. په هغې وخت کښې فدامطهر به سندرې جوړؤلے "د ښار په خوا خوا کښې پنځهٔ پيران دی ياره". "نوې اتبار دے پېو بابا له

خمه" فدا مطهر به هم ښکلې ښکلې سندرې ليکلے خو زيات رنګ به دا ؤ. دا هر څهٔ چا بند کړهٔ. د پېښور رېډيو سټېشن يو ډائرکټر ؤ. ن.م. راشد، هغه چې دا واورېدهٔ، وے دا هر څهٔ ختم کړئ. قاضی سعيد هم Research کوؤلو. خو زهٔ يوه ورځ بنون ته تلے ؤوم. چرته چې ډېره ؤوم نو نزدې، يو کور کښې يوه سندره چا وئيله. شېر افګن نو مې يو هلك ؤ، د هغهٔ پلار زمونږ زوړ خدائی خدمتګار ؤ. هغهٔ راته ووې، چې دلته يوه جينی ده، ګلنار بېګم. دلته چې راتلم، نو ما خپلو ملګرو سره خبره وکړه. قاضی سعيد، شوکت الله اکبر ارباب هدايت الله ؤ، دا ښهٔ ټيم ؤ، ټول درانهٔ پښتانهٔ ؤو. نو دوی دارنګ کار وکړو، چې زړې سندرې ئې شروع کړے، ورته به اولسی سندرې ووايو، بله واؤره. د بالا مانی يوسف خان (اورك زئی) يو خل مونږ له په خپل ارټ کښې ډوډی وکړه، يو سړے لګيا ؤ، خاشنهٔ ئې صفا کوؤل. او ټپه ئې کوله. ما چې د يوسف خان نه تپوس وکړو، چې دا هلك څوك دے، نو هغهٔ راته ووې چې دې ډېرې ښې ټپې کوی. ما وے راشه ټپه وکړه. هغهٔ وکړه، ما ورته ووې رباعی وئيلے شے؟ دا احمد خان ؤ. په سبا قاضی صاحب اوغښتو. ډائرکټر ووې چې ددهٔ نه ښهٔ اواز بل نشته. بيا ګلنار بېګم راغله، بادشاه زرين جان راغله، بيا داسی وشو، چې ما به ميوزيکل فيچر ليکلو، سبز علی خان او بادشاه زرين جان به وئيلو. د هغی مصرعی دی.

د زلفو په ټالونو کهٔ څنګيږے نو راځه
بی جامه، شرابو نه مستيږې نو راځه

*هما: دا لګه. د برغيزو سندرو تجربې وې.*

**اجمل خټک:** دا زما پروګرام ؤ. پلوشې، ددې پلوشې په نوم د سندرو یوه کاپی بادشاه زرین جان سره پاتی شوه او ډېرې زیاتې سندرې سبز علی خان سره هم وې . درا صل ما به درې قسمه شاعری کؤوله، یو د ګېډې براس، یو د زړه تاؤ، بل د ذهن چغه، نو دغې ته به ما د ګیډې براس وئیل، ما هغه د ځان سره نهٔ سمبالوله. نو دا د میوزک خبره شوه اوس وایه.

***هما: اوس به راته د خپلو ریډیائی ډرامو په حقله معلومات راکړئ.***

**اجمل خټک:** هغه داسې ده چې ماله یوسف بنګش د اردو یوه ډرامه راکړه "انتقام". وے دا ترجمه کړه. ما د وینو جام ډرامه کتلی وه.نورې ډرامی مې هم لوستی وے . د ترقی پسند ادب مطالعه مې هم وه. نو ځکه ما د هغې په ځائې خپله یوه ډرامه اولیکله ، د هغی نوم مې هم "انتقام" کېښودهٔ. ما ورته دا اونهٔ وے چې ګنی دا ترجمه نهٔ ده، زما خپله ده. هغهٔ وے دا خو ډېره ښهٔ ده. د هغې نه پس مې میاشت کښې یوه ډرامه لیکله، داسی مې بې شمېره ډرامې اولیکلے .

***هما: د جېل نه د راتلو نه پس ستاسو د ژوند نور واقعات...***

**اجمل خټک:** هغه داسې وشو، چې زهٔ کله هائی کورټ پرېښودم نو ماته بیا د ریډیو د ملازمت اووئیلے شو، چې تنخواه به زړه درکؤو نور Increments به درکړو، اقبال صاحب په هغې وخت کښې ډائرکټر ؤ. هغهٔ ما سره ډېر ښهٔ کړی دی، زما ټول رېکارډ ئې صفا کړے دے. زما د ریډیو ټولو ملګرو ډېره زیاته زما

ملګرتیا کړی ده. خو بس زما زړهٔ بیا تور ؤ، لانهٔ ډم. ډائرکټر انفارمېشن شېدا صاحب (فضل حق شېدا د پښتو یاد شاعر) هم ما ته د جمهور اسلام د ادارت ووېٔ خو زهٔ ورته تیار نهٔ شوم. سردار رشید ډېر پښتون سړے ؤ. هغهٔ Secret Documents په اسمبلی کښې اوښودل، چې پکښې د پښتنو خلاف په ون یونټ کښې کوم سازش شوے ؤ. سردار رشید د پښتنو ډېر لوئے خدمت کړے دے.

***هما: د پښتو اکېډیمی هم په دغه وخت کښې جوړېده، د هغې په حقله راسره خبرې وکړې.***

**اجمل خټك:** د نن پرون رساله هم ددغې سلسلې کړی ده. مونږ قوم پرستو په ډېر زور شور سره دا جنګ شروع کړو. جنګ دا ؤ چې جرمنیانو وئیل دا (پښتانهٔ) ارین دی او پېرنګیانو وئیل چې بنی اسرائیل دی بهر حال دا یو جنګ دے، صحیح دے کهٔ غلط دے. بیا د پښتو خبره پکښې راغله. د ژبې د رسم الخط خبره پکښې راغله، دا ټولې خبرې مسلسل راتلې، دا ډېره اوږده قیصه ده دا به درته بیا اوکړم نو. په دې سلسله کښې دوی، مولانا عبدالقادر او اسلم خټك مرکزی حکومت ته ووې چې پښتو اکېډمی جوړه کړئ. ما ته علی خان (د ولی خان کشر ورور، ماهر تعلیم د پېښور او د ګومل یونیورسټی پخوانے وائس چانسلر) او فضل رحمان لالا د جلبی راغلهٔ، چې مبارك دې شه، پښتو اکېډمی جوړیږی او مولانا عبدالقادر به ئې مشر وی او وائی چې تهٔ به (ورته) راشې. ما انکار وکړو. اسلم خټك هم زهٔ رااوغوښتلم، او

راته ئی ووې چې ته به دا کوے، مولانا قادر راته ووې مولانا قادر هم ما سره زما په سیاسی سوچ کښې ډېر مدد کړے دے.

***همـا: دا موښږ د پاره یو انکشاف دے حالانکه هغه یو غېر سیاسی سړے ؤ، محتاط ؤ، په ښکاره داسې کارونو کښې نهٔ راګډېدهٔ.***

**اجمل خټک:** زهٔ درته یوه واقعه بیان کړم، چې کله دا فېصله وشوه، چې په ون یونټ کښې به د ګورنمنټ هاؤس نه هوټل جوړه وؤ. ما هغه وخت کښې په فارسی ایم. اے کښې سبق وې، نو دې ما پسې هاستل ته راغے او بنګلې ته ئې بوتلم، ما ته ئې وے خبر ئې دوی هوټل (ګورنمنټ هاؤس نه) جوړه وی. نو ورشه تحریك شروع کړه. ډویم امداد، کهٔ تاسو ته یاد شی د ایوب خان په زمانه کښې رائیټرز ګلډ جوړېدهٔ. مولانا قادر زهٔ راوستم ما ته ئې وئیل، راشه په سکریټریټ کښې ټول ادیبان ئې راغوښتی دی رائیټرز ګلډ جوړوی ګورے. ددې رائیټرز ګلډ معنی څهٔ ده. نو زهٔ اول خلیق صاحب له لاړم، هغه هم ښهٔ پوښېدلے ؤ او دا نور ملګری ټول، نو چې لاړو ، زهٔ په هغه وخت کښې په بانګ حرم کښې اېډیټر هم ؤوم. هغلته په ایم اے کښې مې سبق هم وئیلو. میټنګ چې شروع شو، هغلته یو برېګېډیر ؤ، د خان سره به ئې خان لیکلو، موښږ ته ئې وئیل، موښږ سره شامل شئ، ما ورته ووې چې موښږ به هله شاملېږو، چې د پاکستان شهریان (اوسېدونکی) شو، وے څنګه؟ ما وے افغانستان ته باچا خان تلو او زهٔ هم ورپسې تلم، ما رېډپاس د پاره درخواست ورکړو، زهٔ د ایس. پی.

په دفتر کښې ناست ؤوم، نو هر څوك چې تېرېدهٔ، دا جاړو چې وهي، ټولو له ئې رېډ پاس ورکړو. ما يوه ورځ تېره کړه، بله ورځ مې تېره کړه، ماله ئې رېډپاس رانهٔ کړو، ولې؟ په بلېك لسټ کښې ئې؟ ما وے هو! زهٔ په بلېك لسټ کښې يم. نو څنګه رائيټرز ګلډ کښې شامل شم، نو بيا ما او مهدی شاه باچا ته رېډ پاس راکړے شو. مونږ، زهٔ او مهدی شاه باچا کابل ته لاړو، رائيټرز ګلډ کښې شامل نهٔ شو.

***همّا: ستاسو شعري مجموعه ده. "د غېرت چغه" دا کتاب زهٔ د پښتو د قامي شاعرۍ يوه اهمه حواله ګڼم. دا کتاب ډېر فني او موضوعاتي خواږهٔ لري. زمونږ د ملك د يو خاص دور د سياسي چاپېرچل عکاسي کوي، په هغې پابندي اولګېده.***

**اجمل خټك:** "د غېرت چغه" نه وړاندې ما روايتي شاعري سره سره په ادب کښې افسانه وليکله، په وهاب دين دهقان. غريب سړے ؤ. دهقاني به ئې کوؤله د هغهٔ د بې وزله تزنبدلی او خوارووزار ژوند عکاسي مې کړې ده. غريب به ټوله ورځ يوې کؤوله په اخره کښې به ئې دومره غنم وشو، په دلو دلو. خو چې کله حساب کتاب به وشو، د مزکې مالك به ورسره حساب وکړو نو ورته به ئې ووې چې واؤره اے. شپږ شلې روپۍ درباندې نورې هم وختې. نو زما ذهن کښې سوال پېدا شو، دغې ورځو کښې ما سبق وئيلو، سکول کښې ؤوم. وهاب دين دومره خواري وکړی بيا هم قرضدارې کيږی. نو په هغهٔ ما افسانه وليکله، دويمه افسانه مې په هغې بوډی وليکله، سبق مې وئيلو په چهيانو کښې اميرو ته ...ے ؤوم. زما د ادب ابتداء، د ترقی پسند ادب ابتدا د دغې

ځائې نه شوې ده. نو مونږ به په اميرو کښې د پښمنې پاڅېدو نظام پور ته به راغلو، نو يوه لارې به راغله مونږ له به ئې پکښې ځائې راکړو، نو په دغې لارې کښې به مخکښې کېښناستو، نو يوه بوډې ، تورې جامې ئې اغوستې وې په غاړه کښې ئې څادر اوېزاند ؤ. په هغې کښې ورسره اگې وے. ترخ کښې ئې چرگه وه. ورسره کوئله (سکارهٔ) وه. دې بوډې ته چا ځائې نهٔ ورکولو زهٔ ورپاڅېدم، ځائې مې ورکړو، ما ورته وے ترور چرته ځې؟ وے دا اگې دی، دا چرگه ده، دا کوئله ده. دا خېر آباد ته وړم، خرڅوؤم، په دې به د هغې ځائې نه اوړهٔ راوړم، نو بيا به ئې پخوؤ او بيا به ئې خورو. دا زما هغه ابتدائي فکر ؤ او ادبې کاوشونه ؤو.

***هما: او شاعرې؟***

**اجمل خټک:** شاعرې مې هغه وخت شروع شوه، د روايتې شاعرې چسکه مسکه وه، ما د سکول زمانه کښې دريې کتابونه وليکل. ټکرې، لمبې، لوخړې.

دی هر قدم کښې ترې د سرو وينو ډنډونه پاتې
په دغې لاره څوك، د مينې لېونے تلے دے

يا دا چې،

په برخه مې کچکول دے
نو خېرونه څو به غواړم

***هما: دغه شاعرې څهٔ شوه؟***

**اجمل خټک:** زمونږ يو ملگرے ؤ. د پيرپائي عباد خان. هغه آل انډيا ريډيو کښې نوکرې له ټسټ ته تلو، وئيل ئې، ماله کتابونه راکړه، چې ورته اووايم، چې زهٔ شاعر يم. نو ما کتابونه هغهٔ له

ورکړۀ. بيا ترقي پسند اثر لاندې طبقاتی، ډېر شعرونه وليکل. جمع کؤولے مې خکه نۀ شو، چې دښمني وه. دومره ناجوړه ؤوم چې ډاکټرانو وئيل مری. نو مهدي شاه باچا سره څۀ موجود ؤو. هغه ئې جمع کړۀ، هغه ئې د "غېرت چغه" کښې چاپ کړۀ. او ماله ئې کټ ته راوړۀ، چې دا ستا کتاب دے. نو دا زما د ورکې شاعرۍ يوه برخه ده.

***وکيل شاه: د غېرت چغه نوم ورته چا خوښ کړے ؤ.***

**اجمل خټک:** دا ورته ما ايښے دے.

***هما: تاسو چې کابل ته لاړئ دا هم ستاسو د ژوند يوه اهمه واقعه ده. هغلته د يوې اوږدې مودې پورې مو د جلا وطنۍ ژوند تېرؤ، تاسو په تخليقی لحاظ سره دغه ژوند څنګه ګڼئ؟***

**اجمل خټک:** زۀ په سياست کښې ډېر مصروف شوم، نو دغه اړخ رانه نرم شو، افغانستان ته چې لاړم، نو د پاکستان د قبائيلو، د دنيا د تعلقاتو د معاملوپه وجه دومره بوج ؤ، نو شاعرۍ مې نۀ شوه کؤولے. کله چې بهر ته لاړم، نو اوګوره په يو چکر کښې مې "ګلونه پرهرونه" وليکل.

***وکيل شاه: د اردو شاعرۍ مو بهر ملکونو کښې کړې ده؟***

***"جلا وطن کی شاعری"***

**اجمل خټک:** هغه داسې وه، چې هندوستان ته لاړم، نوما د ازادۍ جنګ کړے ؤ. ما وے زما به ډېر قدر وی. خو چې لاړم نو هغلته ئې په يو خائې کښې ډېره کړم، په هسپتال کښې، نو په دې کښې د ازادۍ ورځ راغله ۲۵ جنوری، دوی څۀ اوکړل چې په هغې کوټه

کښې ئې تیلي وژن راته کښېنودۀ او راته ئې وے تماشه کوه. دلته مې دا مصرعه ووئيله جس شهر کے باسی تهے، مسافر ٹهرے دغې ځائې نه مې د اردو شاعري شروع کړه.

***هما: د "پټې خزانې" شخړه روانه ده. څوك ورته جعلي وائي څوك ئې اصلي ګڼي، د تقويم صاحب نظريه ده چې دا په ښۀ نيت ليکلے شوے کتاب دے.***

**اجمل خټك:** دا درته وايم چې تقويم ډېر مخلص، ډېر سوچه، ډېر صادق تاريخ دان، نقاد، شاعر او اديب ؤ.

***هما: تاسو سره ئې بې کچه مينه وه. زۀ ددې خبرې ګواه يم، ماسره به ئې اکثر ستاسو خبرې کؤلې.***

**اجمل خټك:** مانه واؤره همايونه! په يو څو کسانو کښې، په ډېرو لږو خلقو کښې د مينې نه علاوه چې زۀ د چا د قابليت قائل يم هغۀ يو تقويم صاحب دے. اوس به ستا د سوال جواب درکړم، داسې ده چې پښتو په حقيقت کښې په افغانستان کښې څۀ مودې راسې د ويښ زلمي په نوم يو تحريك شروع شو، پښتنو شروع کړو، نو د کابل غېر پښتانۀ يا د چا چې ژبه بدله شوې وه نو د هغوئ د شهنشايت نه جمهوريت طرفته رجحان ؤ هغې ته ئې د ويښ زلمي تحريك وئيلو.په دغې تحريك کښې ټول مشران پښتانۀ ؤو. د دوی د پښتو يو دور راغے، "طلوع افغان" اخبار به د قندهار نه وتلو، نو نورو خلقو باندې دا حرکت ښۀ اونۀ لګېدۀ، نو مقابله شروع شوه. د پښتو او د فارسي، نو په دې مقابله کښې د بل اړخ نه دا بحث شروع شو، چې د پښتو ژبه تاريخ، ډېره زړه نۀ ده. بلې ډلې

به وئیل، ډېره زړه ده، نو په دغې دوران کښې "پټه خزانه" چاپ شوه. زۀ د تقویم صاحب د وېنا تائید کؤوم چې په دې بحث کښې پرېوتل یو عبث خبره ده. دا په ښۀ نیت مېدان ته راوړے تاریخی دستاویز دے. او دې ادبی کتاب مونږ ته ډېرې دروازې پرانستې. د دنیا په ادب کښې په زړو خبرو کښې ډېر بحثونه شته. نو مونږ په دې بحث نۀ کوؤ دا یو بنیاد، یو تسلسل دے.

***هما: په یو یا دوه جملو کښې د خپلو معاصرینو په حقله خپله رائې څرګنده کړئ.***

**اجمل خټک:** وایه.

***هما: قلندر مومند.***

**اجمل خټک:** زما مئینه خوږه مسته قلندره.

***هما: غنی خان.***

**اجمل خټک:** ما پرې یو نظم لیکلے دے.

چې غنی چرته کښې کېښني هلته ګل شي
او چې زۀ کښېنم، نو وکرم غمونه

***هما: قمر راهی.***

**اجمل خټک:** زما په نزد هغه وخت کښې، لا پخوا غزل ؤ. چې غزل لا...... (خاندی) نور څۀ نۀ شم وئیلے.

***هما: ایاز داؤدزے.***

**اجمل خټک:** ایاز داؤدزے یو ډېر ښکلے. مخمور، د فکروادب او د شعور په دنیا کښې مقبول ؤ. ډېر ښکلے زلمے، مونږ سره په رېډیو کښې ؤ. زۀ تاته څۀ ووایم. زۀ د هغۀ د شخصیت، د هغۀ د

قلم، د هغهٔ د مطالعې او د هغهٔ د اظهاراتو ډېر قائل يم.

***هما: همېش خليل.***

**اجمل خټک:** همېش خليل د ماشوموالي نه په دې لېونتوب باندې سر دے، چې د پښتو او د پښتونولي لېونتوب دے. په يواخې خان ئې دومره کار کړے دے .چې په هغې وخت کښې ادارو هم نهٔ دے کړے . دهٔ چې څومره کار کړے دے .

***هما: مهدی شاه باچا .***

**اجمل خټک:** زما غونډې يو ملنګ سړے، ټول ژوند په دغی لار کښې، د پښتو د ليلا په لار کښې تېر کړے دے. بيا نظم ئې هم ووې، افسانه ئې وليکله ، تنقيد ئې وليکلو.

***هما: پير ګوهر.***

**اجمل خټک:** د امن شاعر، زما ډېر نيازبين، په دې لر بر کښې د امن داسې خوږه چغه، د امنٔ هغه معصوميت، چې په خلقو ښهٔ لګی. د هغهٔ شاعری هم خوند ناکه ده.

***هما: د پښتو ادب د موجوده معيار نه مطمئن يئ.***

**اجمل خټک:** زهٔ دا وايم چې کوانټيټی (Quantity) ډېره ده کوالټی ئی نشته.

***وکيل شاه: ستاسو د کتاب" افغان ننګ" څهٔ پس منظر دے.***

**اجمل خټک:** زهٔ چې په خپل ژوند کښې د افغانستان په حقله د کومو واقعاتو نه متاثره شوے يم. دا د هغې نه يو څو واقعات دی.

***هما: واقعات دی، خو په افسانوی رنګ کښې.***

**اجمل خټک:** ما چرې د افسانې د روايتی رنګ د فن نقل نهٔ دے

کړے . دغه شان په شاعرۍ کښې مې هم جدت پېدا کړے دے . په فنی لحاظ ما د چاربېتې تتبع کړې ده. مونږ به بحثونه کؤول د بزمی صاحب (نادر خان بزمیؔ د افسانو د ړومبی کتاب پلوشې مصنف . هما ) کتاب کښې ما په افسانه څهٔ خبرې کړی دی.

***هما: جی هو! دا د افسانې په فن ډېرې بنیادی خبرې وې.***

**اجمل خټک:** نو ما وئیل چې داسې افسانه ولیکم چې بیخی نوې وی. نو ما اساطیر، واقعات او فن، درې واړه یو ځائې کړهٔ. ما یوه افسانه لیکلی وه د "زهرا" په نوم . دا په "رهبر" نمبر کښې چاپ ده. یوه افسانه ما داسی ولیکله چې دنیا حسن پسې ګرځی نو حسن څهٔ پسې ګرځی. غنی خان چې دا واؤرېده، نو سر ئې ګرځؤلو. ارباب صاحب (ارباب هدایت الله خان د ریډیو پخوانے پروډیوسر د اجمل خټک ملګرے . هما ) د کلکتې د یو سړی سره مې پرې خبره وکړه. فلم ئې پرې جوړولو. لس زره روپۍ ئې ماله نغدې راکړې لس زره به ئې ورستو راکؤلې. د هغهٔ نه بیا راج کپور (د انډیا د فلمونو لوئے اداکار او ډائرکټر.هما ) فلم ئې پرې جوړ کړو ، په هغې دعوٰی وشوه چې دا خو د اجمل خټک ده. نو هغهٔ ماله د اعظمی (کېفی اعظمی د اردو شاعر ګیت نګار.هما ) سره راغلو. نو هغوی مونږ ته ووې، چې مونږ له لیکلے راکړه چې دا قیصی زمونږ ده، ګنی غرقوی مو. په کېلیفورنیا کښې راباندې کیس جوړ کړے دے . ما درې څلورو تنو ته لیکلی دی چې ماته ددغې فلم نوم ولیکئ، ورك نهٔ دے پېدا به شی، بیا ورته ما لیکلے ورکړهٔ. دغه شان ما یوه افسانه ولیکله، چې "زهٔ افسانه نهٔ شم لیکلے" هغه مې هم په یو نوی طرز لیکلی

وه. نو دا رنګ ما غوښتل، چې په افسانه کښې جدت پېدا کړم.

*هما: ستاسو زامن، لوڼه او.....د هغوئ تعليم؟*

**اجمل خټک:** زما درې زامن دی، دوه لوڼه دی.

*هما: په روزګار دی؟*

**اجمل خټک:** ټول بې روزګاره دی. جمال پی.ايچ.ډی کړې ده. ايمل د بلغاريا نهِ ايم.ايس.سی کړې ده. په ايګريکلچر کښې، ميرويس د هنګری نه ناجوړه راغلو، خور ئې عصت د هغې ځائې نه ډاکټری وکړه. دوئی ټول بهر ته تلی دی. د هغې ځائ نه ئې دا فکر راوړے دے، هغلته عملی ژوند ئې د خلقو اوليدو، دوئی وائی چې زمونږ د پښتنو کوم ژوند دے، کومه معاشره ده، رسم و رواج دے، اخلاق دی. هغه د انسانيت د پاره د هر څهٔ نه ښهٔ دی.

*هما: (خپلو ملګرو ته) ستاسو په ذهن کښې کهٔ څهٔ سوال وی.*

**اجمل خټک:** هو هو، داسی موقع بيا بيا نهٔ راځی.

*هما: داسی موقعې دې خدائے بيا بيا راولی، تاسو مونږ د پاره د معلوماتو خزانه يئی، ستاسو ژوند يو ژوندے تاريخ دے.*

**منظر:** بابا! تاسو چې کومه اوس شاعری کوئ، د هغی د چاپ څهٔ اراده لرئ.

**اجمل خټک:** زما د شاعرئ څهٔ دورونه دی. يو هغه دور دے، چې زهٔ لا رېډيو ته نهٔ ؤوم تلے. بيا د رېډيو د ملازمت په دوران کښې زما شاعری وه. بيا زهٔ افغانستان ته لاړم، بيا د افغانستان نه

پس. چې د خدائی خدمتګار د تحریك نه جدا شوم، دا نوې دور دې، دا خان له يو باب دے ، هغه دا دے چې پښتانهٔ څهٔ کوی، او څهٔ ئې وکړهٔ. بس... په دې بحث نهٔ کؤو. هغه يو دور دے، چې په هغې مې د تاريخ ليکلو اراده ده. نو دا فېصله مې وکړه چې تاريخ نهٔ ليکم، کهٔ تاريخ مې جوړ کړو، نو څوك به ئې وليکی.

***هما: تاسو پخپله يو تاريخ يئی.***

**اجمل خټك:** بيا راته چا ووې چې څهٔ خو وليکه، نو فکر مې کؤو. د کوه قاف په يو صحت افزا مقام کښې پروت ؤوم، نو خيال راغے، داسې وليکه. قيصه زما د سياسی ژوند، قيصه زما د ادبی ژوند. قيصی د پاره سند نهٔ وی. ما وړومبی قيصه د ادبی ژوند شروع کړه، نو هغه ليکلی شوې ده، چاپ ته تياره ده. هغه د اقبال د مردان (محمد اقبال اقبال د پښتو ياد شاعر او اديب. هما ) سره ده، چې يو نظر ئې وګوره.. دجدايی نه پس نهٔ ليکم، ځکه چې په هغې کښې تلخی ده.

***هما: د اجمل صاحب (خپلو ملګرو ته) د ژوند د ټولو نه روښانه اړخ دا دے چې په دوئ کښې ډېر زيات زغم دے. خدائے پاك ورله د برداشت او د حوصلې ډېر لوئے قوت ورکړے دے. دوئ چرې په څهٔ متنازعه موضوع بحث نهٔ کوی. د هر چا په باره کښې ښهٔ رائې لری او ظاهره ده، زهٔ دې ته د تزکيهٔ نفس، يعنی په ځان د قابو لوئے کمال وايم.***

**اجمل خټك:** تهٔ نقاد ئې، تهٔ هره رائې، قائمولې شے.

*هما: اوس به موږ تاسو ته د کلام فرمائش وکړو.*

**اجمل خټک:** (په ډېره خوشحالی) واؤره واؤره. نن چې مې څه لیکلی دی، دا د لېونتوب خبرې دی، په دې کښې سیاست هم شته، ادب هم شته. ګله یاد لره ښه، دا مې نن سحر لیکلی دی.

د زړهٔ زخمونه مې په شونډو، ښکارېدل مسکا شوه
د ژوند ژړل مې په څهٔ چل ول، پټول مسکا شوه
چا تپوس اونهٔ کړهٔ، چې خاندی او کهٔ ژاړی ګلاب
تېرو ازغو کښې ئې وختونه، تېرول مسکا شوه
جانان په خپل ښائست، د ناز زما د مینې شوق ته
د خپلې هواو نا په مینځ کښې، څهٔ وئیل مسکا شوه

**تول:** ډېر ښهٔ

**اجمل خټک:** دا واؤره زما د بیماری په وخت کښې،

صحت وائی چې د کټ نه مهٔ کوزېږه
غېرت وائی، پاڅه پاڅه وزغلېږه
ددې هر څهٔ سره زهٔ،ښهٔ پوهیدے شم
وخته تهٔ راته نور مهٔ اپوټه کېږه

دا واؤره

چې متازی شی، نو متازی شی
بیا نهٔ څوك خپل وی او نهٔ پردی شی
تراخهٔ یادونه، نوی غمونه
یو تکلیفونه، بل اسوېلی شی

اوس دا

لویه خدایه، لویه خدایه ستا ماحول مې، تېزندی شو
کهٔ ژوندون، بی غېرتی شوه نو مرګے، د بی وسی شو
د غیرت چغه چې هېره یو فریاد شو په صحرا کښې

چې پښتو سود او سودا شوه    د بازار په دې دنيا کښې
لويه خدايه، لويه خدايه    څۀ خو راکړه، څۀ خو راکړه
ګنې هر څۀ دې څه واخله    ما تنها کړه، ما رها کړه
لويه خدايه، لويه خدايه

دا درته وايم

چا وې، وروری ده    چا وې ياری ده
چا پکښې ووې    چې ديندارۍ ده
ما چې پرې ځان له    ښۀ فکر وکړو
شاته ئې ټوله    دنيا داری ده

دا شعرونه واؤره

څۀ کړے لېونيه تۀ؟    ځان سره کړل رټېل
ولې! ولې! ولی نو    نشته څوك پردی نۀ خپل
سود سودا، په دين ايمان    يو خرڅوی، بل اخلی
زړۀ مندر او مخ کعبه    دا کوی، هم دا کوی
څنګه زمانه شوه دا؟    دا د دنيا ژوند دے
هغه پخوانی ټېکان    روغ هم، لېونی ؤو ټول
تنګ شوے لاړے تنګ شولے    ځان سره،په جنګ شولے
اے خوشحاله چرته ئې؟    وخت د بهرامانو دے
مرګ غواړے ،کۀ ژوند غواړے؟    دواړو کښې،څۀ نۀ ښکاری
وايه تۀ به څۀ کوے؟    کيږی دې چې کيږی به

دومره مایوسي ولې؟ نه نه، بې وسي وایه
ته افلاطون نهٔ منې؟ نه نه، لېوني وایه
وایه کنه څهٔ ښهٔ دي؟ څهٔ خو پکښې ووایه
تا ته، ستا مرضي ښه ده ما ته لېونتوب ښهٔ دے

اوس دا

ګل غوټې چې د پښتو نور او ښکلا ده
دا زما د ذوق د مینې محبوبا ده
کهٔ د خاورې ښائسته بت نهٔ ئې،جانان ئې
مینه دا ده، وفا داده، سجده دا ده
وایم سترګې ورته کېږدم کهٔ تندے مې
ښکلي بت ته د سجدو کومه ادا ده

*هما: مونږ ستاسو ډېره ډېره مننه کوُو، تاسو مونږ ته ډېر وخت راکړو، زهٔ ستاسو ډېر زيات مشکور يم، مونږ ته مو تاريخي خبرې وکړې، مونږ مو يو روماني دور ته اورسؤلو، هغه روماني وختونه نهٔ راګرځي، خو ستاسو غوندې د شخصيتونو موجودګي مونږ هغې وختونو ته اورسي. ستاسو ډېره ډېره مننه.*

**اجمل خټک:** اوس زما نه واؤره. زهٔ ستا په حقله يو څو خبرې

تاریخ ته، ادب ته او زماني ته حواله کوؤم. په دې وطن کښې داسې یو وخت ؤ چې د پښتو ادب، ژوندي ادب ، ژوندې فکر په دې وطن کښې لکه څنګه چې تنور کښې وچ لرګی نهٔ پاتې کیږی، نهٔ شو پاتې کېدے ، نو په دغې دور کښې تا ته پته ده هما ، چې مونږ حرکت شروع کړو. ماته چې څومره یاد دی په مردان کښې دا ما چې ووې، ددې حرکت د پاره ژوند او فضاء ډېره ښه وه. زما خپله اندازه دا ده چې تهٔ هغې فضاء پېدا کړے ئې. مونږ يو حرکت شروع کړے ؤ. د مشاعرو په نوم باندې، مونږ به ګرځېدو، تهٔ لا د تعلیم نه فارغ شوے نهٔ وے . ستا نه وړاندې پیر ګوهر ؤ، قمر راهی صاحب دوی ؤو، نور خلق ؤو. دوئ ټولو کار کړے ؤ. تهٔ کشرانو کښې وے . ستا د هغې وخت فکر او ادب کښې ما جدت محسوسؤلو. د هغې نه علاوه ستا په ژبه کښې چې د مردان یا د یوسف زو، د پښتو کوم سوچه والے او خوږوالے ؤ، هغه ما محسوسؤ. دویمه دا ده چې دا جدت کوم یادوؤمه، دې د هغې ماحول نه لږ سر راپورته کوؤ لکه چې یو ګل راټوکیږی، ما درته مثال ووې چې ګلونه خو ډېر ؤو. شکر دے خدائے دې لری خو تهٔ پکښې ماته لکه د سپرلی خودرو ښکارېدے . بل ستا شخصیت هم دروند ښکارېدو، خوږ ښکارېدو نو تاته کهٔ یاد شی په هر مجلس کښې به زما تاته توجهٔ وه، خو دا ذاتی خبرې نهٔ یادؤم. ستا د مردان د ماحول، ستا د ذات یا ستا د صلاحیتونو په بنیاد، چې تهٔ د پښتو ژبې ادب فن او شعور د پاره یو مثالی شخصیت ئې او دا ډېره د خوشحالی خبره ده. اوس تاته په ژوند کښې موقع هم په لاس راغلې ده.هغه ما چې څهٔ محسوس کړې ؤو. اوس تهٔ دغه څهٔ

وخت له ورکوؤلے شے . زهٔ توقع ساتم، ما چې تا کښې څهٔ لیدلی ؤو او تا چې څهٔ پاللی دی، زرغون کړی دی او ګل کړی دی. انشاالله د دې خاورې، دوخت د خپلې ژبې د پاره نوې نوې ګلونه راپیدا کړے .

*هما: ډېره ډېره مننه. ددې پېرزنو، ددې خبرو. میاں وکیل شاه زما شاګرد دے . ددهٔ په حقله څهٔ وایئ.*

**اجمل خټک:** دے خو زما د وینې بچی دے . زهٔ خوشحال خانے یم دې جمیل خانے دے . دې چی زهٔ لولم، خوشحالېږم. د تحقیق، د تجسّس او ادب، فکر صلاحیتونه لری، زهٔ توقع ساتم چې دې به د ژبې د ساتنې او پالنې دا سلسله جاری اوساتی.

*هما: قیوم منظر ستاسو عزیز دے. تاسو ته بابا وائی، ددهٔ متعلق یو دوه خبرې .*

**اجمل خټک:** زمونږ یو انغرے دے یو مو کور دے . ددهٔ مشر ورور مثل خان راهی وړومبے د کلی په یو جماعت کښې، په سیاسی غورزو پرزو کښې شعرونه ووې نو ما په هغهٔ ډېر فخر وکړو، خدائے دې هغه ژوندے لری، په دهٔ کښې (قیوم منظر ته اشاره ده ) د نوی دور، د نوی تقاضو، د فضاء د نوی ادب او شعر رخ چې کوم طرفته روان دے ، د هغې مطالعه ئې هم شته. ژبه ئې هم خوږه ده. د فن نه هم خبر دے . احساس هم ورسره شته. نو زما په خیال دا ژبه، دا فن چې رایوځائې شی نو دې به په مستقبل کښې ډېر ښه کار وکړی.

*هما: اجمل صاحب!ـــ یوه ورستی خبره .. جواب ئې مختصر*

*غوارم. ستاسو نیکهٔ زمونږ د ټولو بابا سترمبارز، او د پښتو قامی شاعر، خوشحال خان خټك، سره د خپلې نېك نیتی او راستی د مغلو او د مغلوالی د لاسه درګرې ؤ، او ډېر ارمانونه ئې په زړهٔ اوړې دی. د قامی سر لوړی، سره د قامی یو والی ارمان، د علامه اقبال په ژبه هغهٔ د مغلوالی د لاسه د وصیت کړے ؤ.*

*قبائل هوں ملت کی وحدت میں گم　　که هو نام افغانیوں کا بلند*
*مغل سے کسی طرح کمتر نهیں　　قهستاں کا یه بچه ارجمند*
*کهوں تجه سے اے هم نشیں دل کی بات　　وه مدفن هے خوشحال خان کو پسند*
*اڑا کر نه لائے جهاں باد کوه*
*مغل شهسواروں کی گرد سمند*

*کهٔ تاسو فکر وکړی نو د مغلوالی هغه ذهنیت نن هم کار کوی. دغه ذهنیت زمونږ د قامی اتحاد په لاره کښې لوئے خرنډ دے. ستاسو د خپل نیکهٔ بابا د وصیت په تسلسل کښې د خان په حقله تاریخ ته څهٔ سپارل غواړئ، خصوصاً ددغې ورستی شعر په تناظر کښې...*

**اجمل خټك:** ستا د سوال روح زما د ژوند او سیاست او ارمانونو روح دے. تاته پته ده، زما د شعروشاعری زور هم په دې دے او تر څو چې دا مرام حاصل شوے نهٔ دے نو پښتانهٔ په نړی او هم په خپل کور کښې د خپل حق، حېثیت، او انسانی شرافت سره سم ژوند تېرولے شی او نهٔ سیمه کښې قرار راتلے شی. نهٔ نړی کښې د نوی ژوند په لاره کښې چې بنیادی انسانی حقونو بنیاد د انسانیت ابادی،خوشحالی او امن غواړی، هغه مقصد حاصلېدے

ژوند تېرولے شي او نهٔ سيمه کښې قرار راتلے شي. نهٔ نړۍ کښې د نوی ژوند په لاره کښې چې بنيادی انسانی حقونو بنياد د انسانيت ابادی،خوشحالی او امن غواړی، هغه مقصد حاصلېدے شي. زما دا شعر به تاته ياد وی چې

پېښور دے او کهٔ کوئيټه زما کور دے
قندهار دے کهٔ کابل دے زما ورور دے
هر غاصب چې دے کښې خنډ اچؤول غواړی
کهٔ د لر دے کهٔ د بر دے، مخ ئې تور دے

***هما: ستاسو ډېره ډېره مننه.***

**اجمل خټک:** ستاسو هم د ټولو مننه.

---

# د اياز داؤدزی سره مرکه

نېټه: ۵ مارچ ۲۰۰۲ء

ځائې: د اياز داؤدزی کور، پنډۍ

يادؤنه:

*د علـم د بڼ طوطی، د پوهې د سردرو نـغـمـه ګر او د وجدانـی ورشوګانو لارښود، محمد اياز خان چې د خپلې سيمې د ليکونکو د ډلې ورومبـے داؤدزے دے، د پښتـو په ادبی نړۍ کښـې د اياز داؤدزی په نوم يادېږی. په ريډيو کښې ئی د نيوز ټرانسلېټر او بيا ئې د پروګرام پروډيوسر په توګه د عملی ژوند ابتدا وکړه او د دغې محکمې نه د کنټرولر نيوز د اوچت منصب نه په خپل وخت فارغ شو. ميډيائی صحافت د هغهٔ دنده ده خو د هغهٔ علمی او فکری ليکونه د پښتو د ادبی تاريخ يوه درنه پنګه ګڼلې شی. د حمزه شنواری په شخصيت او فکر د ليونتوب ترحده مئين اياز داؤدزے په حمزياتو يو ژور نظر لری او په روانو وختونو کښې د ايکی يو حمزه شناس په حېثيت پېژندے شی. بې ازاره تنقيد او د ادبی شخصياتو د ژوند او کار د مثبت اړخونو رڼائی، د اياز داؤدزی د ليکونو منفرد تکنيك دے. په پښتو کښې د کېفياتی تنقيد په نوم ديو جدا رنګ او اسلوب، د تنقيدی صنف بانی دے. په غزل، ډرامه او افسانه ئې په خپل مخصوص ليك ډول کښې ډېرې علمی مقالې ليکلی دی چې د ادب طالبعلمان ئې نن هم د حوالې په توګه پکار راولی. شاعری ئې د داخلی جذبو د اظهار وسيله ده او د وجدان په ډاډ د فن د لېلا د ښائست لټون پکښې کوی.*

*د تنقيد، تحقيق او د تاريخ په موضوعاتو ئې بېشمېره ليکونه د پښتو په مجلو کښې، خوارهٔ دی. د "ادبی هڅې" په نوم ئې، د پښتو د نثری تاريخ وړومبے کليات دی چې د تېرې نيمی صدی د پښتو د ادبی هلو ځلو تاريخ پکښې خوندی دے.*

*اياز داؤدزے د پښتو د ادبی نړۍ يو روښانه شخصيت دے.*

*(هما)*

***هما:** محمد اياز خان چې په ادبی دنيا کښې د اياز داؤدزی په نوم پېژندے شی د يو کثِ اړخيزه شخصيت څښتن دے. په پښتو کښې د کېفياتی تنقيد د يو نوی اسلوب بانی، په حمزياتو دومره ژور نظر لری چې زهٔ ورته د روانو وختونو، ايکی يو حمزه شناس وايم، ډېر لوئے عالم او پوهاند، ستر نثار، په پښتو او انګرېزی کښې يو شان، روان او بهاند ليک کوی. راځئ چې ددې ستر ادبی شخصيت د ژوند حالات هم د هغهٔ په ژبه واؤرو.*

**اياز داؤدزے:** زمونږ د کلی نوم چغر متی دے. چې په متی مشهور دے. د پېښور ښار نه نهه نيم ميله قطب ته د شاه عالم سيند په غاړه پروت دے، زمونږ نيکهٔ الکوزے ؤ، نوم ئې رستم خان ؤ، او څهٔ پنځهٔ شپږ پېړۍ اګاهو د شپږو شلو کډو سره د ژوب او قندهار د مينځوميانې د علاقې، غوره مرغی نه راغلے ؤ او د داؤدزو په دې علاقه کښې اباد شوے ؤ. زما د پلاړ نوم محمد خان دے. په کاغذونو کښې زما د پېدائيش نېټه ۲۶ جون ۱۹۲۲ء ليکلی شوې ده.

***هما:** دا نېټه صحيح ده؟*

**اياز داؤدزے:** اوس واوره د تاريخ پېدائيش شخړه، ته محقق ئې، دا به دې کله پکار شی. زما او زما د مشر ورور، جان محمد زلمی (وفات فروری ۲۰۰۲ء) چې زما نه اووه کاله مشر ؤو. (د پېدائيش په نېټه کښې) صرف (په کاغذونو کښی) د اوؤه ورځو فرق دے. ددې تصحيح د پاره مې پلار خدائے دې اوبخښی په کال ۱۹۴۰ء کښی چې زه په شپږم جماعت کښې ؤوم مقدمه کړې وه، خو کامياب نهٔ شو. په کال ۱۹۸۲ء کښې ما مقدمه دائر کړه. تر هائی کورټ اورسېده خو او نهٔ شوله د هائی کورټ وېنا وه چې کېس دې مضبوط دے خو که ستا په حق کښې فېصله کؤو نو بيا به (Precedent) مثال قائم شی. او زرګونه مقدمې به راشی نو زما اپيل د زائيدالميعاد په بناء خارج شو، زهٔ هم ستړے شوے ؤوم، سپريم کورټ ته لانهٔ ړم او ما خپل عمر ۲۶ جون ۱۹۲۲ء قبول کړو.

***هما: ستاسو نور تعليمی مراحل؟***

**اياز داؤدزے:** هما صاحب! زما د ژوند بنياد په جماعت کښې اېښودے شوے دے. ما د کلی جماعت کښې د يو استاد سره، پنج کتاب، ګلستان، بوستان، يوسف زلېخا، سکندر نامه او ديوان حافظ شيرازی ووئيل او بل استاد سره مې چې فقيه، مفسر، محدث. او د صرف ونحو ماهر ؤ دوئيشت بابه د عربی، صرف مير ياد کړو. د صرف و نحو کتابونه مې تر اخره اورسؤول اوس هم زهٔ عربی بغېرد حرکاتو نه لستے شم، د حال، ماضی، مستقبل، واحد، تشبيه، جمع او جمع الجمع په قواعدو هم پوهېږم د درس

نظامی تقريبا ټول کورس، مونيا، کنزالدقائق، هدايه او داسې نور کتابونه چې نومونه ئې نهٔ رايادېږي، ما لستلی دی.د تفسيرمطالعه مې هم تر ډېره حده کړې ده. "حجته البالغه" د شاه ولی الله، "نهجه البالغه" (انګرېزی کښې د لبنان چاپ) د حضرت علی کرم الله وجه، مثنوی مولانا روم اووهٔ جلده، او داسې نور کتابونه، خو علم په يو ژوند کښې نهٔ خلاصيږی. نو سفر جاری دے.

***هما: اوس راته په ريډيو کښې د خپل ملازمت په حقله خبره وکړئ. تاسو دغې محکمې ته کله او څنګه راغلئ؟***

**اياز داؤدزے:** لکه چې تا ته معلومه ده، په کال ۱۹۴۹ء کښې په ريډيو پاکستان پېښور کښې د قبائيلی پروګرام، د مېرمنو پروګرام، او د ډرامې د انچارج په حېثيت اخستلے شوے ؤوم. ددې نه وړاندې په کال ۴۸-۱۹۴۷ء کښې عبدالله جان مغموم، زهٔ ريډيو پاکستان ته بوتلے ؤوم، او هلته قاضی احمد علی صاحب د اواز د ټسټ نه بغېر په ډراموکښې د صداکار په حېثيت منظور کړے ؤوم، او په څو ډرامو کښې مې معمولی شان کردارونه کړی ؤو. دغه ډرامو کښې به مغموم صاحب د هيرو (Hero) رول کؤولو څکهٔ نو زهٔ وايم چې د ريډيو په دروازه زهٔ مغموم صاحب ورننوېستلے ؤوم خو د سټاف ارټسټ په حېثيت زما تقرری، بېخی ناساپی او ناګهانی وه. زهٔ په اسلاميه هائی سکول کښې ټيچر ؤوم، بی.اے مې تازه تازه پاس کړے ؤ، په چوك يادګار پېښور کښې د مولانا شبير احمد عثمانی د وفات په سلسله کښې د مسلم ليګ د ببرغ لاندې جلسه وه، چې صدارت ئې خان عبدالقيوم خان کؤولو. ما

توره شېروانی واغوسته، ددغې موقعې په مناسبت مې يو نظم ولیکلو، سټېج ته لاړم، قیوم خان ته مې غوږ کېښې ووې، زۀ به نظم اورؤم، هغۀ وئیل ښه ده کېښنه، ما په خپل وار نظم واؤروؤ، په سټېج راحت زاخیلی او د رېډيو پاکستان نیوز ایډیټر ایس.این هاشمی صاحب ناست ؤو. هاشمی صاحب اووئیل، رېډيو کښې کار کؤول غواړې؟ ما وئیل، هو جی! وئیل ئې سبا له رېډيو ته راشه. سبا سحر په شهباز اخبار کښې زما نظم چاپ شوے ؤ. دا زما وړومبے چاپ نظم ؤ، نو زۀ ډېر خوشحاله شوم. رېډيو ته چې ورغلم نو نیوز یونټ کښې ئې، د پښتو نیوز ټرانسلېټر په حېثیت واخستم. امتحان مې عبدالصمد د "دوسرا سرحد" ایډیټر اخستے ؤ. دغه ورځو کښې ن.م. راشد چې د اردو جدید نظم، په سر خېلو کښې حسابیږی، د پېښور رېډيو سټېشن ډائرکټر ؤ. دغسې زما د رېډيو کیرئر (Carrier) شروع شو. پوړی په پوړی ختم. په کال ۱۹۸۲ء کښې د کنټرولر آف نیوز په حېثیت ریټائرډ کېدم، خو دوه کاله Extension راکړے شو. تر اوسه بل کنټرولر له دغه اعزاز نۀ دے ورکړے شوے. په جون ۱۹۸۴ء کښې چې زما Extension ختمېدو، د هغې نه وړاندې د اطلاعاتو او د براډ کاسټنګ په وزارت کښې د آفیسر آن سپېشل ډیوټی چارج راکړے شو. کار د مېډیا ریسرچ ؤ. په کال ۱۹۸۶ء کښې په رېډيو پاکستان کښې د اکسټرنل سروس د مشیر په توګه ئې واخستم. په کال ۱۹۸۷ء کښې په انټر سروسز پبلك رېلېشنز کښې د ریسرچ افیسر په توګه زما تقرری وشوه. په دغه دوران کښې زما په ادارت کښې د ISPR نه د پریس ریویو په نامه د یوې مجلې اشاعت

شروع شو. اوس هم شائع کيږي. په کال ۱۹۹۰ء کښې مې په فرنټير پوسټ پېښور کښې د نيوز روم انچارج او ورستو د ايډيټوريل پيج د ايډيټر په توګه د يو کال پورې کار وکړو، په کال ۱۹۹۱ء کښې په کشمير ميډيا سروس، اسلام اباد کښې د ايډيټر په کار ولګېدم، چې تر اوسه جاري دے. اوس زهٔ سينئر موسټ ايډيټر يم.

***هما: ستاسو ژوند لکه د "همه کار" نه عبارت دے.***

**اياز داؤدزے:** زما تجربه دا ده، چې په عملي ژوند کښې بنده هله کاميابيږي، چې په کار سور وي، کار پرې سور نهٔ شي. پما کار سور شو، بې کاره شوم. د کار وخت لکه ګردوغبار تېر شو. "نهٔ رادرومي تېر ساعت په بېرته بيا".

***هما: دا ستاسو کسر نفسي ده. تاسو د خپل فطري استعداد نه ښهٔ ډېر کار اخستے دے او ستاسو دا باکاره ژوند. زمونږ. غونډې بې کارو د پاره د خپل کار سره د لېونتوب تر حده مينې، يو بې مثله مثال دے، اوس د ريډيو د ورځو نور يادونه.***

**اياز داؤدزے:** د ريډيو پاکستان پېښور نه زهٔ په دسمبر ۱۹۵۶ء کښې، کوئيټې ته د نيوز ايډيټر په حېثيت بدل شوم، ما سره زما د ترهٔ زوئ محبوب علي خان د پروډيوسر په حېثيت بدل شو. په ٦ دسمبر ۱۹۵٦ء زمونږ د دواړو په اعزاز کښې يوه الوداعي پارټي وشوه، ددغې پارټۍ د پاره ما د لسو بندونو يو نظم "رخصت" ليکلے ؤ. ددغې نظم يو بند به درته واؤروم.

دغه یو کال د سودا ګانو نه ډك
د ژړاګانو، غوغاګانو نه ډك
ښهٔ ساعتونو، خندا ګانو نه ډك
د چا د مستو اداګانونه ډك
دغه یو کال، ترینه کالونه قربان
ترینه قربان، زما خیالونه قربان

پېښور رېډیو کښې د پروګرام په شعبه کښې چې ما کوم وخت تېر کړے دے، په دغه ورځو کښې احمد فراز، خاطر غزنوی، اجمل ختټك، سمندر خان سمندر، اشرف مفتون صاحب هم دغې سټېشن سره متسلك ؤو. ډېر ښهٔ وختونه ؤو. زمونږ په خپلو کښې ډېر ښهٔ تعلقات ؤو. اجمل صاحب، سمندر صاحب او مفتون سره به مو ډېر ښهٔ ګپ شپ لګوؤلو، دغهٔ ورځو کښې زېتون بانو د ثریا په نامه په رېډیو کښې، د هیروئین په حېثیت، په ډرامو کښې کار کؤولو. هغه ړومبۍ کامیابه پښتنه صداکاره وه او شاعری ئې هم کوؤله. یوه بله واقعه هم واوره.یوه ورځ په پسرلی کښې سمندر صاحب ، اجمل صاحب، مغموم صاحب ، شهزاد خان جوهر او زهٔ د نیوز روم مخامخ په ړوکی شان چمن کښې ناست ؤو. یو بل ته مو خپل کلام اورؤو. ورستو اجمل صاحب چې په دغه ورځو کښې د زلمیتوب په مستی کښې ؤ، ووئیل چې زما دا ارمان دے چې زهٔ پېښور جېل کښې بند وے، کلام مې لیکلے او تاسو ته مې بهر غورزوؤلے. د خدائے کارونه ؤو، خادم محمد اکبر صاحب وفات شو. اجمل صاحب د هغهٔ په قبر یوه انقلابی رباعی یا نظم واؤرؤ

او قيوم خان چې چيف منسټر ؤ، د اجمل صاحب دغهٔ ارمان پوره کړو، نو کلام خو ئې مونږ ته نهٔ شو راغورزوؤلے، خو چې ډېره موده پس راخلاص شو نو "دا زهٔ پاګل ؤوم" تومې روداد ئې وليکلو. هما صاحب! اجمل صاحب سره زما د لېونی مينې جاج کهٔ اخستل غواړے، نو "د غېرت چغه" باندې زما تبصره د "لار" په تنقيد نمبر کښې ولوله.

***هما: هو! ما لوستې ده، ډېره ښهٔ تنقيدي ستائينه ده او تاسو په ډېره مينه د اجمل صاحب د شاعرۍ تجزيه کړېدهٔ. اوس به راشو د ستر امير حمزه خان شنوارۍ سره، ستاسو د ورومبی ملاقات تاريخي واقعې ته. تاريخي ورته ځکه وايم، چې د پښتو ادب دغې تاريخي شخصيت سره ستاسو يو وجداني تړون، او د مريدۍ تر حده عقيدت دے. او دا زما يقين دے، چې تاسو د حمزه صاحب شخصيت ته په کوم انداز کښې او په کوم نظر کتلی دی، د هغوئ په فکر مو ځنګه ځان پوهه کړے دے. په دې حواله ستاسو د حمزه شناسی د استعداد مقابل نيشته.***

**اياز داؤدزے:** ما په شپږم جماعت کښې سبق وئيلو، مات ګډ شعر به مې ليکلو، زمونږ د کلی يو زلمے شاعر ګل زمان بلبل، د مور پلار سره په پېښور کښې اوسېدو. د حمزه صاحب شاګرد ؤ، ښهٔ شاعر او صداکار ؤ، په ډېر خوږ ترنم کښې به ئې خپل کلام اورؤلو، په بنده به ئې وجد راوستو، هغه لکه د خان بهادر حسرت په خوانی کښې په نری رنځ له دې دنيا نه لاړو. وئيل مې دا، چې

دغې خدائ بخښلی ګل زمان بلبل، زهٔ د حمزه صاحب د لیدو د پاره په ډبګری کښې د باچا جان ؒ (ستار شاه بادشاه) ډېرې ته بوتلم، هغه ډېر داد راکړو، وئیل ئې چې کوم خیال، کوم وخت درشی، هغه هم هغه وخت لیکه. ډېره موده پس مې د هغهٔ په وېنا عمل وکړو خو اخر د روزګار سېلاب داسې په مخه واخستم، چې خیال خو څهٔ کوے، چې خان هم رانه ورک شو.

***هما: تاسو د خان د ورکېدو، او د هغې د بازیافت په سلسله کښې د حمزه صاحب د یو بل نصیحت هم ذکر کړے وٗ.***

**اياز داؤدزے**: دغه شاید کال ۱۹۵۵ء وٗ. اتفاقاً حمزه صاحب کراچۍ ته راپېښ شوے وٗ. وئیل ئې، حال دې څهٔ دے؟ ما وئیل، حمزه صاحب! خان رانه ورک شوے دے. نهٔ په خوشحالی خوشحالېږم، نهٔ په غم غمېږم، هغهٔ وئیل، تانه خپله انا ورکه شوېده، هره ورځ نیمه ګېنټه آئینې ته ورانده‌ې ودرېږه، او خپل عکس ته وایه، چې دا زهٔ یم، نو په دې چل به ستا "زهٔ" په تا کښې پېدا شی. او کهٔ بیا هم او نهٔ شوه نو زما تصور کوه، داسې تصور کوه، لکه چې د فن د تخلیق په وخت بنده، د مادی هستۍ نه اوچت چرته لرې لاړ شی.

***هما: تاسو د رېډيو د پاره وړومبی ډرامه کله اولیکله.***

**اياز داؤدزے**: ما د رېډیو د پاره وړومبی ډرامه "یتیمه جینۍ" په کال ۱۹۳۷ء کښې لیکلی وه. هغه مې د ګل زمان بلبل په وساطت، حمزه صاحب له د اصلاح د پاره ورکړه، وئیل ئې، دوه ورځې پس تپوس وکړه، چې ډرامه ئې په ستنه راکړه، ټوله ئې

دوباره ليکلی وه. صرف عنوان ئې زما ورکړے ؤ. نو زهٔ پوهه شوم چې د ريډيو د پاره ډرامه څنګه ليکل پکار دی. دغه ډرامه شوکت الله اکبر، چې پښتو سيکشن کښې پروګرام پروډيوسر ؤ. براډ کاسټ کړه او اتهٔ روپۍ فيس ئې راکړو.

***هما: اوس به راته د حمزه صاحب د فکر او ادبی نظر ئې په حقله خپله رائې څرګنده کړئ.***

**اياز داؤدزے:** هما صاحب! لکه چې تاته معلومه ده، د حمزه صاحب حسياتی شخصيت د اسلام ، پښتونولۍ او تصوف د متوازن امتزاج نه جوړ ؤ. نو دا يو لازمی امر دے، چې هغهٔ په خپله صاف ګويی کښې، دغه شخصيت څرګند کړی.

***هما: هغه د ترقی پسندۍ نظرئې شديد مخالف ؤ؟***

**ايازداؤدزے:** د يو ادبی مکتب په حېثيت د ترقی پسندۍ مخالف نهٔ ؤ. زما په خيال هغه يو ترقی پسند مسلمان، ترقی پسند پښتون او ترقی پسند صوفی ؤ. د تصوف سره د هغهٔ تعلق يوازے عقلی نهٔ ؤ، دغه تعلق عملی ؤ. د تصوف په اصولو عمل د مسلمان نه رښتونی او باعمله مسلمان جوړوی او دغه مسلمان يو ستر انسان وی. کهٔ عقلی ارتقاء يو سائنسدان سپوږمۍ او مريخ ته رسولے شی نو روحانی وده، بنده په يو قدم تر عرشه هم بوتلے شی. سائنسی فتوحات مادی وی، نو موږ ئې وينو هم او محسوس کولے ئې هم شو. روحانی ارتقاء او د روحانی ارتقاء منازل، غېر مادی وی، غېر مرئی وی، نو ليدے نهٔ شی. دا يوه ذاتی تجربه وی چې يو سالك پرې پخپله پوهېدے شی يا يو بل کامل سالك د هغې

روحانی مدارجو، څهٔ اندازه لګولے شی. د ځنو سطحی عالمانو دا خیال دے چې ګنی د حمزه صاحب د تصوف فلسفه تر عقلیت او منطق (Logic) پورې محدود وه او دا خیال ځکه کوی چې څهٔ لږ ډېر اکتسابی علم خو لری خو د وهبی علم سره ئی، څهٔ سروکار نهٔ وی. نو هما صاحب! خبره په بله لاړه. وئیل مې دا چې اشتراکیت، مادی نظریه، د روحانیت نه عاری ده. دغه مادی نظریه کهٔ مذهب د افیمو نشه ګڼله یا ئی مادې له د خدائے مقام ورکړے ؤ نو دغه الحاد نه بلکې شرك ؤ. شرك ته په قرآن کښې، په سورۀ لقمان کښې، ظلم عظیم وئیلے شوے دے. نو د حمزه صاحب غوندې روحانی سالك ددغې ظلم عظیم سره، څنګه جوړه کوؤلې شوه.

***هما: فن؟ ستاسو په شاعری کښې د فن ټکی ډېر په تکرار سره استعمال شوے دے.***

**اياز داؤدزے**: فن د ښکلا نوم دے، فن هم ښکلا وی، هم ښکلا زېږوی.

***هما: تاسو د فن کومه نظریه منئ؟***

**اياز داؤدزے**: د پرستان تصوراتی جهان، زما د وجدان برخه ده. دا دنیا راته د خپل خدائے بخښلی پلار محمد خان نه را منتقله شوې ده. دا زما په وینه کښې ځائې شوې ده. پلار مې دې خدائے اوبخښی، د اتلسو کالو په عمر کښې چین ته تلے ؤ، درې کاله ئې د چین ما چین د ښاپېرو په لټون کښې، ګټ ګټ چاڼ کړے ؤ. مور مې دې خدائے اوبخښی، هغې به تقریباً هره شپه په خوږ او مترنم آواز کښې مونږ ته، په ماشوموالی کښې، د پېريانو دېوانو

داستانونه، د پښتو د کتابونو نه اورؤول. مور او پلار دواړو له اړخه يوه مثالی دنيا مې په برخه رسېدلی وه. دغه وجه ده، چې زۀ ئې شاعر کړم او زما مشر ورور جان محمد زلمے ئې، افسانه نګار کړو. مونږ دواړه ورونه به په هلکوانه کښې سحروختی د شاه عالم او ناګمان سيندونو په مينځ کښې ټاپو (صحرا) ته اووتو. مونږ به وئيل، ګوره، کۀ چرته ښاپېری راپېښه شی او مونږ کوه قاف ته اورسوی. دغی ورثې زۀ مثاليت (Idealism) ته داسې حواله کړم چې کۀ څان ترې خلاصؤوم، نو هم ترې نۀ خلاصېږم، په فنکارانه ډګر بغېر له دې، بل هيڅ قسم ISM يا نظرياتی مکتب ماته اپيل نۀ کوی.

***هما: د پښتو ادب د قدامت باوجود، ددې د ورستو پاتې کېدو څۀ وجوهات دی او دا به مونږ مخ په وړاندې څنګه بوځو، په مختصر ټکو کښې راته اووايئی.***

**اياز داؤدزے:** ګرانه نقاده او محققه، شاعر او ډرامه نويسه! ستا د سوال په جواب کښې به زۀ ډومره قدرې اووايم، چې کۀ تۀ د خپل ګڼ اړخيز تخليقی شخصيت جائېزه واخلې، نو پوهه به شې، چې پښتو ادب ورستو نۀ دې پاتې شوے .منم دپښتو ادب سرپرستی نشته. زمونږ بد قسمتی دا ده، چې باچاهانومو په فارسی کښې حکومت کړے دے او ليډران مو ؤوټ په پښتو کښې غواړی خو حکومت په انګرېزی او اردو کښې کوی. خو پښتانۀ قلمکاران هم پښتانۀ دی، هغوئ پښتو ادب د خپل زړۀ په وينو ښېرازه کړے دے . خپلې معاشی زبون حالی ته ئې، نۀ دی کتلی. د بې وسی باوجود ئې، په خپلو وسائلو خپل تصنيفات او تاليفات

چاپ کړې دي. او دپښتو ادب جولۍ ئې د رنګارنګ ګلونو نه ډکه کړې ده. شلمه صدي د پښتو ادب يو داسې دور دے، چې د خوشحال او د رحمان د دور نه پس، د پښتو ادب په تاريخ کښې ئې، د يو زر زرې باب اضافه کړې ده. د صدۍ په سر راحت زاخېلي صاحب پښتو افسانه متعارف کړه، بيا د خلافت او د خدائي خدمتګار تحريکونو، په پښتو کښې د اجتماعي فکر تخليقات اوزېږول. د اسلاميه کالج او ايډورډز کالج قيام او ورپسې د پېښور يونيورسټۍ او ورستو د کوئيټې يونيورسټۍ په عمل کښې د راتلو نه، پښتو ادب کښې د انګرېزي، د نولسمې صدۍ د نوي رومانيت د اثر لاندې روماني ادب په پښتو کښې راګډ شو. د رومانيت بنيادي عنصر، د روايت نه بغاوت ؤ. ورستو بيا په روس کښې د اشتراکي انقلاب په تاثر کښې، ترقي پسند او حقيقت پسند ادب، هم د پښتو په ادب کښې خائې شو. افسانه په پښتو کښې په دغه صدۍ کښې راپېدا شوه او هم په دغه صدۍ کښې تجريديت او علامتيت ته اورسېده. پښتو جديد نظم هم، په دغه صدۍ کښې د ارتقاء د ټولو مدارجو نه تېر شو او چې ګران قمر راهي ته اورسېدۀ، نو عالمي جهت ئې خپل کړو. د پښتو غزل زما استاد، ستر حمزه صاحب داسې مقام ته اورسولو چې پښتانۀ به تل پرې فخر کوي. ريډيو پاکستان او ټيلي وژن د راتلو نه پس، هما صاحب! د پښتو ډرامې هم ښۀ ترقي کړېده. خکه نو زۀ وايم چې، تۀ په دې خبرو ښۀ پوهېږې، هسې د ثواب د پاره زما نه هم په دې موضوع څۀ اورېدل غواړې او بيا د اختصار پابندي هم ږدې. خکه نو نور څۀ به نۀ وايم. هن دا منم، چې پښتانۀ د

پښتو کتابونه او مجلې په بيعه نهٔ اخلي او کهٔ قلمکاران خپل کتابونه چاله مفت اوليږي، نو هم ئې نهٔ لولي يا ئې لوستے نهٔ شي. وجه ظاهره ده، زمونږ ذريعه تعليم اردو او انګريزي ده، او هم دغه تعليم د پښتو د تعليم يافته خلقو د معاش ذريعه ده. ځکه خو هما صاحب، تا خو هم د ماسټر ډګري اردو کښې اخستې ده، خو اوس دې کفاره ادا کړه، چې پی.ايچ.ډی دې په پښتو کښې وکړه، د ګران قمر راهی " قند " چې په پښتو ادب کښې کوم رول ادا کړے دے ، هغه تا په خپله تحقيقي مقاله کښې، چې په عالمانه ډول تدوين شوې ده او په فنکارانه اسلوب کښې (ليکلے ) شوې ده، په ښهٔ شان رابرخېره کړے دےاو دوامی ژوند دې ورته بخښلے دے . خو بيا هم تر کومه چې زمونږ ذريعه تعليم او ذريعه معاش، خپله ژبه نهٔ وی، تر هغې مونږ ترقی نهٔ شو کوؤلے او نهٔ مو ادب په خپلو پښو اودرېدے شي. خدائے پاك خپل ټول الهامی کتابونه، د پېغمبرانو خپله مورنی ژبه کښې نازل کړېدی. په پردی ژبه کښې د علم حصول ډېر ګران وی، خو کهٔ بنده ځان د دومې ملنګ کړی، د پردی ژبې علم حاصل کړی، نو د عمر زياته برخه ئې په دغه زده کړه کښې تېره شی، بيا ددغې زده کړې نه ځهٔ تخليقي کار هم نهٔ شی اخستے . نو ځکه بايد د تعليم ذريعه خپله مورنی ژبه وی. دغه د حمزه صاحب ارمان ؤ. دا د پښتو د هر قلمکار ارمان دے . خدائے دې وکړی چې کامياب شی.

***هما: د پښتو د روان ادب او د شل دېرشو کالو د پخوانی ادب د رفتار او معيار په حقله ستاسو ځهٔ رائې ده.***

**اياز داؤدزے :** هما صاحب! ستا هر سوال د يوې مقالې ليکلو اقتضاء لری او مقاله هم داسې چی لکه ستا د پی. ايچ. ډی د تهيسس، پنځۀ سوه صفحی وی. زۀ به دومره ووايم چې په دغه موده کښې، د پښتو تخليقاتو رفتار، ښۀ تند او تېز ؤ، هم دغه دوران کښې په پښتو کښې د پی.ايچ. ډی مقالی وليکلے شوے. ډېرې پکښی چاپ هم شوے. چې څنې په انګرېزی کښې هم ليکلے شوی دی. دغه ټولې مقالې ارزښتناکې څکه دی، چې د يونيورسټی سندونه ورته حاصل دی، خو دغې مقالو نه علاوه څنی مشران پښتانۀ ليکوال داسې شته، چې هغوئ معياری ادب تخليق کوی، په کشرانو کښې هم ښۀ معروف نومونه مخې له راځی. کۀ د کومو زلمو ليکونه د معيار تقاضې نۀ پوره کوی،نود ژوند تجربات او حوادث به هغه زلمی، چې د استعداد خاوندان دی، د معيار حد ته اورسوی. په مجموعی ډول دغه رفتار او معيار د لر او بر پښتنې معاشرې په تناظر کښې، قابل احترام او قابل اطمينان دے.

***هما : د ثور انقلاب نه پس د افغانی ادب په پښتو ادب څۀ مجموعی اثر پرېوتے دے؟***

**اياز داؤدزے :** هما صاحب! ثور انقلاب د پښتو ادب او ثقافت سره هغه کانی وکړې، کومې چې چنګېزی يلغاريانو د بغداد د علمی او ثقافتی ورثې د تباهی او بربادی په شکل کښې کړې وې. د ظاهر شاه باچا په دور کښې، چی کومې د پښتو ادب نايابې نسخې او ثقافتی نوادر، د کابل د پښتو ټولنې په کتابتون او نوادرات او عجائبات په ميوزيم کښې خوندی کړے شوی ؤو، هغه

اولوټلے شو. پښتانهٔ اديبان او دانشوران په هجرت مجبور شول او ځنې پښتانهٔ منورين، لکه شمس الدين مجروح او صديق الله رښتين په مسافرت کښې په حق اورسېدل.

***هما: دا خو ددې انقلاب يو اړخ شو، ددغې په نتيجه کښې په پښتو ادب کښې هم ډېرې تبديلی راغلې. د پښتو په ليك لوست کښې اضافه اوشوه. بې شمېره مجلې شروع شوې. د پښتو کتابونه چاپ شو.***

**اياز داؤدزے** : کوم پښتانهٔ عالمان او محققين چې په پېښور او د صوبه سرحداو بلوچستان په نورو سيمو کښې مېشته شول، هغوئ د هجرت په دوران کښې،د تحقيق او تخليق په ډګر، ډېر ارزښتناك كار وکړو. افغان ليکوال او پښتانهٔ ليکوال، چې د يو بل سره کېښناستل، نو دغې رابطې نه د پښتو فکرو فن کښې، يو نوې بدلون راغلو. د لر پښتو ځنې ګڼور اصطلاحات د پښتونه واخستل او د بر پښتانهٔ د لر پښتو د لب و لهجې نه متاثره شول. د افغانستان شخړې، په ښهٔ مقدار کښې او د ښهٔ معيار حماسی او رجزيه ادب پښتو له ورکړو. خو پښتو ادب او ثقافت ته چې د افغانستان د اړی ګړی نه کوم نقصان رسېدلے دے، بويه کهٔ هغه په يوئشتمه صدی کښې په ځائې کړے شی. پښتو ادب ته په يوئشتمه صدی کښې دغه لويه لانجه يا چېلنج (Challange) تر مخه دے .د نورو دانشورانو نه علاوه، زلمے هېواد مل او حبيب الله رفيع په دې لړ کښې، د قدروړکوټلے کار کړے دے .

***هما: تنقيد څنګه پکار دے؟ مصلحت آميز او کهٔ صاف***

گوئی، يعنی.....؟

**اياز داؤدزے :** هما صاحب! تاته معلومه ده. چې نهٔ خو مصلحت آمېزی تنقيد وی او نهٔ صاف گوئی. تنقيد بايد اعتدال، جلال اوجمال اولری، د ادب کره کوټه، د علم و فهم په زرکانې سنجول، اسان کار نهٔ وی. کهٔ د زرو کره کوټه صرف زرگر معلومولې شی او د جوهر په قدروقيمت، صرف جوهری پوهيږی نو تنقيد نگار هم بايد داسې کمال حاصل کړی چې هغه د يوې فنپارې روح ته کوزېدے شی او د مقصد گتهورې ملغلرې ترېنه، برڅېره کؤولې شی.د منفی زاويئی نه د ادب قد رؤول يو اسان کار وی. خو مثبت تنقيد، ډېر زړهٔ چاؤدون غواړی. دا گران کار نهٔ دے چې يو کتاب ته جعلی ؤوئيلے شی،گران کاردادے ،چې د يوې ادب پارې، استناد ثابت کړے شی. د نقاد رويه بايد تعميری وی، تخريبی نهٔ وی. تخريب کاری يواسان کار دے ،خود توازن قايم ساتل ډېرشوا خون، ډېر وسائل او دغه وسائل، په ډېر حکمت استعمالول غواړی. مصلحت آميزی منافقت وی. او منافقت په ادب کښې نهٔ ځائيږی. صاف گوئی د ياوه گوئی څهٔ مهذب شان نوم دے . نو څکه دغه دواړه توکی، د پښتونی تنقيد سره سمون نهٔ خوری، ادب نقدؤل د هر چا کار نهٔ دے. دا د هغه چا کار دے، چې د راسخ علم خاوند وی. د ډېر رياضتی پړاؤنو ته اوړېدلے وی او داسې مقام ته رسېدلے وی، چې هغه په دې پوهيږی. چې ښهٔ کهٔ ښهٔ وی، نو ولې ښهٔ وی او کهٔ بد بد وی. ولې بد وی. او بيا دغه ولې، قاری مطمئن کؤولے هم شی. د ادبی تنقيد ډېر اقسام دی. لکه نظرياتی تنقيد، عملی تنقيد، تحقيقی تنقيد، تخليقی

تنقيد ، ستائينه، تنقيدی مطالعه او داسې نورلکه تاثراتی او کېفياتی تنقيد . خو په دې واړو کښې، تخليقی تنقيد جګ مقام لری. چې دغسې تنقيد پخپله يوه فنپاره وی.

***هما : د رومانی، کلاسيکی او ترقی پسند ادب په حقله، ستاسوځهٔ رائی ده؟***

**اياز داؤدزے** : هما صاحب! تهٔ خو عالم ئې، ستا رائې هم علمی وی. زهٔ د فن پرستار يم ځکه زما رائې، په عقيده او ايمان بنياد وی. چې د هيڅ قسمه استدلال احتياج نهٔ لری. زهٔ کلاسيکی ادب، د ادب استاد ګڼم. بلکې تهٔ چې په ادب کښې هم د ډب قائل ئی، نو زهٔ په ادب کښې، د ادب قائل يم.

***هما : بخښنه غواړم، ما دا خبره د نوی نسل د تنقيدی رويو په سلسله کښې کړې وه. دا زما ايجاد کړے ځهٔ ادبی نظريه نهٔ ده. د پښتنې نفسياتو سره سمه، د پښتنو د خلې خبره ده، چې چرته ډب وی، هلته ادب وی.***

**اياز داؤدزے** : هما جانه! د ادب او ډب خبره مې ستا د جلال د راپارؤلو د پاره وکړه. ځکه چې ستا سوالونه علمی او حکمتی وی، چې تا دغه ترکيب په کوم ضمن کښې استعمال کړے ؤ، هغه ماته ياد ؤ. نو لکه چې وړاندې مې ؤوئيل، نوې رومانيت د روايت نه بغاوت په نتيجه کښې په وجود کښې راغی او ترقی پسندی د روحانی اقدارونه، د انحراف او د ماديت د پرستاری په ډډه د اړخ وهلو نوم دے . دغسې ادب هله ادب شی، چې د کلاسك نظم و ضبط او فنی او هنری محاسن اولری. فېض احمد فېض اواحمد

فراز، اجمل ختټك او قمر راهی، دداسې امتزاج څرګند نوموونه دی. کۀ رومانیت او ترقی پسندی او حقیقت پسندی هم، کۀ د کلاسك فنی او هنری محاسن خپل نۀ کړی، نو نتیجه به ئې انتشار او خلفشار وی او دغه ټکی بې ادبی خو زیږولے شی، ادب ترې نۀ پېدا کیږی.

***هما: ستاسو په نظر کښې د ادب بنیادی کار څۀ دے؟***

**اياز داؤدزے:** ادب د ذوق و شوق د تسکین د هڅې په لړ کښې، په وجود کښې راځی. خو ستر ادب هغه ګڼلے شی، چې د قاری په وجدان هم هغه کېفیت راخور کړی، د کوم د پاره چې تخلیق کار د تخلیق د عمل په وخت لېواله وی. ادب یوه عمومی اصطلاح ده، هر هغه لیك، چې د ریاضی، د سائنس، مذهبیاتو او د فلسفې علمی لیکونه، نۀ وی، ادب ګڼلے شی. خو هما صاحب! ستا مطلب هم تخلیقی ادب دے او زۀ هم مجرّد ادب تخلیقی ګنم. کوم تخلیق کار چې، د یوې ښکلا، یو منظر، یو حقیقت، یوې نظریئې سره لېونی مینه لری، هغه داسی ادب تخلیق کؤولے شی، چې د قاری روح، وجدان او جذبه رااولړزئ او هم هغه شان تسکین محسوس کړی، څنګه چې فنکار د فنپارې په تخلیق کؤولو کښې محسوس کړے وی. دغه د فنکار او ادیب یوه داسې وظیفه ده، چې عموما په لاشعوری طور ترېنه صادریږی او د قاری زړۀ کښې ځائیګی. ادبی ګویائی باید داسې وی، چې قاری په دې وېنا مجبوره شی.

میں نے یہ سمجھا کہ گویا یہ بھی میرے دل میں ہے۔

***هما: دا ستاسو د ادبی نظریئې په رڼا کښې ډېر مدلل او***

***مناسب جواب دے. خو ستاسو دا تولې خبرې، د بنيادم د داخلي او باطني دنيا ګانو سره تعلق لري. ستاسو، د ادب په سماج کښې د بدلون راوستو د کردار په حقله څۀ رائې ده؟***

**اياز داؤدزے:** په دې يو سوال کښې هما صاحب! کۀ فکر وکړے نو دوه سوالونه څرګند دی. يو ادب او باطنی انقلاب او دويم ادب او د سماج بدلون. جانانه! زۀ د ادب، د تخليقی ادب په حقله، د باطن په حواله څکه خبرې کؤوم، چې خبرې کۀ هر څو څان په ظاهر کښې ظاهره وی، خو چې دغه خبرې، د علم و فن په حقله وی، نو تحريك ورله يا ذهنی استعداد ورکوی، يا وجدانی او جبلی قوت، او دغه دواړه توکی، د انسان د ظاهر نه، د باطن سره تعلق لری.

زۀ کۀ باطنی چارې معتبرې ګنم، نو ګرم نۀ يم څکه چې

زۀ اوسم په خوبونو، د خوبونو کښی

خو د ستر ادبی اتل، خوشحال خان ختك، چې يو فعال او مبارز شخصيت ئې لرلو، هغه هم د باطن چارې معتبرې ګڼي. ګنی د هغۀ دا وينا راياده کړه

د سيرت زيبايی ښۀ ده، تر صورته

چارې واړه د باطن دی، معتبرې

څکه نو چی زۀ د ادب جائېزه د باطن په حواله اخلم، نو دغه رنګ جائېزه راته معتبره ښکاری. يوازے بصارت نه، حواس خمسه،اوس خو د شپږم حس خبره هم معروفه ده او مقبوله هم. نو دغه ټول حواس هر وخت، هر دم باطن له څۀ ناڅۀ ورکوی. خو دغه ظاهری ادراکات او محرکات، چې په باطن کښې څائې شی، نو بصيرت او فراست په خپلو کښې تحليل شی، نو بيا د حکمت په نامه بللې

شي او حکمت ته خدائے پاك "خيرکثير" وئيلی دی. د انګريزی معقوله ده. چې

The Essence of Knowledge is Wisdom

"د علم جوهر دانائی ده" دانائی د علم اوچته درجه وی او د دانايئی د اوچت نه اوچت مقام، دغه حکمت وی، چې ذکر ئې په قران پاك کښې راغلے دے. نو د باطن د اعتبار او معتبری خبره به دلته پرېږدو. هما صاحب! سماج څۀ وی؟ بدلون څۀ وی؟ ادب څۀ وی؟ او د ادب مرام څۀ وی؟ .... په لنډه به د جديد دور په شا محرك عمل ځان ته وړاندې کړو، دغه عمل په انګرېزی کښې دانشورانو، په يو اتفاق داسې بيان کړے دے. Great Ideas That Move The Word (ستر نظريات چې دنيا له ئی، تحريك ورکړو) Secular (لادينی) او Rationalist (تعقل) لهذا عالمان تر ډېره حده په دې خبره متفق دی، چې د ډارون، مارکس او فرائيډ، نظرياتو سماجی ژوند ړق پړق کړے دے. او د نوی تهذيب او ثقافت په شا، محرك قوت دغه نظريات دی، وی به، خو دا درې واړه نظريات ښتا خبره چې يو مخيز دی. د سترو اخلاقی قدرونو او روحانی اسرارونو نه عاری دی. دغه وجه ده، چې انسان کۀ د مادی سائنس او ټيکنالوجی په برکت، د زمکې، اسمان د "اقطارونه" ددغې "سلطان" يعنی قوت په برکت بهر ته بوټ اووتلو، خو انسانيت په جبلی طور د حيوانيت د درجې نه، د انسانيت درجې ته، اونۀ رسېدو، انسان نۀ شو. د جديد دور تشدد، تخريب کاری، فساد، انتشار، ذهنی او روحانی پرېشانی، ورانی، خونخواری، خون فشانی، خونريزی، انسان د انسانيت د اشرف

المخلوقات، ددرجې نه راغورزوؤلے دے. چې د مادی او روحانی قوت توله، بې تولی شوې ده.

***هما: دا ټولی خبرې صحيح او درست دی. خو د ادب د کردار خبره لا نۀ ده شوې.***

**اياز داؤدزے:** دادب خبره دا ده، چې د جديد ادب ستر نقاد ټی. ايس. ايليټ په دې خبره زور ورکؤولو چې روحانيت ته رجوع د انسانيت د فلاح ايکی يوه ذريعه ده. هغه خپل معرکته الارا نظم Waste Land (شاړه مزکه) کښې وئيلی دی چې جديد انسان بس هسې د بوسو سخے دے.

د جديدې دنيا د پاره دWasteLands ، دٔ شاړې زمکې علامت استعمال شوے دے. ځکه چې د روحانی قدرونو، د ګل رېزه شادابی نه بی بخرې ده.

بل انګرېز نقاد ميتهيو آرنلډ، د کلچر (ثقافت) جوهر او ثمر Sweetness and LIght خواږۀ او رڼاګانې ګنی. نو په جديد دور کښې، چې د خوږو او رڼا څومره حاجت دے، هما جانه! بل هيڅ دور کښې شائد نۀ ؤ. ځکه چې نن د انسان په قبضه کښې يوازے د انسانيت نه، د ټول کائنات د تباهی وسلې موجود دی. نو دغه روحانی قوت، دغه خواږۀ او دغه رڼا، دغه خوشبو او ښکلا، ننی ژوند ته صرف او صرف ادب بخښلے شی. ستر امريکی شاعر، والټ وټمن، شاعر د قوم د ضمير آواز بللو او په کوم قام کښې چې ورته عظيم شاعر نه ښکارېدو نو هغه قام ئې ګونګ (بې صدا) ګڼلو. جانانه! ستر ادب کۀ نثری وی کۀ منظوم، بايد د قام د مسيحائی صدا وی چې قم باذن الله.

***هما: ستاسو د وينا له مخه کۀ قام هلو ضمير نۀ لرى نو بيا؟***

**اياز داؤدزے:** نو بيا دې الله پاك مل شى. د سماج د بدلون په حواله، د ادب د کردار په حقله ډېر څۀ وئيلے کېدے شى خو په ډېرو، وائى چې لېونى خوشحاليږى نو شېخ فريده. چپه خلۀ دې بهترى ده.

***هما: په مختصر ټکو کښې صرف هغه ادب په سماج کښې بدلون راوستے شى چى د باطن د بصيرت نه ئې رڼا اخستے وى او صرف او صرف په تعقل اډانه نۀ وى. اوس راته ووايئى چې د پښتو ادب د ليکونکو د دائرې نه اولسى حلقى ته ولې نۀ راکوزيږى.***

**اياز داؤدزے:** هما صاحب! دغه رنګ سوال ګران قمر راهى صاحب په خپلو نثرى ليکونو کښې، راپورته کړېدے. او جواب ئې هم ليکلے دے. د هغۀ د سوال لفظيات ستا د انداز بيان نه مختلف دى. خو مراد د دواړو يو دے. راهى صاحب وائى چې پښتو واحده ژبه ده چې ليکونکى او لوستونکى ئې يو دى. د هغۀ جلا لى جواب دا دے، "وجه ئې دا ده چې پښتو دوزخى ژبه ده". هغۀ دا جواب په استعاراتى ژبه کښې ليکلے دے. خو زۀ په ساده ژبه کښې وايم چې پښتنې معاشره کښې، په اولسى ډګر ادبى کلچر وده نۀ ده کړے. وجه ئې دا ده چې يو خوا د خواندګى تناسب ډېر کم دے، بله دا چې، چا په سکولونو کښې ليک لوست کړے دے. هغو ئې دغه زده کړه په اردو يا انګرېزى کښې کړې ده. څکه نو د پښتو د ليك لوست نه معذوره دى. کۀ چرې په سکولونو

کالجونو کښې پښتو ژبه ذريعه تعليم وي نو بيا به ډېرو خلقو پښتو لوستلی شوه او څۀ ادبي ذائقه به ئې تر خلې شوې. وه او چې دغه خوند ئې اخستلے وے، نو بيا به ئې پښتو په شوق لوستله. د ثور د انقلاب نه اګاهو په افغانستان کښې ذريعهٔ تعليم پښتو وه. د هغې نتيجه دا شوه چې تعليم يافته فارسي دانو، ازبکو، تاجکو او هزارؤ به هم په پښتو کښې خبرې کوؤلے. او لوستلې ئی هم شوه په دغه دوران کښې د افغانستان په معاشره کښې د پښتو ادبي کلچر ښۀ ترقی کړې وه او يو عام افغان به هم د پښتو ادب لوستو. استاد حمزه صاحب ددغې دورافغان تعليم يافته له د "نوې پښتون" نوم څکه ورکړے دے چې دغه پښتو کښې ادبي کلچر راټوکېدلے ؤ او لکه چې تاته معلومه ده، د کلچر جوهر خوارهٔ اورڼوی.

***هما: ستاسو خبره بالکل صحيح ده. دلته ما بازار کښې ريړی والـه، د دکانونو مخې ته ناست د مهاجرو مزدور کارو افغانانو په لاس کښې د پښتو رسالې او اخبارونه ليدلی دی.***

**اياز داؤدزے** : زما ذاتي تجربه هم دا ده، چې دلته په پښنډی کښې د افغانستان کوم نيم زالی عمر افغان، زما لاس کښې د پښتو کتاب يا مجله ووينې نو په حېرانتيا زما لاس ته ګوری، کله مخ ته، څنې رانه تپوس هم وکړی کوم کتاب دے؟ کومه مجله ده؟ دا ددې خبرې ثبوت دے چې د ثور انقلاب نه وړاندې د افغانستان معاشره کښې په لږه موده کښې پښتو ادبي کلچر ښۀ ترقی کړې وه.

***هما: تاسو په خپلو لیکونو کښې د پښتو ادب د انګرېزي د ادب سره مقابله کوئ دا تر کومه حده جواز لري؟***

**اياز داؤدزے** : هما صاحبه! كهٔ زما ليكونه ددې جواز په لټون كښې يو ځل بيا اولولے نو درته به معلومه شي چې ما په ډېرو كمو ليكونو كښې د انګرېزي ادب سره د پښتو ادب تقابلي جائزه اخستلې ده. او کوم ځائې چې ما تقابلي جائزه اخستلې ده، دا هغه ځايونه دي چې هغلته ئې جواز لرلو. دا چل ما د راهي صاحب منظوم ليكونو په ضمن كښې زيات ځکه کړے دے، چې د هغهٔ كلام د موضوعاتو، فضاء او جوړخت په لحاظ تر ډېره حده د مشرقي ادب په نسبت مغربي ادب ته نيزدې دے. تا به په خيره د ډاکټر چراغ حسين شاه جائزه لوستلےوي. هغه هم د راهي صاحب د كلام جائزه د انګريزي شاعري په رڼا کښې اخستلې ده. زلمے ليكوال فيصل فاران په خپله اردو تبصره كښې چې د كراچۍ په هفته وار اخبار روشن پاكستان كښې چاپ شوې ده، زما او د ډاکټر چراغ حسين شاه نه هم وړاندې تلے دے. نو دا خو هما صاحبه، د Perception د شعوري تاثر خبره ده. دداسي ليكونو جواز هم په دغې ليكونو كښې لټول ډېر ضروري دي.

***هما: د مثبت ليك يو اړخيز تاثر او د تنقيدي ستائينې په حقله د يو نقاد د رول (Roll) په بابله ستاسو څهٔ رائې ده؟ دا تپوس زهٔ تاسو نه په خصوصي توګه ځکه کوم چې تاسو د پښتو په ادبي نړۍ کښې دصنوبر حسين مهمند كاكاجي د وېنا د مخه د يو "بې آزاده" نقاد په حواله يو ځان له مقام لرئ***

*زما په نظر کښې د بی ازاره تنقید نه مراد د هغوئ ستاسو مثبت تنقیدی لیکونه دی.*

**ایاز داؤدزے** : مثبت لیکونه مثبت وی، اړخونه نهٔ لری. کهٔ قاری یا نقاد خپله یو اړخیز وی یا د چا لیکوال یا د شاعر په تخلیقاتو کښې په زور د نیوکی گنجائش راؤباسی او بیا دغه گنجائش په څهٔ کوټلے استناد هم بنیاد نهٔ وی نو داسې تاثر څهٔ ارزښت نهٔ لری. چتی کهٔ اسمان ته پښې اونیسی چې کهٔ راغورزیږی نو راتېنګ ئې کړی. نو دا هم د خندا خبره ده. تنقیدی ستائینه Critical Appreciation او تنقیدی قدرؤنه Critical Evaluation یا تنقیدی مطالعه Critical Study ، د تنقید معروفه څانګی دی. دا لازمی نهٔ ده چې د هر نقاد تاثر دې دوه اړخیزه وی. د تنقید په ضمن کښې چې ما کومې خبرې اګاهو اوکړے ، ستا ددې سوال جواب هم په هغې کښې موجود دے .

*هما : روان عصری ادب کښې ستاسو د خوښې صنف کوم دے. نثر کهٔ شاعری؟*

**ایاز داؤدزے** : دا حقیقت دے چې ما پخپله د نثر په نسبت شاعری کمه کړې ده. وجه ئې دا ده چې د ٦٢ - ١٩٥١ء په دوران کښې ما دا محسوسوله چې په پښتو کښې نثر کم او شاعری زیاته ده. پکار ده، چې نثر نګاری وده وکړی. په دغه جذبه ما نثر زیات لیکلے دے . اوس هم د نظم په نسبت زهٔ نثر زیات لیکم. ځکه چې شاعری زهٔ د خپلی مشغولا د پاره کؤم. او نثر د نورو د مشغولا د پاره لیکم. او د نورو غالبه تقاضا دا وی چې د هغوئ د مشغولا د

پاره نثر ولیکم. نثر د شعوری تاثر په رڼا کښې لیکم او شعر هله لیکم چې ځان راباندې پخپله لیکل غواړی، خو دغسې چرت په ما کله نا کله حاوی کیږی. هسې زما طبعی میلان د نثر په نسبت نظم ته زیات دے . نثر ستا خبره، چې یو مخیز وی. او نظم په "سل ژبو گویا" وی نو ځکه مې د نظم دغه معنویت زیات خوښ دے.

***هما: دا خو به منئ چې ما ستاسو په نفسیاتو د ځان پوهولو یو کوشش کړے دے. د "ایاز شناسی" بیخی دعویٰ خو نهٔ کوم خو ستاسو د لیکونو د مطالعې، ستاسو سره د ذهنی قربت، د شخصی نزدیکت، او ستاسو د یو عقیدت مند په حیثیت داسې محسوسوم چې زهٔ تر یو حده تاسو پیژنم. نو ستاسو د مثبت فکر او د هر چا په حقله د ښهٔ تاثر او په هر څهٔ کښې د ښهٔ نه د ښهٔ لټون د یو تعمیری سوچ د پاسه تاسو نه دا تپوس، چې په موجوده وخت کښې ستاسو د ټولو نه ناخوښ قلمکار څوك دے، څهٔ عجیبه شان لگی.***

**اياز داؤدزے:** کهٔ قلمکار ریښتونے قلمکار وی نو د هغهٔ د ناخوښی خو هډو سوال نهٔ پیدا کیږی. او کهٔ سوچه نهٔ وی، جوړه وی، نو بیا داسې قلمکار هډو زهٔ قلمکار نهٔ گنړم. د اردو یو شاعر هم ستا ددې سوال جواب داسې ورکړے دے .

کچھ تو ھے بات که تحریروں میں تاثیر نهیں
جھوٹے فنکار نهیں هیں تو قلم جھوٹے هیں

***هما: ستاسو ډېره ډېره مننه. چې تاسو زما د ځنو نامناسبه***

***سوالونو هم مناسب جواب راکړو. دا ستاسو د ادبي شخصيت د لټون يوه هڅه وه. خدائے دې کړي چې زهٔ پکښې کامياب شوے يم.***

**اياز داؤدزے**: ګرانه هما.صاحبه! زهٔ بختور يم چې ستا غوندې مهربان مې هم دوست دے او هم د وينې خپلولي ورسره لرم. ما د راهي صاحب نه هم ډېره زده کړه کړې ده. تاسو دواړو چې پخپلو نثري او منظومو ليکونو کښې ماسره د کومې زختې مينې اظهار کړے دے، نو زهٔ وايم، څهٔ به ښهٔ وي کهٔ زهٔ هم دغسې وې. ځنګه چې تاسو دواړو ته منعکس کېږم. زهٔ د دواړو مننه کوم چې خپل ستر شخصيتونه درته زما څهره کښې ځانونه ښائي او د ستر حمزه صاحب خلانده روح ته د احترام سلام وړاندې کؤم چې په کچه عمر کښې ئې زما ذهني او روحاني تربيت کړے دے. جانانه ډېره ډېره مننه.

PROPERTY OF ACKU 10172

## د ښتني يون چاپ شوي خپرونې (آثار)

- محمودنامه
- هوتکنامه
- مهاجرنامه
- پښتو نوموښود
- حاجي ميرويس خان نيکه
- ناچله ولسکيزه
- د ژوند لار
- ارغند د څپو ژبه
- تواريخ پښتون، افغان افغانستان.
- که په ميوند کې شهيد نه شوې
- عامې ناروغۍ او درملنې
- پخوا او نن — لومړۍ برخه
- پخوا او نن — دويمه برخه
- پخوا او نن — درېيمه برخه
- ويوې او وراشې
- د افغان ملي شعور دغدوخه
- پښتو اويسا ويښود
- د دوستۍ لار
- پاڼه ورژېده — ناول
- ... و هر چا ته په خپل شکل څرګند ېږم
- سندارا اوسندرې



خپرندوی: پښتو یون